خراسان غږ

وَعَدَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِينَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِينَ فِيهَا هِىَ حَسْبُهُمْ وَلَعَنَهُمُ اللّٰهُ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ

الله ددې منافقانو نارينه او ښځو او د کافرانو لپاره د دوږخ د اور وعـــده کړېده، چې په هغه کښې به دوی تل اوسيږي،هماغه د دوی لپاره مناسب دی. پر دوی الله لعنت کړي دی او د دوی لپاره نه ختمېدونکی عذاب دی.

[سُورَةُ التوبة : 68]

خراسان غږ 17 اووه لسمه گڼه / شنبه 6 رجب 1444هـ

خراسان غږ پنځلس ورځنۍ مجله العزائم خپرندويه اداره يې وړاندې کوي

د ملل ملحده امارت

آه! زما شرقي ترکستانه!

اروپا! انتظار کوه!

فولادي کمر

د الله حد او د طالبانو بد

طالبان د کفري استخباراتو نيابتي جګړه ماران

طالبان د پلک او سندان په منځ کې

د حق محک

مؤسسة العزائم الإعلامية
يې وړاندې کوي

خراسان غږ مجله 17 مه گڼه
رجب 1444 هـ

سرليک

ديني برخه

سوال ځواب 75
خلافت پېژندنه 07

سياسي برخه

اعدامونه او چاپې د حق غږ نه شي خپ کولای او نه هم په خراسان ولايت کې د جهاد رڼا بندولی شي 03
اروپا انتظار کوه 13
طالبان د کفري استخباراتو نيابتي جګړه ماران 21
د هغه چا انجام چې د مسلمانانو پر خلاف د کفارو څخه مرسته غواړي 27
د حق محک 30
د ملل ملحده امارت 34
طالبان د پلک او سندان په منځ کې 45
د الله حد او د طالبانو بد 49
شرقي ترکستان د اسلامي وجود زخمي ټوټه 56

ادبي برخه

فولادي کمر مقداد استاذ 71

خبري برخه

انفوګراپيک 79

خراسان د مرتدينو مقبره 80

اعدامونه او چاپې د حق غږ نه شي خپ کولای او نه هم په خراسان ولایت کې د جهاد رڼا بندولی شي

الحمدلله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه أجمعين وبعد:

په خراسان ولایت کې د طالبانو مجرمې او ظالمې ادارې د اسلامي دولت یو شمېر بندي مجاهدین او مناصرین اعدام کړل، دا له دې وجې تر څو د دوحې په تړون کې دوی ته د امریکایي بادارانو له لوري ورکړل شوې پرېکړې عملي کړي، امریکایان د اسلامي دولت سره له مخامخ کېدو عاجز شول، مګر حکومت یې خپلو لاسپوڅو ته د دې لپاره وسپاره چې د مجاهدینو سره جګړه وکړي.

د طالبانو مجرمه قبوري طائفه د مجاهدینو او جهاد سرسخت دښمنان دي، د مسلمانو بندیانو په حق کې یې دا لومړی ظلم نه دی چې دوی یې تر سره کوي، بلکې له دې وړاندې یې هم ډېری مؤمنان او مجاهدین وژلي، شکنجه کړي، او له سیمو شړلي دي.

دغه ګمراه ډله دې دا ګومان نه کوي چې دا جرمونه به د اسلامي دولت د اتلو مجاهدینو په نفسونو کې د جهاد روحیه کمزورې کړي.

امریکایانو ته تسلیم شوي طالب ګمراهان که له یوه لوري د مؤمنانو او مؤحدینو په حق کې دا جرمونه او ظلمونه کوي، هم مهاله کفارو، فاسقانو او کمونیستانو ته چیغې وهي چې افغانستان تاسې ټولو لپاره د امن او پانګونې کور دی، په داسې حال کې د بیزوګانو او خنزیرانو بچیان، یهود او نصارا په هلمند او کندهار کې چکرې وهي؛ خو د توحید عقیدې لرونکي نه شي کولی چې دغه مرتدې ډلې د پابندیو له وجې حتی په هیواد کې آزاد وګرځي.

مونږ وایو: قسم په الله هر ګز به دا مجرمه او ګمراه ډله، د دوې جواسیس، او ملاتړي ونه توانېږي چې په مؤحدینو او مجاهدینو کې د جهاد رڼا ووژني، هغه مجاهدین چې د سختو تکالیفو، مصیبتونو، شکنجو، نیونو او تعذیبونو باوجود هم په دې راضي نه دي او نه به راضي شي چې د مسلمانانو په خاوره کې د قبرپرستانو واک وي.

د طالبانو هغه بلعامي درباریانو ته وایو، کومو چې د بندیو مجاهدینو د وژلو فتوی ورکړې، قسم په الله د مجاهدینو له ضربو او ماشیندارو به نجات ونه مومئ او د خپل ګمراه شیخ "رحیم الله" څخه عبرت واخلئ، هغه چې د مجاهدو بندیانو د وژلو فتوی به یې ورکوله، الله عزوجل په خپل دفتر کې د استشهادي ورور په واسطه هلاک کړ، چې د بدن د غوښو له ځینو ټوټو مو نور هیڅ ونه موندل او د هډونو غوښې یې په دیوالونو پورې نښتې وې.

هو!

قبر پرست طالبان، د هغوی ملاتړي او بادارانو دې پوه شي چې دوی د خراسان په ولایت کې د جهاد رڼا نه شي مړه کولای، او وبه نه شي کړای چې دا د ظلم او کفر حکومت په مجاهدینو او مؤحدینو واکمن کړي، که هر څومره جرمونه او وحشتونه وکړي، وژل، نیول او شکنجې ورکول وکړي او که د مؤحدینو په کورونو چاپې ووهي، ځکه مجاهدین په دې ډېر ښه پوهېږي چې وژل کېدل، نیول کېدل، ټپي کېدل او شهادت د جهاد په لاره کې هرو مرو وي، نه دا کارونه د مجاهدینو فعالیتونه ټکني کولای شي، بلکې د د دغې مرتدې ډلې له لوري د مجاهدینو شهیدانول او د بندیانو اعدامول د مجاهدینو فعالیتونه نور هم زیاتوي او د دغه خائنینو پر ضد د خراسان ولایت په لر او بر کې د انتقامي عملیاتو ګراف لوړېږي.

ژر ده چې د جهاد دا تور عقابي بیرغ به د خراسان ولایت په ټولو خواوو کې هسک وي، هغه ولایت چې د تاریخ په اوږدو کې د انګلیسانو، روسانو، امریکایانو په هدیره مشهور دی او تل یې د مرتدینو دبدبه دړې وړې کړې ده.

نو ای خلکو تاسې په یو حقیقت پوه شئ،

هغه دا چې اسلامي دولت له الله پرته هیڅ زور او قوت نه لري.

اسلامي دولت د شمېر او تیاري له وجې نه بریالی کېږي او نه د وسلې او مال له وجې، بلکې اسلامي دولت د یو الله تعالی په فضل په هغې عقیدې سره بری مومي چې په کلا یې ټول شبهات ریز مریز شول او ټول تهمتونه رابرسېره شول، اسلامي دولت په دې بری مومي چې مجاهدین یې د الله تعالی په نصرت ایمان او باور لري: {الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ ★ فَانقَلَبُوا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ وَاتَّبَعُوا رِضْوَانَ اللَّهِ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ} [آل عمران: 173 - 174].

ژباړه: «هغه کسان چې خلکو (منافقانو)ورته وویل: "ستاسې پر خلاف لویې لښکرې راغونډې شویدي، له هغو څخه ووېرېږئ."- نو ددې په اورېدو یې نور هم ایمان پیاوړی شو او هغو (مؤمنانو)ځواب ورکړ چې زموږ لپاره الله کافي دی او هماغه ډېر ښه کار جوړوونکی دی، په پای کې هغوی د الله تعالی له نعمت او لورینې سره بېرته ستانه شول، هیڅ راز زیان هم ورته ونه رسېدی او د الله له خوښې سره سم یې د تګ کولو مرتبه هم وموندله. الله ډېر ستر لوروونکی دی.»

اسلامي دولت د مجاهدینو په ربښتینولۍ سره بری مومي: {الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ} [الحج: 41].

ژباړه: «دا هغه کسان دي چې که موږ دوی ته په ځمکه کې قدرت ورکړو، نو لمونځ به قایم کړي، زکات به ورکړي، په ښو چارو به امر وکړي او له بدیو څخه به منع وکړي. او د ټولو چارو پای د الله په لاس کې دی.»

اسلامي دولت د مجاهدینو او د دې دولت د بچیو په قربانیو سره بری مومي: {الَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِلَّهِ وَالرَّسُولِ مِن بَعْدِ مَا أَصَابَهُمُ الْقَرْحُ}

[آل عمـران : 172]
ژبـاړه: «هغـه کسـان چـې د اللـه او د رسـول خـبره يـې ومنلـه، وروسـته لـه هغـې چـې زخـم ورتـه رسـېدلی و»
زخمونـو وانـه ړول، چاپـو ونـه ډار کـړل، زندانونـو بـدل نـه کـړل، د وژل کېدلـو، شـړل کېـدو، لـړوالي او د خلکـو د بـې ننګـۍ پـروا يـې ونـه کـړه، پـه ولـړه، نقصـان، محرومېدلـو يـې کلونـه، مياشـتې او ورځـې صبر وکـړ، کلـک پاتـې شـول، صبر يـې وکـړ، پـه زندانونـو کـې، پـه کورونـو کـې، پـه ځمکتلونـو کـې، پـه غرونـو، پـه ځوړونو کـې او دښـتو کـې يـې صبر وکـړ، څـه پوهېـږئ دښـته څـه ده؟ سـوځونکې وي او سرپنـاه هـم نـه وي.
دولـت بـه بـرى مومـي ځکـه، لکـه څنګـه چـې د دې دولـت امير أبـو عمر -رحمـه اللـه- ويـلي:
دولـت بـه بـرى مومـي، ځکـه دا د شـهيدانو لـه هډونـو جـوړ شـوی، د هغـوی پـه وينـو خـړوب شـوی او پـه دې د جنـت بـازار منعقـد شـوی.
بـرى بـه مومـي، ځکـه پـه دې جهـاد کـې د اللـه توفيـق پـه آسـمان کـې د موجـود لمـر څخـه هـم ډيـر ښـکاره دی.
بـرى بـه مومـي، ځکـه ددې دولـت لاس پـه حـرام کسـب او ګـډوډ منهـج کـې نـه دی ککـړ شـوی.
بـرى بـه مومـي، د هغـو مشرانـو پـه ريښـتينولۍ چـې خپلـې وينـې يـې قربـان کـړې او د هغـه مجاهدينـو پـه ريښـتينولۍ چـې دا دولـت يـې پـه خپلـو متـو ودراوه -نحسـبهم واللـه حسـيبهم-.
بـرى بـه مومـي، ځکـه دا د مجاهدينو د يوځـای والي مرکـز او د کمـزورو او بېوسـه پناهـګاه ده.
بـرى بـه مومـي، ځکـه اسـلام يِی‌لوړيـږي او اوچتيـږي، وريځـو بارانونـه شروع کـړل او د کفـر ټوټـه کېـدل او شرمېـدل شروع شـول.
بـرى بـه مومـى، ځکـه دا د مظلـوم دعـا ده، د بـورو ميندو اوښـکه ده، د بنديانـو فريـاد دی او د يتيمانـو اميد دی.
بـرى بـه مومـي، ځکـه کفـر پـه ټولـو رنګونـو او ډلـو سره د دې دولـت پـر ضـد راجمـع شـوی، هـر خواهـش پرسـت، بدعتـي، ذليلـه، او بزدلـه پسـې رد بـد وايـي، نـو زمونـږ يقيـن نـور هـم زيـات شـو چـې هـدف مـو ريښـتينی او لاره سـمه ده.
بـرى بـه مومـي، ځکـه زمونـږ دا يقيـن دی چـې اللـه تعالـی د کمـزورو مؤحدينـو زړونـه نـه ماتـوي، او نـه بـه پـر مونـږ ظـالم قـوم خوشـاله کـړي.
بـرى بـه مومـي، ځکـه اللـه تعالـی پـه خپـل عظيـم کتـاب کـې وعـده کـړې ده، فرمايـي: {وَعَـدَ اللَّـهُ الَّذِيـنَ ءَامَنُـوا مِنكُـمْ وَعَمِلُـوا الصَّـٰلِحَـٰتِ لَيَسْـتَخْلِفَنَّهُمْ فِى الْأَرْضِ كَـمَا اسْـتَخْلَفَ الَّذِيـنَ مِـن قَبْلِهِـمْ وَلَيُمَكِّنَـنَّ لَهُـمْ دِينَهُـمُ الَّـذِى ارْتَـضَىٰ لَهُـمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُـم مِّـن بَعْـدِ خَوْفِهِـمْ أَمْنًـا يَعْبُدُونَنِـى لَا يُشْرِكُـونَ بِى شَيْـًٔـا وَمَـن كَفَـرَ بَعْـدَ ذَٰلِـكَ فَأُولَـٰٓئِـكَ هُـمُ الْفَٰسِـقُونَ} [النـور: 55].
ژبـاړه: «اللـه ستاسـو د هغـو کسـانو سره چـې ايمـان راوړي او ښـه عملونـه وکـړي، وعـده کـړې ده چـې هغـوی پـه ځمکـه کښـې هماغـه شـان خليفـه ګان وګرځـوي لکـه چـې لـه هغـو څخـه مخکـې تېـر شـوي خلـك يـې ګرځـولي ول. د هغـو لپـاره بـه هغـه ديـن پـر محکمـو بنسـټونو ودروي چـې اللـه تعـالىٰ ورتـه خـوښ کـړی دی. او د هغـو د ويـرې)اوسـنی(حالـت بـه پـه امـن ورتـه بـدل کـړي. هغـوی دې زما بندګـي کـوي او زمـا سره دې کـوم شـی نـه شريکـوي. او څـوك چـې لـه دې وروسـته کفـر غـوره کـړي، نـو همداسـې کسـان فاسـقان دي.»
دا حقيقت دی!

نو ای د دولت بچيانو...

ای د دولـت لښـکرو... ای پـه هـر ځـای کـې د دولـت مناصرينـو، همېشـه پـه يـاد ولـرئ او پوهـه شـئ چـې دا بريـا او هـره بلـه بريـا يـوازې د اللـه لـه لـوري ده، دا پـر تاسـې د اللـه فضـل او احسـان دی، تاسـې او ستاسـې دولـت نـه زور لـري او نـه قـوت، ټـول زور او قـوت د اللـه دی.
همېشـه خپلـه کمـزوري او کـم چلونـه دريـاد کـړئ، تـل اللـه تـه عاجـزي کـوئ، د هغـه پـه بنـده ګانـو ځـان لـوی مـه ګڼـئ، ځـان وسـاتئ ځـان وسـاتئ لـه دې چـې غـرور او خـود پسـندي در کـې پيـدا شي.
لـه تېـرو درسـونو زده کـړه وکـړئ، ځکـه هغـوی چـې اللـه تبـارک وتعالـی پـرې د فتحـې لورينـه کـړې وه، خـو پـه هغـوی کـې خـود پسـندي او غـرور پيدا شـو، نـو اللـه تعالـی عـذاب، شکسـت او لـوی تکليفونـه ورکـړل.
اللـه تعالـی فرمايـي: {أَوَلَـمَّآ أَصَٰبَتْكُـم مُّصِيبَـةٌ قَـدْ أَصَبْتُـم مِّثْلَيْهَـا قُلْتُـمْ أَنَّىٰ هَـٰذَا قُلْ هُـوَ مِنْ عِنـدِ أَنفُسِـكُمْ إِنَّ اللَّـهَ عَـلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيـرٌ} [آل عمـران: 165].
ژبـاړه: «او دا تـاسې څـه کـوئ، چـې کله پـه کـوم کـړاؤ اختـه شـئ؛ نـو پـه دې خبرو خولـه پرانيـزئ چـې دا مصيبـت (پـه أُحـد کـې) لـه کـوم لـوري راغـی؟ - پـه داسـې حـال کـې چـې (د بـدر پـه جګـړه کـې) ستاسـې لاسـونو ددې دوه برابـره مصيبـت (د دښـمن ډلې تـه) رسـولی دی. [اې پيغمـبره!] دوی تـه وواپـه: ”دا مصيبـت پـه خپلـه ستاسـې لـه خـوا منـځ تـه راوړل شـويدی. اللـه پـر هـر څـه برلاسـی دی.“»
اللـه تعالـی فرمايـي: {مَّـآ أَصَابَـكَ مِـنْ حَسَـنَةٍ فَمِـنَ اللَّـهِ وَمَـآ أَصَابَـكَ مِـن سَـيِّئَةٍ فَمِـن نَّفْسِـكَ } [النسـاء: 79].
ژبـاړه: «اې انسـانه! تـا تـه چـې هـره ښـېګڼه رسـيږي د اللـه پـه پېرزوېنـه رسـيږي. او پـه کـوم غـم چـې اختـه کېـږې، هغـه سـتا د خپلـو کړنـو لـه املـه دی.»
اللـه تعالـی فرمايـي: {وَيَـوْمَ حُنَـيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُـمْ كَثْرَتُكُـمْ فَلَـمْ تُغْـنِ عَنكُمْ شَيْـًٔـا وَضَاقَـتْ عَلَيْكُـمُ الْأَرْضُ بِمَـا رَحُبَـتْ ثُـمَّ وَلَّيْتُـم مُّدْبِرِيـنَ} [التوبـة: 25]
ژبـاړه: «او اوس د حُنيـن د غـزا پـه ورځ (بـه تاسـې د هغـه ملاتـړ ليـدلی وي) پـه دې ورځ تاسـې د خپـل شـمېر پـه زياتـوالي غـره وئ، خـو هغـه ستاسـې هيـڅ پـه کار رانغـی او ځمکـه لـه خپـل پراخـوالي سره سره پـر تاسـې تنګـه شـوه او تاسـې شـا واړوله، وتښـتېدئ.»
نـو د ”لا حـول ولا قـوة الا باللـه“ ذکـر ډيـر کـوئ، لـه زور او قـوت څخـه بېزاره شـئ د اللـه زور او قـوت تـه تسـليم شـئ، نيتونـه مـو تـازه کـړئ او تـل پـر اللـه تعالـی تـوکل وکـړئ.

پـه خراسـان ولايـت کـې خپـل اهـل او مجاهدينـو تـه وايـو:

دا د اللـه سـبحانه وتعالـی طريقـه ده چـې د مؤمنانـو آزمايښـت کـوي، دا آزمايښـت د دوی د مرتبـو د لـوړوالي هومـره وي، د دې لپـاره چـې سـم پـاک شي او ادب ورتـه ورکـړي، نـو پـه دې سره د غښـتليو ايمانونـو، پاکو نفسـونو او سـختو راګرځېدلـو والا وګرځـي، بيـا د دې اهـل شي چـې د اللـه لـه لـوري پـه غـوره مؤمنانـو کـې حسـاب شي، پـه دې وخـت کـې بيـا د درنـو امانتونـو پورتـه کـول ورتـه آسـانه شي، د سـختو مسـؤليتونو سره د مخامـخ کېـدو قـدرت پـه کـې پيـدا شي، يقينـا اللـه تعالـی د ”غـوره کولـو“ ډالـۍ د آزمايښـت لـه سـنت سره تړلـې ده، پـه دغـو آزمايښـتونو د صبرکوونکـو بنـده ګانـو لپـاره ثبـات راوسـتونکي عوامـل، رنـې تـګلارې او ښـکلې وعـدې دي، اللـه تعالـی آزمايښـتونه پـه ډيـری آياتونـو کـې ذکـر کـړي، فرمايـي: {الَّـذِى خَلَـقَ الْمَـوْتَ وَالْحَيَـوٰةَ لِيَبْلُوَكُـمْ أَيُّكُـمْ أَحْسَـنُ عَمَـلًا وَهُـوَ الْعَزِيـزُ الْغَفُـورُ} [الملـك: 2]
ژبـاړه: «هغـه ذَات چـې مـرګ او ژونـد يـې پيـدا کـړ، تـر څـو چـې تاسـې وازمايـي، وګـوري چـې ستاسـې څخـه کـوم يـو ډېـر ښـه عمـل کوونـکی دی. او

هغه زورور هم دی او بښونکی هم.»

په حدیث کې راغلي: مصعب بن سعد نه روایت دی، هغه له خپل پلار څخه روایت کوي، فرمايي: ما وويل: ای د الله رسوله، په کومو خلکو ډير سخت مصيبتونه راځي؟ هغه وفرمايل: (په انبياوو، بيا چې هغوی ته نږدې وي، بيا چې هغوی ته نږدې وي، يو سړی د دين په مقدار آزمايښت کې اچول کېږي، که چيرې په دين کې سخت و، ازمايښت يې هم سخت وي، او که دين کې نرم و نو د دين په مقدار ازمويل کېږي، يو بنده همېشه په آزمايښت کې وي، تر دې چې آزمايښت يې ختم شي او دا سړی په ځمکه ګرځي، هيڅ ګناه پرې نه وي) [سنن الترمذي].

په دې کې شک نشته او مونږ ټولو ته دا پته ده چې کوم څه چې د مسلمانانو ټولي ته د أبي طالب په دره کې ورسېدل، ولږه، کلابندي، درد، سرګرداني... د مسلمانانو حال ډير بد و چې تعبير يې ګران دی، بدنونه کمزوري شول، زړونه ويلي شول، خيټو قرقر اوازونه شروع کړل، ګردې له اوبو خالي شوې، ماشومان چيغې وهې، سپين ږيري سلګۍ وهې، ناروغان له درده اوږې راوړې او ښځې او سړي سرګردانه دي، نو دا په عام ډول د مسلمانانو د ټولي او په ځانګړي ډول د رسول الله ﷺ لومړی عملي تجربه وه، دې کلابندۍ درې کاله دوام وکړ، ولږې له مسلمانانو لاره داسې ورکه کړه چې تصديق يې نه شي کېدای، تاسې په دې کلابندۍ کې د يو کلابند صحابي دريغ وګورئ، شايد دا حالت ښه تصوير کړئ، سعد بن أبي وقاص فرمايي: يوه شپه راووتم چې حاجت مې پوره کړم، د متيازو لاندې مې کړپار واوريد، هغه ځای مې راوکنه، ګورم د اوښ د څرمنې يوه وچه ټوکره ده، نو هغه مې راواخيسته، ومې وينځله، بيا مې نجوړ کړه، نو د اوبو سره مې تر دريو ورځو پورې خوړله او ځان مې پرې قوي کاوه، دا کيسه زمونږ د تسليت لپاره بسنه کوي، په هغو مصيبتونو او تکليفونو چې روان دي، په امتحان د مسلمان د قوت يو عامل دا هم دی چې امتحان ته په دې نظر وګوري چې ده ته يکې ادب ورکول او د ده د نفس اهلي کول دي، د آزمايښت په لاره دې مزل ته دوام ورکوي،

بله نا آشنا کيسه، د الله د ورځو نه يوه ورځ چې د احزابو ورځ وه، دا ورځ الله تعالی د سخت امتحان لپاره يو مثال ګرځولې، الله سبحانه وتعالی په کې د مؤمنانو حال بيانوي: {هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُونَ وَزُلْزِلُوا زِلْزَالًا شَدِيدًا} [الأحزاب: 11]

ژباړه: «په هغه وخت کې مؤمنان ښه وازمايل شول او سخت ولړزول شول.»

په دې موقف کې آزمايښتونو ډيری بڼې درلودې، لکه: د قوت کمزوري، کلابندي، ولږه، د ملاتړو خيانت، د بنديانو وژل او د دښمن له لوري د مجاهدينو په کورونو چاپې، د دې سر بېره د مسلمانانو د اوسېدو جغرافيه هم بيخي راتنګه شوه، پر مسلمانانو آزمايښت خپل وروستي حد ته ورسېد، مؤمنې ډلې دا درک کړه چې دوی داسې حال کې دي چې دوی له هغو خلکو جدا کوي چې تش په خوله د ايمان دعوه لري، په ورته وخت کې منافقينو رزالت شروع کړ، بې ننګي يې وکړه او د مسلمانانو په صفونو کې يې ارجاف خپراوه، او نن ورځ د پرون سره څومره ورته ده! مګر مؤمنانو له دې ويلو پرته څه نه ويل، لکه څنګه چې په دې قول د الله تعالی کې دي: {وَلَمَّا رَءَا الْمُؤْمِنُونَ الْأَحْزَابَ قَالُوا هَٰذَا مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّا إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا} [الأحزاب: 22]

ژباړه: «او د رښتينو مؤمنانو (حال په هغه وخت کې دا ؤ) چې کله يې يرغلګر ولېدل، نو ويې ويل: "دا هماغه څه دي چې الله او د هغه رسول زمونږ سره د هغه وعده کړې وه. د الله او د هغه د رسول خبره بيخي رښتيا وه." - دغې پيښې د هغو ايمان او غاړه ايښودل لا زيات کړل.»

آزمايښت او ډالۍ

دلته غوره بنده ګانو ته د ډالۍ

وخت شروع کېږي، الله تعالی خپل بنده ګان په داسې لښکرو سره عزتمند کوي چې د دوی فکر کې هم نه ګرځي، د الله ساتنه روښانه ده، که د جګړې په ختمولو کې د توري اواز نه و، خو د الله لښکر (باد) هر لور ته ګرځېده، خيمې يې له بيخه ويستلې او کټوی يې اړولې او د کفارو ټولې يې تيت پرک کول، تر څو د تلې پله د مسلمانانو په ګټه شي، او څنګه به وي؟! الله تعالی له آزمايښت وروسته دا غوره کول په ګڼو آياتونو کې ذکر کړي چې په آزمايښت د صبر پايله ده، الله تعالی فرمايي: {ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا...} [فاطر:32].

ژباړه: «بيا مونږ په ميراث کې دا کتاب هغه چاته ورکړ چې په بنده ګانو کې مونږ غوره کړي و..»

نصرت د الله له لوري دی، د آزمايښت تر ټولو سخته بڼه د دښمن له لوري کمزوري کول دي، ممکن دښمن دې دومره امکانات او اسباب ولري چې ورسره جنګ او يا يې په مخ کې ودريدل بيخي ناممکن برېښي، او دا په هره زمانه کې تقريبا د مؤمنانو حال دی، الله تعالی مونږ ته د هغو مؤمنانو حال بيان کړی چې په تېرو زمانو کې د دښمن له لوري کمزوري ګڼل کېدل، الله تعالی فرمايي: {إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً مِنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَاءَهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ} [القصص: 4].

ژباړه: «خبره دا ده چې فرعون په ځمکه کې سرکښي وکړه او د هغې اوسېدونکي يې په ډلو ووېشل. له هغو څخه يوه ډله يې ذليله کوله، د هغو هلکان يې وژل او انجونې يې ژوندۍ پرېښودلې. په واقع کې هغه له فساد کوونکو څخه ؤ.»

دلته مونږ وينو چې د فرعون له لوري د دې ډلې کمزوري کول د آزمايښت له مخونو يو مخ دی، د دې ډلې لپاره د فرعون خلاف ودريدو هيڅ امکان نه و، د ځمکې اسباب قطع شوي و او دا ډله له ټولو امکاناتو خالي کړای شوې وه، په داسې حالاتو کې له صبر او صفاوالي وروسته د نجات او غوره والي دور راځي، الله تعالی فرمايي: {وَنُرِيدُ أَنْ نَمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُمْ مَا كَانُوا يَحْذَرُونَ} [القصص: 5 - 6]

ژباړه: «او مونږ دا اراده درلودله چې پر هغو خلکو چې په ځمکه کې ذليل ګرځول شوي ول مهرباني وکړو، رهبران يې وګرځوو او هماغوی وارثان وګرځوو. او په ځمکه کې حکومت ورکړو او له هغو څخه به فرعون، هامان او د هغو لښکرو ته همغه څه وروښيو چې له هغو سره يې وېره وه.»

دغه شان لوريني، غوره والی، امامت، وراثت او تمکين ټول راځي سره د دې چې دښمن هم هلاک او له پښو لاندې شي، دې باره کې إمام ابن القيم رحمه الله نه تېوس وشو: "چې په انبياوو د آزمايښتونو حکمت څه شی دی؟ هغه ورته وويل: الله سبحانه وتعالی لکه څنګه چې د انبياوو ساتنه، حفاظت، حمايت او ورسره دوستي کوي، نو څنګه يې چې خوښه شي د کفارو له لوري په تکليف رسولو يې ازمايي، تر څو دوی د خپل کرامت د کمال درجې ته ورسېږي او له دوی وروسته امتونو او خلفاء په دوی سره تسلي ترلاسه کړي، کله چې د خلکو له لوري ورته ضرر ورسي، نو دوی د انبياوو او رسولانو حال ته ګوري، صبر کوي، راضي کېږي او په انبياوو تسليت حاصلوي او له دې وجې چې د کفارو پيمانه ډکه شي او هغه ژر عذاب، درد او عقوبت چې ورته الله تيار کړی هغه ځان ته واجب کړي، الله يې د دوی د سرکښی او دښمنی په وجه هلاک کړي او د ځمکې مخ ترې خالي کړي. بل ځای فرمايي: که غواړې پر بنده ګانو د الله له لوري د آزمايښت په حکمت کې فکر وکړې، نو وګوره چې امتحانونو دوی څومره پاک کړل، څومره لوړو هدفونو ته يې ورسول او هغو ځايونو ته لاړل چې د آزمايښت او امتحان پر پله له تېريدو پرته بله لار نه وه، دا آزمايښت او امتحان د دوی په حق کې يو عزت دی، بڼه يې د امتحان او آزمايښت په څېر ده خو باطن يې رحمت او احسان دی، وګورئ څومره لوی نعمتونه او غټ احسانات د ازمايښت له ګلانو څخه راټوکېږي".

له دې ټولو وروسته په خراسان ولايت کې په هر مسلمان، مؤحد، مجاهد چې د الله په ربوبيت، د اسلام په دين او د محمد صلی الله عليه وسلم په نبوت او رسالت راضي وی، واجب ده چې په دې کې ورته شک پرېنوځي چې ولې نن هغه خلک کوم چې په نبوي تګلاره روان دي، کلابند دي، مات دي، کمزوري دي او سامانونه نه لري، دا خو د الله له لوري امتحان دی او دا د الله د ورځو څخه څه ورځې دي، په کار ده چې الله تعالی له هر مؤمن څخه هغه څه وګوري چې هغه يې خوښوي، لکه: صبر، د ثواب نيت لرل، ايمان او غاړه ايښودنه، ځان به د ارجاف له ګنډګيو لرې او پورته کوي، هر هغه څه به نه بيانوي چې د ده غوږونه يې اوري او ځان ته به تسليت ورکوي: {وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا}[الطور:48]

ژباړه: «د خپل رب د فيصلې راتګ ته انتظار وکړه او يقينا ته زمونږ د نظر لاندې يې»

پوهه شه چې د الله وعده حقه ده، د کفارو او قبوري وطني طالبانو هلاکت نږدې دی بإذن الله، الله تعالی د دين نصرت کوي، يا زمونږ په واسطه او يا د نورو په واسطه، او بايد د الله تعالی شکر وباسو چې الله تعالی مونږ له آزمايښت وړاندې غوره کړو، مونږ ته يې مسلمان ګرځولو سره په ډېر مخلوق فضيلت را په برخه کړ، د مؤحدينو له منځ يې مونږ رابېل کړو، تر څو د دين په دفاع کې ودريږو او بيا يې رابانديې احسان وکړ چې په دې ټولو سختيو او مصيبتونو کې يې مونږ ثابت قدم وساتلو، داسې سختی چې ډېری خلک په کې وښوئيدل، اوس يوازې دا پاتې چې مونږ د الله وعدو ته منتظر شو او د خپلو نيکانو سلفو په پلونو روان شو، بايد هېر نه کړو چې زمونږ اعمال د قبلېدو او واپس کېدو ترمنځ دي، مونږ بايد تل له الله تعالی سره ريښتيني اوسو، او له الله تعالی وغواړو چې زمونږ نيک اعمال قبول کړي او زمونږ بد اعمال راته معاف کړي، نو دغه وخت مونږ د الله د غوره والي لايق يو، نو ټوله ثناء او ستاينه هغه ذات لره ده چې آزمايښت او امتحان کوي او ټوله ثناء او ستاينه هغه ذات لره ده چې غوره کول او قدرت ورکول کوي، وآخر دعوانا أن الحمدلله رب العالمين.

باقية وتتمدد رغم أنوف القبورية الهالكة

باقية بإذن الله تعالى رغم أنوف الطالبان الوطنية

خلافت پیژندنه

دريم قسط

الله تعالى فرمايي

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا
الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا
اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ
دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ
خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا
وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ.

سورة النور؛ 55

خلافت پېژندنه

۳

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا، وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلى يَومِ الدِّينِ أَمَّا بَعْدُ ؛

قال الله تعالى: وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ. سورة النور؛ ٥٥

مسلمانانو ورونو! موږ د خلافت د پېژندنې په اړه درس شروع کړې ؤ مخکې درس کې د خلافت مقاصد مختصر ذکر شول وس د خلافت په اړه بعضې نور مسائل ذکر کوو بـإذن الله.

اول « خلافت او امارت فرق.

دويم « د خليفه نومونه .

دريم « د خليفه شرطونه يا په بل اعتبار سره ويلى شو چې څوک خليفه کيدلى شي؟

خلافت او امارت فرق

امارت په دوه قسمه دی يو ته امارت عامه وايي او بل ته امارت خاصه وايي ـ امارت عامه دی ته وايي چې د يو ملک يا علاقې د مسلمانانو مشرۍ پورې منحصر نه وي بلکې د ټولې نړۍ د مسلمانانو مشري به کوي چې نور نومونه يې دا دي خلافت، امامت عظمى، او امامت کبرى او مشر ته يې اميرالمؤمنين ويل کيږي.

دويم :امارت خاصه دی دادی ته وايي چې د يوی علاقی يا د يو ملک مشرۍ پورې خاص وي چې په دی معنا باندی دوه کسانو مشرۍ ته هم شامل دی نو په دی معنا باندی علماؤ د امارت خاصه او عامه په منځ کې يو څو فرقونه ذکر کړي دي چې هغه دادی؛

اول فرق « د خليفه مقررول په ټول امت واجب دي چې دغه حکم هر امير ته نه دی شامل.

دويم فرق « په حديث د مسلم کې دي چې کله دوه خليفه ګانو لپاره په يو وخت بيعت اخستل کيده نو روستني خليفه ترينه قتل کړئ نو دا حکم د خليفه په اړه دی عامو اميرانو باره کې نه دی ځکه چې په يو وخت کې ډيرو جهادي کتيبو ته ضرورت وي چې د هر ګروپ خپل أمير وي.

دريم فرق « د خليفه مقررول په يو څو طريقو سره کيږي چې په شريعت کې ذکر دي.

اول « اهل الحل والعقد شورا لخوا به مقرر شوی وي.

دويم « چې ولي عهد به وي د مخکې خليفه نه.

دريم « چې په غلبې سره به راغلى وي او خلافت به يې اعلان کړې وي او هر څه عام د يوی ډلې أمير دی نو د هغې تاکل په دغه طريقو ضروري نه دي.

څلورم فرق « د خليفه لپاره دولس شرطونه دي چې امامت عظمى کې ذکر دي او احکام السلطانية د ماوردي. ص ـ ۷ ـ کې ذکر دي چې دغه شرطونه د يوې ډلې د امير لپاره ضروري نه دي.

پنځم فرق « خليفه به تر هغه نه معزول کيږي تر څو چې شريعت نافذه وي او د عام امير معزول کول جائز دي کله چې ورته ضرورت پيدا شي.

شپږم فرق « خليفه سره په هر مسلمان بيعت کول واجب دي لکه حديث کې دي « فُوا بِبَيْعَةِ الأَوَّلِ فَـالأَوَّلِ» متفق عليه ـ

ژباړه « تاسو پوره کړئ بيعت د اولني خليفه سره. نو په دی حديث کې د خليفه په بيعت کې پاتې کيدلو باندی امر شوی او په بل حديث کې د هغه چا بدي بيان شوی چې د خليفه سره بيعت نه کوي.

نبي عليه السلام فرمايي « وَمَنْ مَاتَ، وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً ». رواه مسلم.

ژباړه « څوک چې مړ شو او د هغه په څټ کې د خليفه سره بيعت نه ؤ نو مړ به شي په مرګ د جاهليت باندی.

نو د جهادي امير سره بيعت لازم نه دی بلکی د نيکۍ په کارونو کې ورسره کومک لازم دی.

اووم فرق « د خليفه د بيعت نه وتل او د هغې د اطاعت نه وتل جائز نه دي تر څو چې ترينه کفر بواح يعني ښکاره کفر نه وي صادر شوی او په عامو اميرانو کې د يو امير ډلې نه د بل امير ډلې ته انتقال جائز دی.

أتم فرق « په خليفه لازم دي چې واجبات د امامت به ادا کوي کوم چې علماؤ ذکر کړي دي لکه امام ماوردي رحمه الله هم ذکر کړي دي چې روسته به راشي ان شاءالله او دغه واجبات ادا کول د يو ډلې په امير لازم نه دي بلکې جهادي اوامر به د خپلې وسعی مطابق سر ته رسوي.

د خليفه نومونه

په شرعي طريقی سره چې څوک د خلافت منصب ته رسيدلي وي نو په اصطلاح د شرعه کې د هغه لپاره يو څو نومونه استعماليږي لکه امام خليفه اميرالمؤمنين او ولي الأمر ورته وايي.

او په شرعي طريقه باندی چې دولت قائم شي نو د هغې لپاره هم يو څو نومونه استعماليږي لکه امامة عظمى امامة کبرى خلافت او امارت.

امام ابن جماعه رحمه الله وايي « الإمارة قسمان عامة وخاصة أما الإمارة العامة فهي الخلافة المنعوت صاحبها بأميرالمؤمنين وأوّل من نعت به من الخلفاء عمربن الخطاب لما ولي الخلافة فصارت سنة الخلفاء خاصة.

وقال رحمه الله « ومن عقدت له البيعة جاز أن يسمي خليفة و أن يقال خليفة رسول الله لأنه خليفة في أمته. تحرير الأحكام

ژباړه « امارت په دوه قسمه دی يو امارت عامه او بل امارت خاصه هر چې امارت عامه دی نو دا خلافت ته وايي چې مشر ته يې د اميرالمؤمنين صفت حاصل دی او اولنۍ هغه څوک چې دغه صفت ورته د خلفاؤ نه ورکړې شوی دی عمر بن الخطاب رضى الله عنه دی کله چې ورته د خلافت مشري حواله شوه نو دغه طريقه خلفاؤ پورې خاص شوه.

او بل ځائ کې وايي « او د چا لپاره چې بيعت أخستل کيږي نو هغې ته خليفه ويل جائز دي او خليفه رسول الله ورته ويل هم جائز دي ځکه داد رسول الله صلى الله عليه وسلم په امت کې د هغې جا نشين دی.

علامه نووي رحمه الله وايي « امير عامه ته خليفه او امام او اميرالمؤمنين ويل جائز دي.

روضة الطالبين ـ ۴۹/ ۱۰

امام ماوردي رحمه الله وايي « الإمامة موضوعة لخلافة النبوة في حراسة الدين وسياسة الدنيا به.

الاحكام السلطانية

ژباړه « امامة مقرر شوی دی لپاره ددی چې د نبوت جانشيني به کوي ددين په محفوظ ساتلو کې او ددنيا د کارونو په برابرولو کې.

او علامه ابن قدامه په مقدمه د ابن خلدون ۱۹۱ کې وايي « که چيرته د مشر او حاکم کار دا ؤ چې عام خلک يې ددين په لاره روانيدل غوختل په داسې ډول چې د هغوی په دنياوي او أخروي ښيګړو کې يې شريعت ته پوره پاملرنه کوله نو همديته خلافت وايي ځکه خلافت په حقيقت کې ددين په ساتنه او ددنيا په سياست کې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم نماينده جوړيدل دي.

بيا وايي « همدغې ته خلافت امامت او خاوند ته يې خليفه او امام ويل کيږ ي .

سوال «آيا د اميرالمؤمنين او خليفة المسلمين فرق شته ؟

جواب « کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفات شو نو د هغه نه روسته ابو بکر الصديق رضى الله تعالى عنه خليفه شو نو هغه ته به خلکو خليفه رسول

الله ويل کله چې هغه هم وفات شو او عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه خليفه شو نو هغه ته به خلکو په ابتداء کې خليفة خليفة رسول الله ويل يعني د رسول الله د خليفه خليفه ، نو د هغه نه وروسته دا کلمه به نوره هم اوږديدله نو په دې اساس عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه د صحابه کرامو سره مشوره وکړه چې د خليفة المسلمين لپاره يو مناسب او اسانه نوم کيخوستل شي نو هغوی په دې اتفاق وکړ چې خليفه ته به اميرالمؤمنين وايو ځکه چې موږ (عام مسلمانان) مؤمنان يو او ته (خليفه) زموږ امير يې موږ به تاته اميرالمؤمنين وايو او د هغه نه روسته هر خليفه ته دغه نوم ورکړ شو ددغه پس منظر په اساس د خليفة المسلمين او امير المؤمنين ترمنځه فرق نشته او ځوک چې د خليفه نه بغير په بل چا د اميرالمؤمنين اطلاق کوي نو دا نامناسب کار دی او دا به (وضع الشيء في غير محله) وي يعني يو شي د خپل مناسب ځائ څخه بغير په بل ځائ کې کيخوستل دي .

د خليفه شرطونه

علماؤ د خليفه لپاره دولس شرطونه ذکر کړي دی چې کله پکې دغه شرطونه موجود شي نو هغې ته شرعي خليفه ويل کيږي چې بغاوت ترينه کول حرام دي. او هغه شرطونه دا دي:

لومړی شرط : مسلمان به وي کافر اصلي او مرتد به نه وي .

دوهم شرط : عاقل به وي ليونې او ماشوم به نه وي .

دريم شرط : د دوو طريقو څخه به په يوه طريقه ټاکل شوې وي .

څلورم شرط : ازاد به وي غلام (مرئی) به نه وي.

پنځم شرط : نارينه به وي ښځه به نه وي .

شپږم شرط : عالم به وي جاهل به نه وي .

اووم شرط :عادل به وي فاسق فاجر به نه وي.

اتم شرط : الكفاءة النفسية يعني شجاع او بهادر به وي چې حدود تطبيقولې شي.

نهم شرط : الكفاءة الجسمية يعني سليم الاعضاء (روغو اندا مونو واله) به وي .

لسم شرط : پخپله به د امامت او مشرۍ غوښتونکې نه وي او نه به د هغې حرص کوي .

يوولسم شرط : قريشي به وي.

دولسم شرط : ممکن به وي يعني عملا به په ځمکه مسلط وي د هغه د تسلط لاندې به څه ناڅه سيمه موجود وي او قوت او طاقت به ورسره وي .

وس راځو د هر يو شرط مختصر تفصيل ته :

لومړی شرط : مسلمان به وي اصلي کافر او مرتد به نه وي او دا خبره په قران حديث او اجماع سره ثابت ده.

اول قسم د لائل د قرآن کريم نه :

دليل : الله تعالی فرمايي { وَلَن يَجْعَلَ اللّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً }. النساء ژباړه « او کله به هم الله تعالی د کافرو لپاره په مؤمنانو باندې د غلبې لاره جوړه نه کړي.

نو کله چې کافر د مسلمانانو حاکم او امير شي نو دا خو د ټولو نه لويه لاره ده او دا خبره د لمر نه هم ډيره روښانه ده چې د مسلمانانو امير به نه وي مگر مسلمان به وي که هغه لوی امير وي او که وړوکې او کافر کله هم د مسلمان امير او حاکم نشې کيدلی ځکه چې قرآن کريم موږ د کافرو ددوستۍ څخه منع کوي او ددی نه به غټه دوستي څه وي ؟ چې کافر انسان د ځان لپاره امير وټاکي قرآن کريم کې الله تعالی فرمايي «

{ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لا تَتَّخِذُواْ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاء بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ }. سورة المائدة . ژباړه « ای ايمان والاو! يهود او نصاری په دوستۍ مه نيسۍ دوی خپل منځ کې د يو بل دوستان دي او که چا په تاسو کې دوی په دوستۍ ونيول نو يقينا دی د هغوی څخه دی . او بل ځائ کې فرمايي «

{ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لا تَتَّخِذُواْ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاء مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَتُرِيدُونَ أَن تَجْعَلُواْ لِلّهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَاناً مُّبِيناً } سورة النساء

ژباړه « ای ايمان والاو کافران په دوستۍ مه نيسۍ بغير د مؤمنانو نه آيا تاسو غواړۍ چې د الله تعالی لپاره په ځان باندی ښکاره دليل پيدا کړۍ. او بل ځائ کې فرمائی : { لاَّ يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاء مِن دُوْنِ الْمُؤْمِنِينَ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّهِ فِي شَيْءٍ إِلاَّ أَن تَتَّقُواْ مِنْهُمْ تُقَاةً ... } . سورة ال عمران .

ژباړه « نه دی نيسي مؤمنان کافرانو لره په دوستۍ باندې بغير د مؤمنانو نه او که چا دا کار وکړ نو دغه انسان د الله په نزد په هيڅ شي کې نه دی مگر که تاسو ځان ساتۍ د هغوی نه په ځان ساتلو سره .

همدا راز کتاب او سنت د امير اطاعت فرض گڼي او د کافر د اطاعت نه خو الله تعالی موږ منع کړي يو الله تعالی فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تُطِيعُوا فَرِيقًا مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ يَرُدُّوكُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ كَافِرِينَ. سورة ال عمران

ژباړه « ای ايمان والاو! که چيرته تاسو د يوی ډلې د اهل کتابو اطاعت وکړ نو تاسو به پس له ايمانه کافر کړي .

په بل ځائ کې فرمايي : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تُطِيعُوا الَّذِينَ كَفَرُوا يَرُدُّوكُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ فَتَنْقَلِبُوا خَاسِرِينَ . آل عمران

ژباړه « ای ايمان والاو! که تاسو د کافرو اطاعت وکړ نو تاسو به پخپلو پوندو واپس کړي او بيا به وگرځۍ تاوان کونکي .

دوهم قسم دلائل دسنتو او احاديثو څخه : د رسول الله صلی الله عليه وسلم عملي سنت په دی گواه دي

چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم کله هم د مسلمانانو چاری کافر ته نه دي سپارلی نه غټې چاری او نه کوچنۍ بلکې په جهاد کې يې د کافر څخه ځاني مدد نه دی اخيستي حديث کې راځي رسول الله صلی الله علیه وسلم يو مشرک ته چې غوښتل يې چې د مسلمانانو سره په جنګ کې د کافرو په مقابله کې شرکت وکړي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وويل « ارجع فلن استعين بمشرك . رواه مسلم وغيره

ژباړه « واپس شه ! هيڅ کله به هم د مشرک څخه کومک وانخلم.

دريم قسم دليل : دامت مسلمه اجماع:

امت مسلمه په دی خبره اتفاق لري چې د کافر مشري پر مسلمان جائز نه ده او دا اجماع اکثرو اهل علمو نقل کړی ده چې د هغوی څخه يو ابن المنذر رحمه الله دی هغه فرمايي:

(أجمع كل من يحفظ عنه من أهل العلم أن الكافر لا ولاية له على مسلم بحال) (احکام اهل الذمة) .

ژباړه « ټول هغه عالمان چې د هغوی نه زده کړه کولي شي هغوی په دی خبره اجماع کړی ده چې د کافر هيڅ قسم مشري په مسلمان باندي په هيڅ حالت کې نشته .

او همدا راز علامه نووي رحمه الله د قاضي عياض رحمه الله څخه نقل کړي چې هغه فرمايي :

(أجمع العلماء على أن الإمامة لا تنعقد لكافر ، وعلى أنه لو طرأ عليه الكفر انعزل .(شرح النووى على صحيح مسلم) .

ژباړه « ټولو اهل علمو په دی خبره اجماع کړی چې د کافر مشري نه صحيح کيږي او که چيرته روسته کافر شي نو د هغه مشري معزول کيږي .

اوس نن سبا مونږ تاسي وګورو چې دا شرط په موجوده اميرانو کې کوم امير کې شتون لري ؟ آيا تش په نوم مسلمانانو ملکونو مشرانو کې د اسلام صفت شته ؟ آيا د طالب په نوم د امريکا سيکولري مليشو مشر کې دا صفت شته؟ نو دا ټولي نړۍ ته جوته ده چې طالبان او تش په نوم د اسلامي ملکونو مشران د ملګرو ملتونو قوانين مني، د هغې په اساس خپلي د نظام چاري ټاکي نو څکه دوی د دغه قوانينو منلو له امله مرتد شوي دي. لهذا دوی باندي د اسلامي نظام اطلاق نشي کيدای. نن سبا د طالبانو، القاعدې يا نورو هغه ګوندونو مشران چې طالبانو سره بيعت لري يا د کفارو سره دوستي کوي دوی ټول مرتد دي، او لله الحمد دا صفت د اسلامي خلافت امير المؤمنين کې په کامله درجه موجود دی چې خپل خو خپل دي پردي يې هم د ايمان ګواهي ورکوي، که دښمنان او حاسدان ډير هم تهمت او بهتان وتړي نو د ظلم ټاپه پرې ولګوي، د دې څخه مخکې دوی سره کوم ثبوت نشته چې د هغه په اساس دوی د اسلامي دولت امير تکفير کړي، نو ای مسلمانانو ورونو! آيا تاسي د داسې قائد او مشر د سيوري لاندې د اسلامي نظام د قيام لپاره مبارزه نه کوئ چې سل سلنه مسلمان دی ؟ آيا تاسي د هغه اميرانو څخه بيزاري نه اختياروئ چې اميران يې يقيني مرتدين دي او يا ستاسي په ګمان هم شکي مسلمانان (!) دي.

دوهم شرط: عاقل به وي ليونی او ماشوم به نه وي.

دا خو د بديهاتو څخه ده چې د مسلمانانو امير به بالغ وي او صغير(کشر) به نه وي او په دی باندی دليل دادی چې قرآن کريم موږ ماشومانو ته د مال ورکولو څخه منع شوي يو څکه چې هغه يې ضائع کوي او د هغې په صحيح تصرف نه پوهيږي نو چې مال نه ورکوو نو د امت مسلمة مشري به څنګه ورکولي شي؟ قرآن کريم کې الله تعالی فرمايي :

وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمُ الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَامًا وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا وَاكْسُوهُمْ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَعْرُوفًا . سورة النساء .

ژباړه « او مه ورکوئ کم عقلانو ته خپل مالونه هغه چې الله تعالی ستاسو د ژوند سبب ګرځولی دی او په هغې کې هغوی ته رزق ورکوئ او جامې ورته کوئ او هغوی ته ووايئ وينا خايسته .

دلته د صحابه کرامو څخه نقل دي چې د کم عقلانو څخه مراد ښځې او ماشومان دي.

او حديث کې راځي :

عن علي بن أبي طالب رضي الله عنه عن النبي - صلى الله عليه وسلم - قال : « إن القلم رفع عن ثلاثة : عن المجنون حتى يفيق ، وعن الصبي حتى يدرك ، وعن النائم حتى يستيقظ » رواه البخاري في صحيحه .

ژباړه « د علی بن ابی طالب رضی الله عنه څخه روايت دی هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه حديث نقل کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : يقينا قلم د دريو کسانو څخه اوچت شوی دی د ليوني څخه تر دی چې په ښود شوی نه وي ، دوهم د ماشوم نه ترڅو چې بالغ شوی نه وي ، دريم د ويده نه ترڅو چې ويخ شوی نه وي.

او علامه ابن حزم رحمه الله فرمايي :

(وجميع فرق أهل القبلة ليس منهم أحد يجيز إمامة امرأة ولا إمامة صبي لم يبلغ إلا الرافضة فإنها تجيز إمامة الصغير. (الفصل في الملل والنحل) .

ژباړه « قبلې ته چې لمونځ کوي هغه ټولي ډلې په دې خبره متفق دي چې د ښځې او ماشوم چې بلوغ ته نه وي رسيدلی مشري يې نه صحيح کيږي صرف روافض (شيعه) د ماشوم مشري جايز ګڼي.

او د خوراجو ځيني ډلې هم د ماشوم مشري جايزګڼي.

او دا هم د مسلمو شرائطو څخه دي څکه چې مجنون خو مکلف نه وي نو هغه به د انسانانو چاری او د اسلام چاری څنګه مخکې بوزي؟ او مخکې حديث تير شو

چې د دريو کسانو څخه قلم اوچت شوی دی يو په هغې کې مجنون او ليونې دی .

دريم شرط: ددوه طريقو نه به يې په يوه طريقه ټاکنه شوی وي.

اول « اهل الحل والعقد شوری به ټاکلی وي. دويم « يا به ولي عهد وي د مخکې خليفه نه يعني د مخکی خليفه په وصيت به ټاکل شوی وي.

نن سبا تش په نوم اسلامي مملکتونو مشرانو کې دا صفت هم مفقود دی، ځکه د هغوی ټاکنه د ملګرو ملتونو، نړيوالو استخباراتو او امريکا لخوا کيږي، ښکاره مثال يې د پاکستان نظام دی، چې کله يې سابقه لومړي وزير عمران خان مرتد د امريکا لمن پريښوده او د روس خولی يې ونيوله نو امريکا سمدست لری کړو، دغه رنګ د پاکستان نوی لوي درستيز کرنل عاصم منير د ټاکنې وړاندې امريکا ته لاړو او هغوی ورته ټوله نقشه ورکړه، تعهدات يې ترې واخستل نو بيا يې لوي درستيز وټاکو او پاکستان کې ټول واک لوي درستيز سره وي او لوي درستيز د امريکا غلام وي. دغه رنګ د طالبانو امير کې هم دا صفت مفقود دی کله چې د طالبانو دويم زعيم اخترمنصور د ايران څخه پټې منګولې راروان و نو امريکا خپلې بې اجازې دغه تګ وغندو او غبرګون کې يې اختر منصور کار ورختم کړ نو دغه وخت کې د پاکستان استخباراتو او امريکايي استخباراتو په ګډه د هبت الله په نوم د کويټې مدرسې يو ملا د طالبانو زعيم وټاکه نو ځکه د طالبانو زعيم ټاکنه هم په شرعي اصولو نده برابره. او د خليفة المسلمين ابو بکر البغدادي ټاکنه د اهل الحل والعقد شوری لخوا شوی وه، هغه شوری چې تر مخه يې دولت الاسلام قيام رامنځ ته کړی و، او د نړۍ هر عام وخاص ته دا حقيقت د لمر په څير عيان دی، د مثال په توګه د ظواهري دا ځرګندونې به کافي وي:

"أود أن أوضح أنه ليس هناك شيئ الآن في العراق اسمه القاعدة ولكن تنظيم قاعدة الجهاد في بلاد الرافدين اندمج بفضل الله مع غيره من الجماعات الجهادية في دولة العراق الإسلامية حفظها الله وهي إمارة شرعية تقوم على منهج شرعي صحيح ، وتأسست بالشورى وحازت على بيعة أغلب المجاهدين والقبائل في العراق.»

ژباړه: غواړم چې يوه نقطه واضحه کړم، دا چې اوس په عراق کې د القاعدې په نوم څه وجود نه لري، بلکې تنظيم قاعدة الجهاد في بلاد الرافدين د الله په فضل له نورو جماعتونو سره عراق اسلامي دولت کې داخل شوي، الله دې د هغې ساتنه وکړي، او دا داسې شرعي امارت دی، چې په سم شرعي تګلار باندې ولاړ دی، د شورا لخوا تاسيس شوی او د عراق اکثرو مجاهدينو او قبائلو بيعت څخه جوړ شوی.

څلورم شرط: آزاد به وي غلام او مرئې به نه وي.

څلورم شرط دادی چې د مسلمانانو امير به آزاد وي يعني غلام به نه وي دا شرط هم ډير واضح دی ځکه چې مرئې او غلام خو مکلف وي په دی چې د خپل مولی او بادار خدمت وکړي نو هغه به د مسلمانانو چاری څنګه سنبالی کړي؟ او غلام خو د بل چا مملوک وي هغه د خپل ځان اختيار نه لري بلکی په بازار کې خرڅولی شي نو داسې شخص به څنګه د مسلمانانو مشري کوي؟

حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کې په دی خبره د ابن بطال نه هغه د مهلب نه اجماع نقل کړی ده هغه ليکلي:

ونقل ابن بطال عن المهلب قال : .... وأجمعت الأمة على أنها – أي الإمامة – لا تكون في العبيد)

ژباړه « ابن بطال د مهلب څخه نقل کړي چې امت په دی خبره اجماع لري چې امامت (خلافت) به په غلامانوکې نه وی .

علامه شنقيطی رحمه الله په (اضواء البيان) کې وايي : (لا خلاف في هذا بين العلماء).

ژباړه « په دی کې (چې خليفه به غلام نه وي) د علماؤ هيڅ اختلاف نشته .

په دی شرط کې صرف خوارجو اختلاف کړی خو د هغوی اختلاف ته هيڅ اعتبار نشته .

پوښتنه « په يو حديث کې راځي چې د انس بن مالک رضی الله عنه څخه روايت دی :

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا، وَإِنِ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ، كَأَنَّ رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ» رواه البخاری فی صحيحه .

ژباړه « د انس بن مالک رضی الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي « رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي « غوږ کيدی او خبره ومنۍ اګر که په تاسو يو حبشي غلام مقررکړای شي چې سر يې داسی وي لکه وڅکی او مميز .

دوهم روايت :

عَنْ يَحْيَى بْنِ الْحُصَيْنِ، عَنْ جَدَّتِهِ أُمِّ الْحُصَيْنِ، قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنْ أُمِّرَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ مُجَدَّعٌ، فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا، مَا قَادَكُمْ بِكِتَابِ اللَّهِ. رواه ابن ماجه فی سننه .

ژباړه « د يحيی بن الحصين څخه روايت دی هغه د خپلۍ نيا څخه روايت کوي هغې ويلي دي ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايل يې « که په تاسو يوحبشي غلام امير کړای شو چې پوزه يې هم کټ وي نو هغه ته غوږ کيږدۍ او خبره يې ومنۍ تر هغې چې تا سو د الله تعالی په کتاب روانوي .

نو ددی دواړو احاديثو څخه

معلوميږي چې غلام هم امير کيدلای شي او تاسو پورتني شرط کې دا خبره ذکر کړه چې دمسلمانانو امير به آزاد انسان وي مملوک او غلام به نه وي ؟

الجـواب!

ددی پوښتنې ځخه اهل علمو مختلف جوابونه کړي چې هغه په لاندې ډول دي.

اول جواب :

حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کې د امام خطابي ځخه نقل کړي او هغه دا چې دا صرف د مثال په توګه بيان شوی دی ضرور نه ده چې دادی واقع وي بلکې د اطاعت أهميت ته اشاره ده يعنې د امير اطاعت دومره مهم دی که هغه يو حبشي غلام هم وي بايد اطاعت يې وکړای شي بيا ضرور نه ده چې په واقع کې دی هم امير حبشي غلام وي

ددی مثال په قرآن کريم کې هم شته الله تعالی فرمايي : { قُلْ إِن كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ } سورة الزخرف

ژباړه « ورته ووايه که چيرته د رحمن ذات لپاره بچې وي نوزه به د هغه اول عبادت کونکی وم .

دلته فرضا مراد دی که بالفرض د الله تعالی بچې وای نو ما به يې د بچې عبادت کاوه خو داسې واقع نه ده صرف د مثال په توګه ويلې شوي دي .

دوهم جواب :

دلته مراد دا نه دي چې هغه به عام امير وي او اميرالمؤمنين او خليفة المسلمين به وي بلکې مراد دادې چې د امام اعظم له لوري به ټاکل شوی وي نو د هغه اطاعت پکار دی ولو که حبشي غلام وي.

او په دی توجيه باندی دليل دادی چې حديث کې د (امر) او (استعمل) لفظ راغلی دی د (امر) معنا ده چې په تاسو امير وټاکل شي يعنې د بل چا د لوري نه او د (استعمل) معنا هم همدغه ده ، او دا جواب امام شنقيطي رحمه الله په (اضواء البيان) کې غوره کړی دی .

دريم جواب :

د عبد (غلام) اطلاق پرې تجوزا شوی دی يعنې مخکې ددی نه چې هغه د مسلمانانو امير وټاکل شي هغه حبشي غلام وي او بيا کله چې عام امير ټاکل کيږي نو په دغه وخت کې هغه غلام نه وي بلکې ازاد انسان وي لکه قرآن کريم کې الله تعالی فرمايي : { وَآتُوا الْيَتَامَىٰ أَمْوَالَهُمْ ... } الآية سورة النساء.

دلته بالغ هلک ته يتيم ويل شوی دي حال دادی چې حديث کې راځي چې « لا يُتْمَ بعدَ احتِلامٍ... الحديث رواه ابو داود وغيره

يعنې د بلوغ نه وروسته يتيم والی نشته او حال دادی چې دلته الله تعالی فرمايي يتيمانو ته خپل مال ورکړئ په داسې حال کې چې هغوی ته مال د بلوغ نه وروسته ورکولی شي نو دلته ورته يتيم مجازا ويلی شوی دی يعنې مخکې يتيم ؤ اګر چې اوس نه دی نو په دغه اساس دغه حديث کې هم عام امير ته غلام ويلی شوی اګر چې اوس غلام نه دی بلکې مخکې د امارت ځخه غلام ؤ .

څلورم جواب :

او يا مراد دلته هغه شخص دی چې متغلب وي، يعنې غلام دی خو په زبردستی سره يې امارت او مشري نيولې وي لکه په دی امت کې داسې خلک تيرشوي دي.

او دليل په دی توجيه دادی چې د عرباض بن سارية رضی الله عنه په روايت کې دي «

وإن تأمر عليكم عبد حبشي ...... رواه البيهقی فی سنن الکبری وغيره .

دلته تأمر کې د تغلب معنا پرته ده يعنې په زبردستی سره امارت او مشري ونيسي .

په دی ټولو کې راجحه توجيه دوهمه توجيه ښکاري چې دلته مراد دا نه دي چې دا غلام به عام امير وي بلکې مراد دادی چې د عام امير له طرف به ټاکل شوی وي او ددی توجيه په ترجيح باندی دليل د علی رضی الله روايت دی کوم چې امام حاکم په مستدرک کې نقل کړی دی هغه په لاندی ډول دی :

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ أَبْرَارُهَا أُمَرَاءُ أَبْرَارِهَا، وَفُجَّارُهَا أُمَرَاءُ فُجَّارِهَا، وَلِكُلٍّ حَقٌّ فَآتُوا كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ، وَإِنْ أَمَّرْتُ عَلَيْكُمْ عَبْدًا حَبَشِيًّا مُجَدَّعًا فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا مَا لَمْ يُخَيِّرْ أَحَدُكُمْ بَيْنَ إِسْلَامِهِ وَضَرْبِ عُنُقِهِ، فَإِنْ خُيِّرَ بَيْنَ إِسْلَامِهِ وَضَرْبِ عُنُقِهِ، فَلْيُقَدِّمْ عُنُقَهُ فَإِنَّهُ لَا دُنْيَا لَهُ وَلَا آخِرَةَ بَعْدَ إِسْلَامِهِ» رواه الحاکم فی المستدرك والبزارفي مسنده والطبراني في المعجم الصغير والأوسط وغيرهم ولكن تتفاوت الفاظ الروايات فبعضهم رواها بلفظ :

وَإِنْ أُمِّرَ عَلَيْكُمْ.......) وبعضهم رواها بلفظ : وَإِنْ أَمَّرْتُ عَلَيْكُمْ.....) بصيغة المتكلم

وصرح بعضهم بذكرالفاعل فقال : وَإِنْ أَمَّرَتْ عَلَيْكُمْ قُرَيْشٌ ....

ژباړه « د علی بن ابی طالب رضی الله تعالی عنه ځخه روايت دی هغه فرمايي « رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي امامان به د قريشو ځخه وي نيکان به يې د نيکانو اميران وي او فاجران به يې د فاجرانو اميران وي او د هر چا خپل حق دی هرحقدار ته د هغه حق ورسوپاري او که چيرته مې په تاسو يو حبشي غلام چې پوزه يې هم کټ وي مقرر کړ نو د هغه خبری ته غوږ کيږدئ او خبره يې ومنئ ترڅو چې تاسو ته يې د اسلام او د سرپريکولو په منځ کې اختيار نه وي درکړی که داسی اختيار يې درکړ نو خپل څټ ورمخکې کړئ ځکه د اسلام نه وروسته د انسان لپاره نه دنيا ګټه ورکوي او نه آخرت .

دا حديث امام حاکم په خپل کتاب المستدرک کې روايت کړی او بزار په خپل مسند کې او امام طبراني په المعجم الصغير او المعجم الاوسط کې روايت کړی دی او همدا راز نورو اهل علمو هم نقل کړی ليکن په مختلفو الفاظو نقل دی ځينو په مجهوله صيغه نقل کړی دی معنا يې داده چې که په تاسو امير مقررکړای شي او بعضو د متکلم په صيغی سره نقل کړی معنا يې داده که په تاسو زه مقررکړم او ځينو د غائب صيغه ذکر کړی ده او فاعل يې قريش ذکر کړی معنا يې داده که قريش په تاسو يو حبشي غلام مقرر کړي نو هم اطاعت يې وکړئ او دغه لفظ زموږ د توجيه سره موافقت خوري کوم کې چې فاعل قريش ذکر شوی دی. والله تعالی أعلم

مومنانو مسلمانانو ورونو! دا وو د خليفه څلور شرطونه باقي شرطونه به په بل درس کې ذکر کړو بإذن الله.

وصلی الله علی سيدنا محمد وعلی آله وصحبه وسلم.

اروپا

انتظار کوه !

د کفري نړۍ انسي او جني شیطانانو د اسلام د خوږې چینې د صفا اوبو څخه د خپلو ناخبره کشرانود محرومولو په موخه د ډېر سوچ او تدبر څخه وروسته د شگو بندونه جوړ کړل او په خپل گمان یې د اسلامي نظام د قیام تصور هم په زولنو کلک،کلک وتاړه او د تل لپاره یې د مسلمانانو د فکري اشغال خوبونه ولیدل او ځانونه یې د فرعون په څیر د نړۍ د واکدارۍ یوازیني حقدار وبلل، خپله رومیه، سپینه ماڼۍ او کلیسا یې هم محفوظه وگڼله.

داسې قوانین او فرامین یې صادر کړل چې هر شق یې د کفر په لسگونو اسبابو مشتمل دی، او د اسلام پرضد د دې قوانینو تطبیق او تنفیذ په پار یې هر عصر کې ائتلاف او تړون کړی او خلک د دغه جاهلي قوانینو تابعدارۍ ته اړ باسي، چې په موجوده عصر کې د ملگرو ملتونو په نوم نړیوال سازمان په شمول نورې ټولنې هم د همدې هدف په پار وجود ته راغلي دي، دې سازمانونو د ژورې څېړنې وروسته د نظامونو د جوړښت په پار یو څو داسې بنیادي مادې وضع کړې ، چې دا به د هر معاصر نظام بنسټ وي ولو که جزیاتو کې یو بل سره فرق ولري. چې هغه مادې د ولسونو واک، د بشر حقوق، د عقیدې،

بیان او د فکر آزادي، سولییزه مبارزه، د دین او سیاست بېلول وغیره .. څخه عبارت دی. د ملګرو ملتونو په نوم سازمان په رهبری کې جوړ شوي فعلي قوانین ټول په همدې مادو بناء دي ولو که ځانونو ته اسلامي وایي لکه سعودي، ترکیه.... او طالبان وغیره. اوس د دغه بندونو ماتولو په اړه به هم دغه شان قوي او اساسي کار ته اړتیا وي، ترڅو چې د دغه مادو او نظامونو پرضد بنسټیز فکري، علمي او عملي مقاومت ونښي تر هغې به دوی د خلکو د ګمراه کولو پروګرام پرمخ وړي.

تر هغه وخته پورې به زمونږ غوږونه ډول، ډول خبرونه اوري آن تر دې چې ډیرې لویې لویې پیښې به هم د ډیروالي له امله د معمول یوه کوچنۍ او عادي پیښه وګڼل شي او د یوې لحظې شور،ماشور څخه وروسته به بیاد چا په یاد هم نه وي چې مونږ باندې دا ګزار له کوم اړخه وشو؟ چا وکړ؟ د دې ګزار اهداف او نتائج څه وو؟ په ټولنه یې کوم تاثیر وکړ؟ بیا ځل د ګزار اراده لري؟ آیا د ګزار زمینه ورته مونږ مساعده کړې ده؟ د ورته پیښو د تکرار مخنیوی څنګه ممکن دی؟ که چیرې مونږ دغه خبرو ته توجه ونه کړه نو باید پوهه شو چې د کفارو په قوي دامونو کې مو غبرګې پښې راګیرې دي او لا هم په ځان نه یو خبر خو د هلاکت دکندې په غاړه ولاړ یو.

د مثال په ډول د بیان آزادی او انتقاد آزادی په نوم د الله تعالی د مقدس دین د شعائرو سپکاوی پدې عصر کې کفارو بلکې مسلمانانو ته هم یوه عادي خبره ښکاري، چې کله ډنمارک، کله فرانس، کله هند او کله پاکستان کې د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم توهین کیږي او کله ناروې، سویډن او د هالینډ په سیمه د الله عزوجل مبارک کتاب د اور په لمبو سوځیږي، تاسې به کتلي وي چې څو ورځې وړاندې سویډن کې د ترکیه مرتد هیواد سفارت مخې ته د مصحف ته اور اچول شوی او د ترکې د ډیپلوماتانو د ایمان د نشتوالي ثبوت یې ټولې نړۍ ته واضح کړی

کفارو ته دا جرائت د مسلمانانو موجوده حالاتو ددوی بې اعتنایي او د اسلام څخه لرې والي او د کفارو په دوکو او وعدو تیریوتو ورکړي دي ، ځکه نو ورپسې متصل د هالینډ یو نجس اوسیدونکي د قران کریم مبارکې پاڼې په ډیره بې ادبۍ وشیرلې او د خپلو ناپاکو قدمونو لاندې یې کړې .

د نړیوالو مسلمانانو اسلام او ایمان چیلنج شو، خو متاسفانه چې هغه هیوادونه چې د اسلام غټې، غټې دعوې کوي، خپل نظامونه سوچه اسلامي نظامونه بولي خو نن یې درک نه لګیږي، که سعودي دی، که ترکیه ده، که د ایران روافض دي او که د طالب ملیشو حکومت دی، ټول په سوړو ننوتي دي، هیڅ یو هم د قرآن د بې حرمتۍ انتقام اخستلو اراده او پلان نه لري، د دې ستر مشکل لپاره دایمي حل نه لټوي او هر چې عوام الناس دي هغوی د لاریون په ترڅ کې دا قبیح کار غندي، یو سرک د څو ساعتونو لپاره بند کړي، د زنده باد او مرده باد چیغې ووهي او بیرته کورو ته راشي ځانونه محبان رسول علیه السلام هم ګڼي، خپله غاړه ورته خلاصه ښکاري، ځانونه ورته ستر غازیان هم ښکاري خو د څو لاریونونو څخه وروسته یې دغه زور هم کیني او بیا یې یوازې د نیټ په صفحو غندي او یوه ورځ له دې هم ستړي شي او د دې خبر اوریدل او نه اوریدل ورته برابر شي. حسبنا الله ونعم الوکیل.

لومړی خو مونږ په دومره تیارو کې پراته یو چې خپل مرض څخه اصلاً خبر نه یو، د ناروغۍ علت راته معلوم نه دی، او نه هم د ناروغۍ تداوي راته معلومه ده، بلکې د چا لخوا چې د دین شعائرو ته سپکاوی کیږي مونږ د هماغه خلکو وضع شویو لارو باندې د زړه براس ویستلو کوښښ کوو، پداسې حال کې چې هماغه مجرمان ما او تا پسې په برق ،برق خاندي او سبا بیا د دې لوبې څخه خوند اخلي او بله ورځ بیا ځکه د مسلمان ایمان او غیرت اندازه ورته معلومه شوه، دوی د بیان د اذادی په چوکاټ کې خپل ځان ته د قران او رسول الله صل الله علیه وسلم د توهین او د نورو اسلامي مقدساتو او شعایرو د سپکاوي لاره خلاصه کړه او په همدې چوکاټ کې بیا د دیموکراسی د سیوري لاندې د اوسیدونکو ته هم دا لار خلاصه کړې چې تاسې هم د بیان اذادی څخه زمونږ په څېر استفاده وکړئ ، هلئ راپورته شئ د همدې پیښو غندنه وکړئ ، مظاهرې وکړئ او ناري وکړئ ، خو ګوره همدا زمونږ او ستاسې د شریک اوسیدو یوه خه تګلاره ده بیاد مونږ او تاسې همداسې مسلو ته همدغسې سوله ایز حل روواباسو ، وسله او تشدد به سره نه کوو، څوک چې دداسې پیښو په غچ کې وسله را اخلي هغه خو نو بیا ترهګر دي .

بسلمان هم ورسره په همدې خبرو او حل لارو دا ډېر سر خوځولي او ده هم ورسره منلي چې هو ، همدا د حل خه لار ده ، ځکه نو په مظاهرو کې په نارو او بغارو خپل ستوني بند کړي ، بیا نو په بریتو ګوتې ووهي چې ما خو هم توره وکړه .

اسلامي امت له کوم حالت څخه کوم حالت ته ورسید؟

عزتمندو ورونو!

ایران چې طالب ملېشو سره کوم کومکونه کوي تر شا یې ګڼ اهداف پراته دي چې عمده هدف یې په افغانستان کې د رافضیت د عقیدې نفوذ پراخوالې او نشر دې . د طالبان او د ایران روابط تاریخي سابقه لري، کله چې د دیموکراتانو په مقابل کې ایران طالبان تقویه کول نو یو هدف یې د خپل اقتصادي رقیب امریکا کمزوري کول وو، ۲۰۱۸ کال کې طالبانو د ایران په علني مرسته ، رهبرۍ او قوماندې د فراه په مرکز حمله وکړه فراه چې ایران سره پراخه سرحدي پوله لري ، هغه وخت د ایران د استخباراتو رئیس په دې اعتراف وکړ چې هو ددې جګړې مرسته او رهبري موږ کوو او دلیل یې دادې چې امریکا له فراه څخه د ایران ترصد کوي او استخباراتي مالومات راټولوي ، ځکه نو موږ طالبان استعمالوو او د خپلو اهدافو لپاره ترینه استفاده کوو.

اما د طالب ملېشو او ایران په دې اړیکو ایران ډیر حساب نه کوي او نه پرې ډیر ډاډه دې ځکه د طالب خو یو پلار نه دې ، د هرې استخباراتي شبکې غړونډې یې غاړو کې پراته دي ایران پوهیږي چې طالبان د پاکستان زر خرید غلامان دي ، او هغوی ته ډیر وفادار دي او ایران بیا پاکستان سره په خارجي سیاست کې جدي مشکلات او مخالفتونه لري .

پاکستان سره د ایران د مخالفت یو عمده علت دادې چې پاکستان کې شیعه ګان ډیر زیات دي او ایران کوشش کوي چې هغه روافض هم د خپل نفوذ او اغیزې لاندې ونیسي د هغوۍ په امورو کې لاس وهنه کوي او پاکستان نه غواړي چې ایران په پاکستاني شیعه ګانو اثر ولري ،او لکه د افغانستان د شیعه ګانو په څېر د ایران په امر وچلیږي نو ځکه یې په خارجي سیاست کې ورسره مشکلات زیات دي ..

د مخالفت بل لامل یې د بلوچو شتون دې او ترڅنګ یې پاکستان بیا سعودي سره په خارجي سیاست کې ډیر نیږدې دې او سعودي بیا د ایران سرسخته سیاسي حریف دی.

ایران که څه هم په دې پوهیږي چې طالبان پاکستان ته ډیر وفادار دي خو خپلې هڅې نه دروي بلکې طالبانو څخه په همدې هدف حمایه کوي چې د پاکستان له اثره یې راوباسي او په خپل نفوذ کې یې راولي .

او نن سبا د طالب ملېشو او ایران د نیږدوالې او یو بل سره د مشترکو ګټو په سټیج د موحدینو سره مبارزه او مقابله ده ، طالب احمقان هم د ایران په دې خبرو خطا وتلي او لګیا دې د ایراني شیعه ګانو ساتنې ، پالنې او ددوۍ د عقیدې او فکر نشر او اشاعت ته یې کار ویلې .

لکه مخکې مو چې یادونه وکړه چې د تېر مرتد جمهوریت په مقابل کې د طالب مرتدینو څخه د ایران د حمایې او مرستې څخه هدف دا وو چې د امریکا اقتصاد وځپي ځکه چې امریکا په ایران اقتصادي بندیزونه لګولې ول ، کله چې امریکا افغانستان اشغال کړ نو بیا یې په ایران باندې بندیزونه ولګول او ایران سره یې اقتصادي جګړه شروع کړه، نو ایران هم د امریکا د اقتصاد د ځپلو لپاره طالبان حمایه کړل ، هغه وخت یې دغه نیابتي ملېشو باندې لاس راکش کړ ، ډاډ یې ورکړ چې ځانته به یې نه پریږدي، په ځانګړې ډول کله چې اختر منصور واک کې راغې نو ایران سره د طالب

ملېشو روابط زيات پياوړي شول ، نو دا کار امريکا او پاکستان ته د منلو وړ نه و ، اختر منصور يې مخکې هم وژلې شو خو مخکې د پاکستان په اشارو روان و، کله يې چې ايران ته ميلان زيات شو ، نو پاکستان يې ترصد وکړ او امريکا د اختر منصور څخه د راستنيدو پرمهال پز پورته کړ، او په دې سره د امريکا او پاکستان نور طالب مشرانو ته دا پيغام هم وو چې ګوره غلط حرکت به نه کوئ ددوی د غروندیو څخه به د سرونو ويستلو هڅه نه کوئ ګنې دغسې به د اختر منصور په څېر ووژل شئ .

او پاکستان ځکه اختر منصور په امريکايي ډرون له منځه يوړ چې نه غواړي ايران او طالبان سره ډير نيږدې شي او طالبان په آينده کې د پاکستان له غروندي سر ونه باسي .

نو په افغانستان کې د اسلامي خلافت په مقابله کې ايران او پاکستان د نورو ګاونډيانو په نسبت زيات رول لري او دغه دښمنی ته يې پخه ملا ترلې ، د اسلامي دولت د نبوي منهج او عقيدې په وړاندې يې ايران د رافضيت عقيده او فکر خوروي او پاکستان بيا د اسلامي دولت د سپېڅلي عقيدې او فکر مقابله په بريلويت او صوفييزم سره کوي او د پاکستان هڅه داده چې دلته بريلويت او صوفيت ډير عام او خور شي او دا دواړه فکرونه د اسلامي خلافت اساسي دښمنان دي .

خو مجاهدين بايد ډير زيات د روافضو دغه خطر ته متوجه اوسي او له دې ستر خطر څخه اسلامي امت خبر کړي ، ځکه چې امارت خو يوه محدوده ډله ده او د بين الملل د اصولو له مخې يې ټولې دعوې او کېسې د افغانستان په نوم پولو کې رامحدودې دي او ورځ تربلې يې دلته هم الله سخت وهي او څپې ورځ تربلې ذليله کېږي او شرميږي ، خو روافض هغه وحشي ، مضر او مهلک قوم دې چې نقصان او ضرر يې نهايت زيات او ټول اسلامي امت او اسلامي خاوري ته متوجه دي، که تېر تاريخ مطالعه شي نو اکثره اسلامي دولتونه همدې روافضو ړارنګ کړي دي نو مجاهدين بايد په هيڅ وخت او هيڅ صورت کې د روافضو شا پرينږدي او په دوی خپل بريدونه ورځ تربلې زيات او چټک کړي .

د روافضو تمکين او ددوی واک له هر څه زيات نقصاني دي ، تاسې پوهيږئ چې روافضو په اهل سنتو څه ډول وحشتونه وکړل دلته په افغانستان کې له ښځينه و سيني پرې کړې ډيرې کسان يې په کانتينرونو کې واچول او بيا يې په اورونو وسيزل ، په افغانستان او عراق کې د روافضو وحشتونه داسې دي چې انسان يې په ليکلو له درده اوښکې توييوي ، دوی دا ټول وحشتونه او ظلمونه چې په اهل سنتو کوي نو د ثواب په نيت يې کوي .

هغه روافض چې پرون يې دا ظلمونه کول ،نن هم د همدې روافضو مشران هماغه ظالمان دي ، چې پرون د کومو روافضو رهبري يې کوله او هغوی ته يې په هر ظلم او وحشت کولو قومانده ورکوله نن هم همغه مشران د نن ورځې روافض رهبري کوي ، هغه وخت چې دوی په ځينو سيمو حاکم وو او تمکين يې درلود نو څومره وحشتونه يې وکړل ؟

نو اوسنې روافض هم د هغې ورځې په لټه کې دي چې داسې موقعه او واک بيا ومومي نو دوی به داسې وحشتونه وکړي چې تيرو ته به دعاګوئ پيدا کړي ، نو د اسلامي خلافت مجاهدين هم د روافضو دي شومو پلانونو ته زير دي او للـه الحمد په خراسان کې يې د روافضو داسې بيخ کندي وکړه چې د ايران زړه يې ورولړزاوه داسې يې وټکول چې د ايران حکومت اوس په تهران او مشهد کې هم اودس نه تيګيږي او تر څو چې د اسلامي دولت دا سربښندونکي غازيان موجود وي نو باذن الله روافض به په افغانستان او نوره اسلامي خاوره کې د پښو ايښود ځاي پيدا نه کړي او نه به د پخوا په څېر د امن احساس وکړي که هر څومره له ځانونو څخه د طالب ملېشو ديوالونه تاو کړي خو دوی به له داسې ډله ايزو وژنو خپل ځانونه ونه شي ژغورلای ان شاء الله.

نن ، سبا هم د روافضو ټول کوشش په همدې متمرکز دی چې په افغانستان کې په نظامي ، ملکي ، فرهنګي او نورو اړخونو او برخو کې خپل نفوذ زيات او خپل فعاليتونه لا تېز او چټک کړي ، د تېر مرتد جمهوريت د واک پرمهال هم روافضو همداسې خرمستۍ کولې ، هغه وخت هم دوی زيات تمرکز په فکري او فرهنګي يرغل درلود. د معارف ، لوړو زده کړو ، اطلاعات او کلتور او نورو ګڼو فرهنګي ، علمي او مسلکي وزارتونو کې رافضي مشرکېن وزيران وو، په پوهنتونونو کې يې فقه جعفريه د رسمي فقې په حيث تدريس کېده ، په ښوونځيو او کورسونو کې هم ددوی د فکر او عقيدې اړوند نصاب تدريس کېده او ورځ تربلې ددوی دا جال پراخيده، د طالبانو په واکمنيدو سره ددوی فعاليتونه ختم نه شول بلکې لا يې رشد وکړ او لا پراخه شول ، ځکه دلته روافض غواړي آينده ۵۰ کلونو لپاره زمينه سازي وکړي ،نو غواړي ملکي بخشونو کې ملګري او کسان تربيه کړي ،ځوانان برابر کړي بيا نو په يوه کودتاه هم فوج د خپل لاس لاندې راوستلای شي ، د حکومت په رسمي چوکاټ کې دوی په نظامي برخه کې دومره زيات فعاليت او توجو نه کوي لکه ملکي اداراو ته يې چې کوي، هر ولايت کې دوی کوشش کوي اداري او ملکي پوستونه ونيسي ،لکه ولايت مقام ، معارف رياستونه وغيره.

د طالبانو راتللو سره د ايران د رافضيت او جاسوسي نهادونه هم خه کش کې روان دي ، مخکې چې د تبيان په نوم فرهنګي مرکزونه يوازې په هرات ، کابل او مزار کې فعال وو، اوس يې نو د هرات ، کابل مزار په شمول قندهار، باميان ،دايکندی ،بدخشان ،غزنی ،غور ،هلمند ،فارياب ،سرپل ،جوزجان او داسې نورو ولايتونوکې هم د ياد فرهنګي مرکز څانګو تازه په فعاليت پيل کړي او ډيره عجيبه لا دا ده چې دغه فرهنګي مرکز مسؤل سيد عيسى حسيني مزاري رافضي وايي د طالبانو راتګ سره يوه ورځ هم زموږ فعاليت نه دی دړول شوی او د کارونو په وړاندې مو هيڅ قسم موانع نه دي ايجاد شوي او وايي چې زموږ د فعاليتونو لپاره د خلکو ترمنځ اوسيدل لازمي دي نو ځکه موږ د طالبانو څخه حمايت کوو او هغوی د حمايت بدل کې د ټولنې سره د رابطو او فعاليتونو اجازه راکړې ده او هيڅ مانع نلرو دا د دوی خپل اعتراف دی، نو تاسې به اوس پوه شوی ياستئ ، چې ولی ايران د طالبانو څخه حمايت کوي، ځکه وايي زموږ آينده فعاليت لپاره د خلکو په منځ کې اوسيدل ضروري او لازمي دي، نو خپل هدف ته رسيدلو لپاره مونږ د طالبانو څخه حمايت وکړ او طالبانو هم زموږ د فعاليت په وړاندې هيڅ نوع تهديد او مانع ايجاد نه کړو ، بلکې زموږ لپاره يې د خه ډاډمن امنيت نيولو کوشش هم کړي ..

سوال : ايا ايران او طالبان افغانستان کې د مشترک تمکين اراده لري که څنګه؟

جواب : ددې سوال ځواب به څه نا څه تاسې په مخکنې تير بحث کې موندلې وي ، چې له طالبانو څخه په ملاتړ ايران خپل ځانګړې پټ او ښکاره اهداف لري ، له دوی څخه د خپلو آينده سترو اهدافو په پار کار اخلي او غواړي چې طالبان هم ټول په ټوله په آينده کې د رافضيت د نشر او خپراوي په يوه وسيله بدل کړي .

نو طالبان او روافض د شريک تمکين هڅه ځکه نه کوي چې دلته د ډيرې نورو همسايه هيوادونو اهداف هم مطرح دي ، نو په لنډه توګه به يې ووايو چې روافض د ايران مذهبي فوځ دي او طالبان د پاکستان مذهبي فوځ دي ،که روافض د ايران د ګټو لپاره دلته اوس فرهنګي جګړه کوي ، نو طالبان که څه هم يوه ډله او يوه رهبري نه ده ډيرې يې د پاکستان د ګټو لپاره جنګيږي او په نورو ډيرو کې يې بيا ايران او يا نورو هيوادونو مهار اچولې.

د روافضو او طالبانو يا د ايران او طالبانو يوالې او شريکې هڅې ټولې د اسلامي خلافت په مقابل کې دي ، ياني ددوی د مشترکې مبارزې او مقابلې لپاره د يوالي اساس د اسلامي خلافت سره ددوی دواړو دښمني ده.

که نه په تېر کې د روافضو او طالب ملېشو ترمنځ سختې نښتې شوي خو د اسلامي دولت ډار او يرې يې خپلمنځې پخواني خصومتونه شاته کړي او د اسلامي خلافت په خلاف سره يو شوي دي او هر څوک په همدې کوشش کې دي چې څنګه يو بل حمايه کړي له يو بل څخه کومک واخلي او په اسلامي خلافت ګذار وکړي.

صوفيت او رافضيت هغه ګمراه او منحرف عقايد دي چې د اسلام سرسخته دښمني همدوی کوي ،

ځکه هر کله چې کفر د شکست سره مخ شوې نو د اسلام د اصلي بچیانو په مقابله کې بیا ددغه دوه فکرونو والا خلک یې میدان ته راویستلي دي ،رافضیت او صوفیت دوه مستقل فکرونه او لارې دي ، د اسلامي خلافت دښمني همدوۍ سره یوځاې کوي گنې دوۍ هر یو د بیل تمکېن خوبونهویني .

افغانستان کې طالبان یو نظامي فوج وو ځکه نو د اسلامي خلافت د تمکېن ختمولو پروژه امریکا همدوۍ ته وسپارله او هر قسم مرسته یې ورسره وکړه چې تر ډېره هوآیي ملاتړ یې بیخي علني او ښکاره وو ، نو افغانستان کی د موحدینو سره مبارزی لپاره همدا پوچ مغزی انتخاب شوي دي او بیا نوری نړی لپاره په آینده کې د اسلام ضد جگړه په ځانگړې ډول د موحدینو مقابلې ته به همدا روافض غوره شي ، همدوۍ سر له اوسه د فارس د امپراطورۍ د بیا راستنیدو په هڅو بوخت دي ، او د اسلام په مقابل کې عالمي جگړې ته تیارې نیسي .

خراسان کې صوفیان او بریلویان زیات دي، نو د خلافت مقابل کې د جگړې مهار دطالب په نوم همدغه ډلو په لاس کې اخستې .

او په عراق او شام کې به نو د مجاهدینو مقابلې ته د ایران په مشرۍ روافض بیا راوځي ځکه ایران د توحید د مخنیوي په هدف دلته په خراسان کې هم او په عراق او شام کې هم خپل چانس له لاسه نه ورکوي دلته طالبان حمایه کوي او هلته د روافضو نورې ډلې ټپلې حمایه کوي.

او ایران په دې مطمین دی، چې په خراسان کې په ځانگړې ډول افغانستان کې بیا د خلافت په خلاف د جگړې د دوامداره ساتلو لپاره د جلب او جذب په برخه کې ددوۍ په اند بهترین فکر همدا بریلویت او صوفیت دې، چې د دواړو ملاتړ طالبان کوي، نو ایران په دې باوري دې چې خراسان کې د اسلامي خلافت په خلاف د جگړې لپاره دوۍ ډېر کار ته اړتیا نه لري ددوۍ نیابتي جگړه مار طالب مرتدین په پوره اخلاص ددوۍ اهداف پالي دوۍ تر اوسه یې ورسره د اسلحې کومکونه کول اوس نو مشورې ورکوي او نور مالي امکانات ورته برابروي او په یو نوم او بل نوم ورسره هر اړخیزې مرستې کوي ، نور نو طالب فقط په شا ټپوي او د اسلامي دولت جگړې ته یې رامخکې کوي.

د ایران او افغانستان روافض کوم توپیر نه لري دواړه د تهران له مردار ډنډ څخه خړوبیږي ، د افغاني روافضو قائدین ایراني روافض دي ، کوم نصاب چې د ایراني روافضو په مدارسو ، پوهنتونونو او مکاتبو کې تدریس کیږي همغه نصاب دلته د افغان روافضو په مدارسو ، مکاتبو او پوهنتونونو کې تدریس کیږي ،حتې اکثره استادان یې ایراني روافض دي او یا د ایران څخه رسمی اسناد او معاش لري ، جامع المصطفي چې د ایران مربوط دی، اکثره مملکتونو کې دا فعاله پوهنتون دې، همدا راز د امام خمیني پوهنتون ، کاتب ، باقر علوم ، تبیان وغیره تعلیمي مراکز یې ټول له ایران څخه حمایه کیږي.

څنگه چې د اسلام د ظهور مرکز جزیرة العرب ده ، دغه راز د روافضو د تقویت او ظهور مرکز همدا ایران دې، چې غواړي لکه د عربو په شان دوي هم نورو مملکتونو کې تمکېن او نفوذ ولري.

همداسې افغاني روافض چې کوم تعصب طالبانو سره لري ، په ځانگړې ډول چې خپل تیر شوي تاریخ ویني نو په ښکاره ډېر خوشبین نه دي ، په سوشل میډیا کې د طالب په وړاندې ډېر نفرت هم ښایي ، مطلب دوۍ سره زړونو کې په نورو مواردو کې ډېرې فاصلې لري خو د خلافت په خلاف یې بیا جبهه او محاذ یو دې ، د خلافت دښمنۍ سره نیږدې کړې دي او تر ډېره په دې برخه کې دوۍ عقیدوي نیږدیوالې هم لري ځکه یې نو ایتلاف هم دوامداره پاتې دې .

ددې هرڅه باوجود ایران په دې هڅه کې دې چې د طالبانو له منځه په مستقل شکل د شیعه گانو یوه مظبوطه نظامي ډله هم په افغانستان کې ولري ، عملاً یې څو ځل دا کار شروع کړ ، پاکستان چې د ایران سره یې د طالبانو اړوند سیاستونو کې مخالفتونه خورا توند او څرگند دي نو پاکستان دا چانس ځانته وواهه ، ځکه یې نو په طالب ملیشو کې یوه دروازه شیعه جنگیالیو ته هم خلاصه پریښوده په دې خاطر چې روافض اسلامي دولت سره په دښمنۍ کې ډېر متشدد دي ، او پاکستان دا کار په همدې خاطر وکړ که د روافضو له ډلې څوک اسلحې ته لاس کوي نو طالبانو دروازې ورته خلاصې دي رادې شي اسلحه دې واخلي او زموږ د قوماندې لاندې دې اسلامي خلافت سره جگړه وکړي ، دا کار عملاً پاکستان وکړ چې د پاړه چنار اړوند روافض یې مسلح کړل او د سپین غر په زیړان کنډو یې د طالب په لیکو کې په زرگونو راواړول ،چې د امریکایي طیارو د هوایي ملاتړ څخه هم په پراخه کچه برخمن وو، دا چې د پاکستان په مختلفو ښارونو او سیمو کې روافض د اسلامي دولت د سختو بریدونو لاندې راغلي دي او بار ، بار سخت خوږ شوي نو پاکستان د روافضو د انتقامي جذبې او احساساتو څخه په داسې شکل کار واخست چې د طالب په لیکو کې یې مدغم او جذب کړل ، او دا چانس یې ورکړ چې که په روافضو کې هر څوک اسلامي دولت سره د جگړې نیت لري او جذبه لري نو رادې شي په طالب لیکو کې دې یو ځاې شي او د اسلامي خلافت په خلاف دې د پاکستان د قوماندې لاندې وجنگیږي د ایران رهبرۍ ته حاجت نه شته ، پاکستان په ډېر دقت دا ډلې د خپل ځار لاندې ساتي د طالب په څېر نورې د مذهب په نامه راپورته شوې ډلې د خپلو مفادو او د خپل کفري نظام د ساتنې په هدف ساتلي او روزلي ، پاکستان په دې برخه کې د هر فکر او نظر والا ته خپل یو محاذ خلاص کړې که څوک د سلفیت دعوه لري د توحید په اساساتو خبر نه وي فقط د پاکستان درباري سلفیان وي نو هغوۍ ته یې د لشکر طیبه نه ، بلکې لشکري خبیثې په نامه ډله جوړه کړې ده ، که ددې فکر هر ځوان پاکستاني استخبارات د جعلي جهاد په تبلیغ غولوي او دغه ډلې ته یې سوق کوي او بیا یې د خپلو گټو په خاطر یا یې په کشمیر کې د هند په خلاف جنگوي او یا یې د طالب په لیکو کې د اسلامي خلافت په خلاف راولي ، همدا راز د حنفي مکتب فکر والا خلکو ته یې بیا جیش محمد په نوم ډله جوړه کړې ، هلته بیا نور ځوانان جذبوي او استعمالوي ، د روافضو لپاره یې بیا د طالب ملیشو په صف کې یوه دروازه خلاصه کړې ، چې دا ټول بیا د اسلامي خلافت په خلاف جنگوي ، فقط تحریک طالبان په نوم ډله تري هند خپله کړې ده او هند یې حمایه کوي او د خپلو گټو په خاطر یې پاکستان سره جنگوي مطلب تحریک طالبان بیا د هند نیابتي ملیشې دي ، نو پاکستان تل هڅه کوي چې دغه تش په نوم جهادي ډلې د خپل نفوذ لاندې وساتي او د خپلو گټو لپاره یې استعمال کړي په دغه ډلو یې د هند یا ایران اثر نه لوریږي .

طالبان روافضو ته شیعه گان ورونه وایي او دا خبره طالبان روافضو ته کوي چې تاسې ته زموږ دروازې خلاصې دي ، موږ تاسې سره هیڅ ډول مشکل نه لرو ، موږ هم د اسلامي خلافت په خلاف جنگیږو او که له تاسې هم څوک د اسلامي دولت سره جنگ غواړي نو راشئ زموږ دروازې درته خلاصې دي ، مونږ ستاسې هر ډول افراد قبلوو، حتې ریاستونه هم درکوو او په خپل نظام کې مو په هر موقف منو ، که چرته د اسلامي دولت څخه ډار نه وې نو طالب ملیشې هیڅکله د روافضو سره یو ځاې والي یا یې خپل نظام کې منلو ته نه حاضریدل ، ځکه ددوۍ ترمنځ ډېرې سختې خونړۍ جگړې شوي خو اوس طالب دومره وارخطا دې چې د اسلامي دولت په خلاف هر چاته لاس اوږدوي ، هر چا سره یې خپل اختلافات شاته کړي فقط د اسلامي دولت په خلاف خپل محاذ که په هر چا وي او په هر قسم مرسته وي قوي کوي یې .

او د طالبانو په منځ کې د روافضو منل او دوۍ ته ځاې ورکول ټول د اې ایس آې پلان دې ، اې آیس اې له یوه لورې غواړي چې افغان او پاکستانی روافض د ایران له نفوذ څخه بهر کړي بله دا چې ددوۍ قوت وویشي او یو مستقل قوت تري جوړ نه شي نو ځکه یې د خپلې رهبرۍ لاندې د طالب مشرکینو په لیکو کې مدغموي ، خو ایران بیا په دې کار نا خوښه دې او ایران غواړي چې روافض په افغانستان کې که د طالب په لیکو کې هم وي باید ددوۍ د رهبرۍ لاندې وي او که وروسته هم شي خو چې یو مستقل قوت او حرکت ولري او ایران پرې کامل نفوذ ولري .

التبه یو موقتي اهداف دي چې یو بل سره یوځاې شي اما اکثر بنیادي کوم پلانونه چې دښمن لري په

ځانگړي ډول روافض، نو دوي غواړي آینده په افغانستان کې یو مستقل فکري روزل شوی په اسلحه سمبال فوج ولري.

طالبانو سره د ایران د روابطو بل لامل دا دې چې ایران د اهل الحدیثو او سلفیانو سرسخت دښمن دې، په همدې شکل طالبان هم د سلفیانو او د اهل الحدیثو (موحدینو) سر سخت دښمنان دي ،نو په عقیدوي لحاظ هم دلته د امارت او ایران سره خپلو کې مشترکات لري ، او په دغه دښمنۍ کې هم سره شریک دي ،د دواړو کوشش دادې چې افغانستان کې موحدین ختم کړي.

بله خبره دا ده چې د ایران دښمني دسعودي او عرب اماراتو سره ده، چې طالبان نه غواړي عربستان دلته نفوذ ولري ،لکه څنگه چې ایران یي نه غواړي دا هم د دوي یو عقیدوي مشترکه موضوع ده.

۲۰۱۶ کال کې کله چې اختر منصور د ایران څخه په راستنیدو کې په بلوچستان ساحه کې په امریکایي ډرون ووژل شو ، نو دا کار پاکستان او امریکا په همدې خاطر وکړ چې د منصور په مشرۍ کې طالبان ایران ته مایله شوې وو.

نو طالبانو ته امریکا په دې کار سره یو ښکاره پیغام دا ورکړ چې که هر چا سره خبرې کوئ نو باید زما په اجازه یي وکړئ، نو له دې هم مالومیږي چې ایران طالبانو سره د دوه مهمو او عمده اهدافو لپاره قوي رابطه لري لومړې د اسلامي خلافت په مقابل کې او دویم د عربستان په خلاف یي استعمالوي او د رافضیت تبشیر لپاره غواړی طالبانو کې هم خپل نفوذ ولري.

که څه هم د طالبانو په لومړې دوره کې روافضو سره یي نښتې شوي خو هغه نښتې د سیاسي ملحوظاتو له امله وي کوم مذهبي رنگ یي نه درلود یانې طالبانو لکه د اوس په څیر په لومړۍ دوره کې هم روافض مرتد نه گڼل ،او ایران سره یی خه صمیمي اړیکې وې ځکه کله چې طالبانو په لومړۍ دوره کې مزار ونیوه نو د ایران دیپلوماتان دلته افغانستان کې وو، مطلب خه پوره مطمین وو، طالبان چې له لومړۍ دورې د طاغوتي او کفري هیوادونو د استخباراتي ډلو د لاس نانځکې دي، له همغه وخته ددوۍ ترمنځ سیاسي لوبې مرموز قتلونه او نور ډول ، ډول حرکتونه موجود دي ، کله چې طالبانو مزار ونیوه نو هلته د ایران ۱۱ تنه دیپلوماتان په مرموز ډول ووژل شول ، چې طالب مشرانو پرې د سختې خواشینۍ اظهار وکړ ، د هغه وخت د طالبانو ویاند عبدالحي مطمین په خپل کتاب کې یي لیکلي (ددغه ۱۱ تنه مشرکو روافضو په وژنه مشر ملا صیب سخت غصه او خفه وو، حتې تر دې چې ما ترینه واوریدل چې ویل یي : چې که ددغه رافضي دیپلوماتانو قاتلان ومومم ، نو بې له ځنډه او بی له محکمی یي په دار ځړوم او تر آخره په دې پیښه مشر ملا (ملا محمد عمر) سخت غمجن او خواشینې وو.

همدا راز په 2014 کال کې هم دطیب آغا په مشرۍ یو هیئت ایران ته سفر درلود او مخکې له هغې په 2012 کال کې په ایران کې(د کنفرانس بیداری اسلامي) یوه شیطاني غونډه کې هم برخه اخستې وه .

کانفرانس بیداري اسلامي هغه کنفرانس دې، چې د شیعه ایزم لپاره پکې تبلیغات کیږي او د اهل سنتو او روافضو تر منځ په همدې هدف په اتحاد کار کوي چې اهل السنت رافضیت سره اول قدم کې نږدی کړي او ددې کنفرانس دویمه موخه شیعه ایزم ته دعوت او په نړیواله کچه ورته د ملاتړو پیدا کول دي . چې په همدې کانفرانس کې طالبانو هم رسمي اشتراک کړی و، ترڅو ایران ته دا ډاډ ورکړي چې دوۍ د شیعه ایزم مخالف نه دي د ترقې او پراخۍ لپاره یي کار کوي او حمایت ترینه کوي.

دلته له طالبانو څخه دا پوښتنه کوو چې آیا شیعه گان کافر دي که نه ؟ آیا همدا روافض د صحابه و او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ناموس بی عزتي کونکې دي که نه؟

که وایي هو، نو د روافضو اصلي مرکز او د اسلام او صحابه و سره د دښمنۍ اصلي مرکز خو همدا ایران دی کنه ،نو بیا ولې سحار او ماښام د تهران له تکیه خانو طوافونه کوئ ، سحار او ماښام ور روان یاست ، او دلته هم د ایراني اخوندانو په استقبال کې پښې مو نور په ډیرو ودریدو شلې شوې . کله ورسره په یو کتار کې ولاړ یاست هغوۍ خپل شرکي مراسم ترسره کوي تاسې ورسره د عقیده لپاره دا غټ سرونه خوځوئ ، کله مو ترې د نصواري جنگیالیو دفاعي دیوالونه تاوو کړي وي ، کله ورپسې لمونځونه کوئ روافض مو امامان او تاسې یي مقتدیان یاست .

له تاسې بې غیرته ، سپین سترگې او بې شرمه انسانان خو په تېر تاریخ کې نه دې تیر شوي ، ددۍ ټولې گندگۍ سره بیا ځانونه فاتحین او مجاهدین بولئ ، لکه د ډیران د چرگانو گندگي خورئ او مښوکې څنډئ ، د دومره کفري کړنو باوجود بیا هم سرونه خوځوئ چې تاسې خو هیڅ هم نه دي کړي ، هم کول کوئ او هم پاکول کوئ .

تاسې خو له ایمانه کنگال یاست خو د غیرت په نوم هم کوم ارزښت درپاتې نه دې ، کله به ایران سره دښمني کوئ او څه ډول به یي کوئ ؟

کله به د ایران څخه د رسول الله صلي الله علیه وسلم ناموس ته د کنځلو او د صحابه و د تکفیرولو او کنځلو سزا ورکوئ ؟

آیا تاسې ته شرم نه درځي چې په خوله ځانونه مجاهدین بولئ په داسې حال کې چې د روافضو له تکیه خانو د ابوبکر صدیق ، عمرفاروق ، په شمول په گڼو صحابه و رضي الله عنهما باندې د لعنت ویلو غږونه اورئ او تاسې بې مړه غوږونه په دروازو کې په څوکیداري ولاړ یاست او مشران مو دننه په تکیه خانو کې د همدې روافضو سره په همدې مراسمو کې دا چاټۍ سرونه خوځوي او خوږې اوبه څښي ؟

ایران دلته خپل سفارت او دیپلوماتان لري او د ورځې څو وخته په ځلونو په صحابه وو لعنت وایي او تاسې هلته په ایران کې سفارت او خپل اخوندان لرئ او هلته په صحابه و د لعنت ناری اورئ خو ددې هر څه باوجود مو د ایران مرستو ته مړې سترگې نیولي وي او په دې هر څه مو سترگې پټې او غوږونه کاڼه کړي وي .

په ۲۰۱۵ کال کې کله چې د قطر د دفتر رئیس طیب اغا د طالبانو د یو لوړ پوړې هیئت په ملتیا ایران ته لاړ هلته یي د ایران د رافضي مشرکینو مشرانو سره ناستې او رسمي لیدنې وکړې ، کله چې دوۍ بیرته ستانه شول نو د طیب اغا سر سخته مخالف چې د یو بل وینو ته تږي وو اختر منصور هم د ایران سفر وکړ په خپل دری ورځني مخفي سفر کې یي د ایران خارجه وزیر محمد جواد ظریف قاسم سلیماني په شمول د سپاه پاسداران او سپاه قدس او د نورو اسلام دښمنه ډلو د زیاتو مشرانو سره ملاقاتونه وکړل.

کله چې سلیمانی مردار شو، بیا د طالبانو نر ښځي ویاند دده وژنه هم په سختو ټکو وغندله ، ځکه چې دا یي د مشرانو رهبر او الگو وه او دده په مړینه یي ایران سره سخته همدردي او خواخوږي وښوده .

د اختر منصور ددغه پټو ملاقاتونو په لړ کې چې د ایراني مشرکینو سره د طالب مشرکینو کومې وعدې او تړونونه وشول نو یو الله ته مالوم وو او دا دې د همغه تړونونو عملي بڼې اوس موږ په عمل کې گورو ، د طالب مشرکینو او ایران رافضی مشرکینو په مشترکو منافعو خو مو پورته زیات بحث وکړ، نو ددوۍ له اوسنیو کړنو مالومیږي چې همغه مهال به هم ددوۍ د د مجالسو او پټو ناستو د بحث اصلي محور موحدینو سره مشترکه مبارزه ، د روافضو د نفوذ پراخوالې ، او په وړاندې یي د خنډونو له منځه وړل وو.

هغه مهال چې اختر منصور بیرته له ایرانه ستنیده نو پاکستان په امریکا ورخرڅ کړ او ووژل شو ، په همدې برید امریکا طالب مشرانو ته دا گوتڅنډنه وکړه ، چې د امریکا له اجازې پرته باید هیڅ حرکت ونه کړي .

طالبانو هم له دې پیښې خه عبرت واخیست او دا دې اوس نو

له همغه مهاله د امریکا هر امر ته یي لبیک ویلې ، او د امریکا له اجازې پرته اودس هم نه ماتوي..

امریکا د منصور په وژلو د ایران هغه منافقت هم په ډاگه کړ چې په پټه به یي طالبانو سره مجلسونه کول ددوۍ حمایه او مرسته به یي کوله او په خپلو اعلامیو کې به یي بیا ځان د طالبانو خلاف ښوده او په هر څه به یي انکار کاوه ، خو د منصور له وژلو وروسته بیا ایران هم نور انکار نه شو کولاې.

نو مجاهدینو ورونو ! کله چې دطالبانو مشران داسې په پټو معاملو او دسیسو بوخت وي نو د کشرانو به یي څه حال وي.

له طالبانو پوښتو : د روافضو او د ایران نور ظلمونه په خپل ځای... دا

کوم ظلمونه یې چې یوازې د بشار الاسد لعین سره یوځای په سوریه کې وکړل او د همدې ایران او بشار خبیث د ظلمونو په نتیجه کې تر 5 لکه کسانو زیاد ووژل شول ،آیا هغه د اسد د رژیم هغه ړوند بمبار مو له یاده ووت آیا په سوریه کې مو د ایراني ډلو وحشتونه هیر کړل ، چې ماشومان یې په اورونو کباب کړل ، هغه وحشتونه او د اهل السنتو بې رحمه وژنې او ددوی قتل عام مو مخ ته نه ودریږي ،چې دا دې اوس رالگیږئ همغه وحشیانو او د اسلامي امت قاتلو روافضو سره ناسته پاسته ، راشه ، درشه کوئ ؟ د دوی د وحشتونو د مشت نمونه یې خروار په حیث دغه دوه تصویران وگورئ .

هو ! دا یوازې د ایران او اسد رژیم له لورې په یوه بمبار کې وژل شوې مومنان او ددوی بچې دي ، خو طالبان بیا هم د همدې ایران سره لر ، بر کیږي او دوی سره یې خه خوږه دوستي او شریک منافع دي ، له دوی د آیراني روافضو په لاس د وژل شویو لکونو اهل سنتو په ډله آیزو وژنو سترگې پټې کړي.

په ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په ۲۳ نیټه امریکا دوه کسان د سپاه قدس (سپاه پاسداران) لکه سپاه پاسداران ۵ بخشونه لري، چې یوه برخه یې سپاه قدس ده ، هر یو محمد ابراهیم اوحدی او اسماعیل رضوي په همدې علت تحریم کړل چې طالبانو سره یې په هرات کې مخفي ملاقاتونه کړي دي او طالبانو سره یې د سلاح او د ټکنالوژۍ ورکولو وعده یې کړې وه .

اوس هم لږه موده مخکې د سپاه پاسداران دوه استازي علي کمیلي او حسام رضوي کابل ته راغلي، ویل کیږي چې دلته د طالبانو د مطبوعاتو برخه کې دوی ته رهنمایي او درس ورکوي ،چې طالب ملېشې هم د میډیا او تبلیغاتو په برخه کې لکه د سپاه د منافقینو په څیر ورزل شي.

د سپاه پاسداران دوه غړي علی کمیلي او حسام رضوي د کابل پل سوخته کی

مسلمانانو ورونو!

د ایران او طالبانو په روابطو چې څومره هم خبرې وکړو بیا هم کمې دي، ځکه نن سبا د ایران او طالبانو روابط له هیچا څخه پټ نه دي او یو د بل په حمایت افتخار هم کوي.

نو راځئ! چې د ایران په ظلمونو او د اسلام سره یې په دښمنۍ لنډې خبرې وکړو.

ایران او رافضیت:

د ایران رسمي دین شیعه او رافضیت دی، چې د شیعه او رافضیت په کفر د اهل سنت و الجماعت جمهورو علماؤ او ټولو مذاهبو فتوا ورکړې ده ، او د اسلام اصلي او سرسخته دښمنان یې همدا روافض معرفي کړي دي، ځکه دوی قران کریم یو تحریف شوی کتاب گڼي ، جبرائیل علیه السلام باندې تهمت لگوي چې د وحې په راوړلو کې خطا شوی دی ، د ابوبکر صدیق او عمر رضی الله عنهما په شمول اکثره صحابه تکفیروي او وایي چې تر هغې یو کس رافضي او شیعه کیدلای نه شي، مگر چې اول په ابوبکر او عمر رضي الله عنهما باندې طعن او لعن ونه وایي ، د مسلمانانو مور ام المومنین عایشه رضی الله عنها باندې سخت تهمتونه تړي، د عمر رضي الله عنه د قاتل مجوس ابو اللؤلؤ فیروز قبر یې خه مزین کړی او د ایران اصفهان ښار کې یی عبادت او حفاظت کیږي او داسې نور عمده کفري عقاید لري، چې که په یو مسلمان کې د اسلام او ایمان معمولي حس هم وي، نو دوی سره به خامخا دښمني کوي او دوی سره به مقابلې ته تیاریږي.

ایران چې د عربستان سره کومه دښمني لري، یو لوی عامل یې همدا عقیدوي جگړه او مبارزه ده، ځکه مرکز د رافضیت او شیعه ایزم ایران دی او د اسلام مرکز عربستان یادیږي، نو دلته د ایران مخالفت د سعودي طاغوتي دولت (عربستان) سره نه دی ، بلکه د جزیرة العرب مقدساتو او خلکو سره دی. همداسې هر طرف چې اهل سنت او صفا عقیدې ولا خلک موجود وي دوی سره ایران خپله مذهبي جگړه مخ ته وړي، نو دلته هر مسلمان ته پکار دي، چې ایران سره برائت وکړي او دوی سره خپله دښمني ښکاره کړي. همداسې کوم ظلمونه چې دوی د افغانستان اهل سنتو سره وکړل، تاریخ یې په ذکر کولو شرمیږي، دومره چې دوې اهل سنت وځورول ،شوروي او امریکا هم دومره زورولي نه دي، د زنانه و څخه سینی پرې کول او رقص مرده یې عادت و او د اهل سنتو زنانه او نارینه و ته دغه راز سزاوې ورکول یې تر اوسه مشهور دي . دا کار چا کاوه؟

هغه ډلو چې مستقیم د ایران د حمایت لاندې و، او دلته د هر ظلم کولو څخه یې هلته ایراني آخوندانو لذت اخیسته ، همداسې ایران د امریکا اشغال کې طالبان حمایت کړل او د پروني عبدالعلي مزاري ، محقق ، خلیلي، محسني او داسې نورو کسانو رول د موحدینو ځورولو کې ایران ته طالبانو تمثیل کړ او مخ ته یې یوړ. ایراني مجوسو په تېر ټول تاریخ کې اسلام سره دښمني کړې ده ، عمر رضي الله عنه په دور کې ایران فتحه شو او اسلام پکې حاکم شو، الله رب العالمین دښمن ته سخت ذلت ورپه برخه کړ، چې بیا دا د عمر رضي الله عنه فتحه تر نن پورې ددې باعث شوه چې ایران د اهل سنتو څخه انتقام واخلي او هرطرف ورته لاس واچوي .

نو ورونو ! ایراني حکومت په ټول جهان کې ځان د روافضو د منافعو ساتونکې گڼي .

مسلمانانو بیا په ځانگړې ډول مجاهدینو ته پکار دي، چې ددې خبیثانو په اهدافو تحقیق وکړي، ددوی نوې او زړې پالیسي او اهداف مطالعه کړي او نور مسلمانان هم ددوی په شومو پلانونو خبر کړي ، او څومره یې چې وسه کیږي دغه خبیثانو ته گواښونه ، تهدیدونه او خنډونه ایجاد کړي ، که چېرته د سرطان دې مرگونې او مضرې دانې په اسلامي امت کې ریښې وکړې نو بیا به یې مسلمانانو ته علاج ډیر سخت شي. د ایران په کفر او ردت زیاتو خبرو ته حاجت نشته ، هر مسلمان کې باید دوی سره د مقابلې او مبارزې جذبه موجوده وي، ځکه دا خو یو ایران دی چې ټوله نړۍ الله مه کړه یوه شي او صرف د بې عزتۍ په پار یو ډیر وړوکې لفظ ام المومنین عایشه صدیقه رضي الله عنها په مقابل کې استعمال کړي، چې ووایي (د څادر یو کونج یې زیات کشاله وه) نو د خلافت مجاهدین به یې په آرام پرینږدي او د خپل دې شوم عمل سزا به ورکړي ، دا نور تهمتونه خو لا پریږده ،چا کې چې غیرت وي، په خپلې مور به خامخا غیرت کوي او له روافضو نه به یې خامخا انتقام اخلي، څوک چې لکه د طالبانو په څیر له ایمان او غیرته کنگال شوی وي، نو له هغوی خو بیا گیله نه ده په کار .

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو ! ددې مقالې په راتلونکې برخه چې د مجلې په راتلونکې گڼه کې به خپره شي ان شاء الله ، په کې د طالبانو او پاکستان ترمنځ د باداری او غلامۍ په اړیکو بحث شوې په دې هیله چې ددې مقالې راتلونکې برخې هم ولولئ .

د هغه چا انجام
چې د مسلمانانو پر خلاف
د کفــارو څخه مرسته غواړي

د هغه چا انجام چې د مسلمانانو پر خلاف د کفارو څخه مرسته غواړي

الله تعالی په خپلو بنده ګانو د مسلمانانو سره دوستي او د هغوی مرسته فرض کړې او د مشرکانو سره یې دښمني او جګړه باندې امر کړی دی.خو موږ ډېر کرت وینو چې تله ګډه وډه شوې ده ډېر خلک داسې دي چې هغوی ته د دنیوي ګټو لپاره کافر نږدې محبوب ګرځېدلي وي. بلکې له مسلمانانو نه ورته ډېر نږدې وي. له مشرکانو نه د موحدینو په مقابل کې مدد غواړي. دوستي ورسره کوي او همیشه په دې لاره کې وي چې د دوی په وړاندې یو قدم مخکې شي او مرتبه ترلاسه کړي. په تاریخ کې داسې ډېرې کیسې تر سترګو کېږي چې د هغه خلکو لپاره په کې ډېر عبرتونه شته چې په داسې چارو اخته شوي دي.

د بنو امیه په دور کې کله چې عبدالرحمن ابن الاشعث په اموي خلیفه عبدالملک ابن مروان باندې په پاڅون کې ناکام شو چې په دې پاڅون کې یې له هغه لښکر نه کار اخیستی و چې د ترکانو د هیوادونو د غزا نه راستانه شوي وو. وروسته تر دې چې د ترکیې له پاچا سره یې د صلح لوظنامه وکړه. او ده به له مخکې نه دا ارمان کاوه چې که د ترکانو د هیوادونو سره یې جګړه ودریده. نو د تل لپاره به د هغه نه خراج پورته کړي نو په دې وخت کې چې دده پاڅون ناکام شو. نو له دې ویرې نه چې حجاج یې مړ نه کړي د ترکیې باچا ته یې د فناه وړلو تصمیم ونیوه ابن کثیر رحمه الله وایي بیا ابن الاشعث او ملګري یې د رتبیل ښارونو ته لاړل چې دا رتبیل هغه وخت د ترک باچا و. هغه له ځان سره دیره کړ امن یې ورکړ او ډېر عزت یې ورله وکړ.

ته به حیرانیږې چې څنګه رتبیل د یو داسې سړي درناوی وکړ چې پرون یې ورسره جګړه وه او نږدې وه چې ټول ښارونه ترې ونیسي. خو دا عزت د ده له خوا نه د اسلام او مسلمانانو په ضد یو فریب او سازش و.

رتبیل د ابن الاشعث په اړه د حجاج ابن یوسف سره په داسې شرطونو سازش وکړ چې دده لپاره ګټور او د دولت ټول ارزښتونه یې په کې خوندي و.

د همدغه شرطونو په بدل کې ابن الاشعث حجاج ته تسلیم کړ ابن کثیر رحمه الله وایي ابن الاشعث یې حجاج ته ولیږه او دا شرط یې پرې ولګاوه چې تر لسو کلونو پورې به یې نه وژني او دده د ورکولو له امله به ده ته ټول خراج معاف وي فقط هر کال به یو لک روپۍ ورکوي او بس.

حجاج هم ورسره په دې شرطونو موافقه وکړه خو ددې مصالحو له حاصلیدو نه وروسته رتبیل له ابن الاشعث سره دوکه وکړه ابن کثیر رحمه الله وایي په دغه وخت کې رتبیل د ابن الاشعث سره دوکه وکړه نو کیسه یې داسې شوې ده چې رتبیل د ابن الاشعث په اړه امر وکړ چې دده په مخکې ترې سر ووهئ او سر یې حجاج ته ولیږئ .

او مشهور روایت دادی چې د ابن الاشعث سره یې دیرش کسان د هغه له کورنۍ نه هم ونیول او په زنځیرونو یې وتړل نو په یوه لار کې د رجح په نامه ځای ته ورسیدل ابن الاشعث د ودانۍ سر ته پورته شو او زنځیرونه په کې پراته و په ده یو سړی هم مقرر و.

نو ځان یې د ودانۍ له بام نه راوغورځولو او هغه سړی هم ورسره راوغورځیده چې په ده مقرر و.

دواړه یو ځای مره شول نو استازي د ابن الاشعث سر غوڅ کړ او په نیزه کې یې وتومبه.

دا د هغه چا انجام دی چې د الله تعالی په دښمنانو کافرو ښه ګمان کوي، هغوی ته فنا وروړي او ورتښتي، که څه هم مخکې ډېرې وعدې ورکړې د دې لپاره چې په اسانی سره یې د خلیفه وړاندې پاڅون ته تیار کړي، نو د هغه چا به څه حال وي چې د صلیبیانو او مشرکانو سره د مسلمانانو پر ضد مرسته کوي؟!

یو له هغه کسانو چې د ترک له کفارو نه یې مرسته غوښتې وه حارث بن سریج و چې ده په اُموي خلیفه باندې په یو سل او شپاړسم هجري کال کې پاڅون کړی ؤ، او بیا یې داسې ګمان کاوه چې ګونډې دا قرآن او سنت ته دعوت کوي. ابن جریر رحمه الله لیکي: هر کله چې حارث بلخ ته لاړ او په بلخ باندې تجیبي بن ضبیعة المري او نصر بن سیار مقرر ؤ... نو دوی یې کتاب او سنت او له رضا سره بیعت ته دعوت کړ. او په دې سره یې قصد دا ؤ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له کورنۍ څخه د یوه سړي لپاره بیعت واخلي.

حارث په دې خپل پاڅون او د خلکو په راپارولو همداسې ټینګ پاتې شو تر دې چې ډېر ښارونه یې له ځان سره یو ځای کړل چې په هغې کې یې خپل شعار او دعوت پورته کړ. ابن جریر طبري رحمه الله وایي: حارث مرو سیمې ته لاړ، په داسې حال کې چې په بلخ، جوزجان، فاریاب، طالقان او مرو الروذ باندې غالب شوی ؤ. لیکن له دې نه وروسته یې څو ځلې ډېره ناکاره ماتې وخوړه، نو د ترکانو هیوادونو ته یې پناه ویوړه او د هغې له پاچا نه یې د مسلمانانو پرضد مرسته وغوښتله، ابن جریرطبري رحمه الله وایي: حارث بن سریج د تخارستان په یوه ناحیه کې ؤ چې له خاقان سره یو ځای شو... نو أسد(د مسلمانانو د لښکر مشر) د سهار لمونځ وکړ بیا یې خلکو ته خطبه وویله چې په خپله خطبه کې یې وویل: د الله دښمن حارث بن سریج خپله سرکشي نیولې ده، غواړي د الله رڼا ووژني او دین یې بدل کړي، خو الله تعالی به یې (ان شاءالله تعالی) ذلیله کوي. د جګړې اور ګرم شو په نتیجه کې ګټه د مسلمانانو په برخه وه او الله تعالی کافران او د هغوی ملګري مرتدین مات کړل او ذلیله شول. ابن جریر طبري رحمه الله وایي: خاقان حارث بن سریج او د هغه ملګري او ملک سعد او صاحب الشاش او خرابغره أبا خاناخره جد کاوس و صاحب الختل جبغویه او ټول ترکان د لښکر میمنه وګرځوله... تر دې چې حارث او أتراک ټولو ماتې وخوړه، نو اسد وویل: اې الله! دوی زمونږ نافرماني کړې ده نو له مونږ سره مرسته وکړې، نو الله تعالی له ده سره مرسته وکړه او ترکان په ځمکه کې غلامان شول شاته یې نه کتل نو خلک ورپسې شول درې فرسخه ورپسې لاړل او په چا چې یې لاس بر شو ویې وژل.

د ماتې نه وروسته حارث بن سریج په دارالکفر کې نږدې یوولس کاله پاتې شو، تر دې چې د خلیفة له خوا نه ورته د امان لیک راغی چې دارالاسلام ته یې رابللی ؤ، ابن کثیر رحمه الله په البدایة و النهایة کې

وایي: او په دې کال کې (۱۲۷هـ) حارث بن سریج او هغه ملګري یې چې د ترکانو په هېوادونو کې یې پناه اخیستې وه د ترکانو له هېوادونو راوو‌تل او الله تعالی پرې د هدایت احسان وکړ او توفیق یې ورکړ چې بلاد الشام ته راستون شي او دا دعوت ده ته یزید بن الولید ورکړ او ده قبول کړ.

خو د ابن سریج اخري انجام قتل وګرځېده وروسته تر دې چې دویم ځل یې د مسلمان خلیفه پر ضد خروج وکړ او د مسلمانانو په جماعت کې یې تفرقه غوښتله او دا هغه سړی ؤ چې له کفارو سره یې د مسلمانانو پر ضد مرسته کوله او نوم یې دا ورکاوه چې زه کتاب او سنت ته دعوت کوم. ابن کثیر رحمه الله وایي: مسلمة بن آحوز چې د الشرطة الاسلامیة أمیر ؤ د لښکرو او امراؤو مخې ته راووست او غوښتنه یې ترې وکړه چې خپله خوله او لاس بند کړه او د مسلمانانو جماعت مه خرابوه، نو ده انکار وکړ او د خلکو نه یو طرف ته راښکاره شو او نصر بن سیار یې راوباله او خپل موقف یې څرګند کړ، خو نصر له ده سره

له موافقې نه انکار وکړ او د څو ځل غدر، بغاوت او خروج نه وروسته په یو سل او اته ویشتم هجري کال کې د خپلو ګمراه باغیانو ملګرو په غدر ووژل شو. (انظر: البدایة و النهایة).

په عباسي خلافت کې د عماد الدین زنګي د هڅو تر سیوري لاندې چې د بیت المقدس څخه د صلیبیانو د شړلو لپاره یې په کار اچولې وې، کله چې یې دمشق کلابند کړ د دې لپاره چې خپل هغه هدف ته ورسېږي چې ده یې عزم کړی ؤ، د دمشق أمیر (معین الدین أنر) له دې وېرې نه چې زنګي دمشق ته داخل نه شي صلیبیانو ته د لیکونو د استولو لړۍ پیل کړه. ابن الأثیر وایي: کله چې أنر ولیده چې زنګي له دوی نه جلا کېږي او محاصره نه ماتوي، نو فرنګ ته یې لیک واستاوه او د خپلې مرستې لپاره یې راوغوښت او له هغه نه یې مطالبه وکړه چې دمشق ته د زنګي د ننوتلو په مخنیوي کې له ما سره موافقه وکړه، چې په دې لړ کې د دمشق أمیر یو شمېر ژمنې هم ورسره وکړې چې له هغو ژمنو څخه یوه دا هم وه چې بانیاس سیمه به نیسي او فرنګیانو ته به یې سپاري او فرنګیان په خپله هم له زنګي نه وېرېدل چې که چېرته دمشق ونیسي نو دوی به په کامله توګه له شام څخه وباسي، له همدې امله یې ښه په شجات او تادۍ سره د أنر مرستې ته ورودانګل، کله چې زنګي د دوی په پرېکړو پوهه شو، نو د دمشق محاصره یې ماته کړه او وروسته تر دې چې فرنګیان راغلل معین الدین أنر ورته خپله وعده پوره کړه له نصاراؤ سره یو ځای یې بانیاس او په هغې کې شته مسلمانان محاصره کړل، ابن الأثیر وایي: معین الدین بانیاس سیمې ته داخل شو د دغه سیمې مسلمانان یې ووژل، سختي یې پرې راوستله او له ده سره د فرنګیانو یوه ډله هم وه، نو بانیاس سیمه یې ونیوله او فرنګیانو ته یې وسپارله. او له دې لارې نه د فرنګیانو دوه مصلحتونه خوندي شول یو دا چې صلیبیان د زنګي له خطر څخه خوندي شول او دویم دا چې د مسلمانانو یو ښار یې ونیوه، بیا له فرنګیانو سره د معین الدین أنر د دومره نږدیکت باوجود فرنګیانو په پنځه سوه درې څلوېښتم کال کې خپل جنګي ستراتیژي د آلمان له پاچا سره شریکه کړه او په ګډه یې دمشق محاصره کړ، تر دې چې معین الدین أنر یو وار بیا د زنګي زوی یوسف الدین غازي بن زنګي مرستې، مدد او همکارۍ ته مجبور شو، نو سیف الدین د أنر مرستې ته وسله وال ځواکونه ورواستول او کله چې فرنګیان له دې نه خبر شول، نو اول آلماني ځواکونه له دمشق څخه آلمان ته ستانه شول او بیا ټول فرنګیان پرشا شول، په همدې سره نورالدین زنګي په دې وتوانېده چې بېرته په (۵۴۹هـ) کال کې دمشق په خپل واک کې راولي او زاړه حاکمان یې ټول له واکه ګوښه کړل، که څه هم په دې وخت کې د دمشق آمرانو صلیبیانو ته د مرستې نوی لاس وراوږد کړی ؤ. (انظر: الکامل فی التاریخ).

د ممالیکو په دور کې د کرک پادشاه مغیث عمر د تاتاریانو سره د مسلمانانو پر خلاف اړیکې نیولې، تر څو تاتاریان د ده د چوکۍ ضمانت وکړي، لیکن الله تعالی هغه وشرماوه او کوښښونه یې په ډاګه شول، ابن کثیر رحمه الله وایي: ظاهر بیبرس د مصر څخه په اتلو پوځونو کې د کرک په لور وخوځېده او د کرک بادشاه مغیث عمر بن عادل ابوبکر بن الکامل یې راوغوښت، کله چې د ډېرې ستریا وروسته راغی نو مصر ته یې په زولنو کې بندي ولېږه، چې دا یې د هغه سره وروستي لیدل وو، ځکه ده به هلاکو خان ته لیکل چې یو ځل بیا شام ته راشي، د تاتاریانو لخوا هم ده ته ډاډ ورکول کېده او په دغو هېوادونو یې د خپل نیابت وعده ورسر کوله، او دا یې ورته هم ویل چې مونږ په شل زره پوځ کې د مصر د فتحې لپاره راروان یو، لیکن سلطان بیبرس د فقهاؤ څخه د هغه د مرګ فتوا جاري کړه، انجام یې دا ؤ چې لومړی له چوکۍ ګوښه او بیا ووژل شو.

اوس که مونږ خپلې زمانې ته د تاریخ په آئینه کې وګورو نو د دغو قصو په څېر ډېرې داسې قیصې به واورو چې، خلکو خپل ځانونه په ښکاره توګه په صلیبیانو خرڅ کړي دي. ځینې داسې فکر کوي چې مونږ له صلیبیانو نه تښته ګټه پورته کوو او زمونږ دین ته څه تاوان نه شي رسولای، نو د دوی وروستی انجام به همدا وي چې قدم په قدم د خپل دین له یوې یوې خبرې نه تېرېږي، تر دې چې آخر به د مخکنیو ډلو پشان له دین څخه منحرف شي او څه نور داسې هم شته چې له دې نه هم په ښکته ذلت اخته دي، تر دې چې د کفارو او مرتدینو په ښارونو کې مقیم شوي دي، د تل لپاره ذلیله، سپک او بلواکي اوسي.

په مسلمان دا واجبه ده چې د مشرکانو په دښمنۍ کې واوسېږي تر دې چې الله سبحانه و تعالی یې له دې فتنو څخه په امن کړي او په حق باندې یې کلک او ثابت قدم کړي.

1

د حق محك

د حق محك

د د ديني پوښتنو د جوابونو د لړۍ ترڅنګ چې په مجله کې روانه ده ، غواړو چې د مجلې ادارې ته د راغلو سياسي پوښتنو په اړه او د هغه شبهاتو په اړه چې طالب مرتدين يې د اسلامي خلافت په اړه خلکو ته وراچوي او يا خلکو سره وي هم هر اړخيز جوابونه او بحث وکړو ، که تاسې سره هم په دې اړه کومې پوښتنې وي نو کولاې شئ د مجلې په ادرسونو يې موږ ته راواستوئ ،

د دې ګڼې پوښتنې دادې چې د امريکا له لورې طالب مليشو ته د افغانستان واک سپارل او بيا دا ورسره په هره برخه کې هر اړخيزې مرستې کول له هيچا پټې نه دي او نه هم ددې سترو حقائقو څخه څوک سترګې پټولاې شي ، پوښتنې دادې چې هغه کوم لاملونه دي چې امريکا طالب مليشو سره خپلې هر اړخيزې مرستې دوامداره ساتلي دي ؟

او طالب ملېشې په داسې حال کې اسلامي خلافت بيا ولې د امريکا پروژه بولي ؟

جواب : الله تعالى فرمايي:
وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّن بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم. [البقرة: 109] ژباړه: زياتره اهل کتاب دا غواړي چې تاسې له ايمان نه بېرته د کفر لورې ته وګرځوي، د خپل نفس د رخې له امله ستاسې له پاره داغواړي.

د کفارو هميشنى کوشش او حرص همدا دى، چې مسلمانان د ارتداد په خيمه ورننباسي او دې کار لپاره هرې قربانۍ ته تيار دي، نظامي او هر اړخيز د فشار آفشنونه استعمالوي بيا يې چې له خپلې دعوې لاس په سر کړي، بيا ورسره مالي کومکونه کوي ، ترڅو ټول په ټوله د کفر په ملت ورګډ کړي ، لهذا د کفارو ټول فعاليت د مسلمانانو د بې ايمانه کولو لپاره دى، د دوى يوه ښېګڼه هم د مسلمانانو په خير نه ده هر څه کې يې خپل يو هدف وي دا د قرآن کريم خبره ده.

مسلمانانو لپاره په کار دي، چې خپل ايمان کلک ونيسي ، د کفارو هره لوبه او مکر شنډ کړي ، يا به کفارو ته تسليمي او هغوى سره انډيوالي غوره کوي او يا به ايمان انتخابوي په يوه وخت د دواړو ټاکنه ممکنه نه ده ، که يې انډيوالې کوې نو بيا به يې اوامر هم منې بيا به د دوى پروژه يې، بيا به درته د ميلوني ډالرو کڅوړې راروانې وي ، خو له ايمانه به خلاص يې او حشر به دې هم د همدغه کفارو سره کيږي .

کفار په دې پوهه دي چې مسلمانان برحق دي او دوى سره د الله تعالى وعده ده چې دوى ته به الله نصرت ورکوي، نو دا کفار خپل ټول مالونه د همدى لپاره مصرف کوي او د تش په نوم مسلمانانو په اختيار کې ورکوي، ترڅو د مسلمانانو ايمان ضعيف کړي.

د کفارو ددې ټولو کومکونو اساسي هدف همدا دى ، چې غواړي په دې سره د مسلمانانو ايمانونه خراب کړي ، چې د همدې حربې په وړاندې يې ډيرې لکه د طالب په څېر د دوى دغه اصل ته غاړه کيږدي او څوک بيا خپل استقامت کوي ، او د دوى هيڅ فشار ، تمو او کومکونو ته سر نه ټيټوي لکه د اسلامي دولت زمري .

نو ورونو! کفار هيڅکله دا کومکونه پرته له کوم هدف همداسې مفت چاسره نه کوي ، ښه چې داسې ده نو دا کومکونه بيا د څه لپاره کوي؟

او آيا ددې کومکونو اخستل جائز دي که نه ؟

اول: دا ټولې مؤسسې چې کومکونه کوي، په شمول د سره صليب ... دا ټول د بين الملل غړيتوب لري ، دوى ټول د بين الملل د امر تابع دي او بين الملل د مسلمانانو سره په جګړه کې واقع دي نو د دوى څخه کومکونه اخستل جائز نه دي.

دويم: دا مؤسسات د صليب سرخ په شمول ټول د نصرانيت سازۍ پروژې دي ، د دوى کومکونو ترشا د نورو ګڼو اهدافو تر څنګ يو هم د نصراني کيدو پروسه ده ، په ځانګړي ډول نالوستى قشر په دې نه پوهيږي د دوى پټ هدفونه خورا زيات دي دوى سره روابطو څخه ځان ساتل په کار دي او بايد دا کومکونه يې رد شي .

دريم : دا مؤسساتو د بشر دوستانه او د خيرخواهۍ او همدردۍ شعارونه د خلکو د جلب لپاره کاروي بلکې اساسي هدف يې نصراني سازي ده ، دا شعارونه يې وسيله ده ، مسلمان که له لوږې مري هم دغه ذلت

او د نصرانیانو تلپاتې احسان به په ځان نه مني ، دا عوامو مسلمانانو ته داسې دي لکه په شهدو کې زهر .

څلورم: سور صلیب (صلیب سرخ) چې عربي مملکتونو کې ورته هلال احمر وایي دا یو سازمان دی، چې د 162 کاتولیکي تحالف څخه راجوړ شوی دی ،هدف یې نصراني سازي ده ۲۰۰ مملکتونو کې فعالیت کوي ۲۲۰ زره کاریګر لري چې په نصراني عقیده یې تربیه کړې دي ، ټول کار یې مستقیم او غیر مستقیم نصراني سازۍ لپاره وي ،چې فقیر او بیچاره کسانو ته د بشر دوستانه مرستو په نوم خپل زهر پاشي ، او همدې مرستو کې یې هم د صلیب شنه او سره علامه لګیدلې ده .

پنځم: دهمدې کومکونو او بشر دوستانه مرستو په چوکاټ کې چې یو برخه یې ادویه او د واکسین شعبه ده، د واکسین او نورو خیراتي دوایانو په نوم داسې مضري ادویه توزیع کوي چې ټول خلک ددې دوایانو په ضرر باندې نن سبا خبر شوي دي، که هغه د فلج په نوم واکسینونه دي او که نور ورته واکسینونه دي ځکه نو صرف محدودو مملکتونو کې چې اکثریت یې مسلمانان او فقیره طبقه ده، دا واکسینونه او خیراتي ادویه جات توزیع کیږي.

شپږم : ددغه مؤسساتو په کارکونکو په بار ، بار کفارو ته جاسوسي ثابته شوې ده، دوی خپل راپورونه همیشه صهیونیزم ته ورکوي ، د فلسطین په شمول اکثره اسلامي مملکتونو کې دا ثابته شوې ده ،چې د دوی کارمندان د جاسوسۍ پروژې مخ ته وړي او څو ځله په جاسوسۍ کې ګیر شوي دي .. د بیلګې په توګه به وو چې رافضي ایران بار بار دا خبره وکړه چې اسرائیل ، انګلیس او امریکا د صلیب سرخ چوکاټ کې جاسوسان رالیږلي ول چې دوی کې بیا د نازنین زاغري ایراني الأصله بریتانوی د ایران استخباراتو په همدی جرم ونیوله چې د انګلیس استخباراتو (M_I_6) ته یې جاسوسي کوله او د صلیب سرخ کارمنده وه. تاسې لږ فکر وکړئ چې دا ایراني الاصله بریتانوي جاسوسه همدې لپاره ایران ونیوله چې صلیب سرخ سره یې د ماین ګذارۍ بخش کې همکاري کړې وه او نور کوم فعالیتونه یې چې د صلیب سرخ چوکاټ کې کړي ول د ټولو هدف یې د معلوماتو لاس ته راوړنه وه نو اوس وواياست چې دوی خدمت ته راغلي که د خپلو نورو اهدافو تعقیب لپاره راغلي. ولو که د هدف لاس ته کولو په پار د خلکو د وژلو پروژه هم پرمخ بیایي نو ډیر مهارت سره قدمونه اخلي. نو آیا دغه نجسه طائفه به اسلامي هیوادونو ته مخلصین خلک راولیږي ترڅو د اسلامي ټولنې کامله درملنه او خیرخواهي وکړي ؟ که جواب منفي و خو پرضد یې عملي اقدام پکار دی، او که د چا په ذهن کې جواب یې مثبت وي نو د رب کلام سره بیا څه کوئ ؟

وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّى يَرُدُّوكُمْ عَنْ دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا وَمَنْ يَرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ (217) سورة البقرة.

ژباړه: هغوی به له تاسې سره تل په جنګ اخته وي آن تر دې چې که یې وسه ورسیږي، نو تاسې به له دې دین څخه واړوي او له تاسې نه چې هر څوک له دې دین څخه واوړي او د کفر په حالت کښې ومري، د هغه عملونه به په دنیا او اخرت دواړو کښې بابیزه او ضایع شي داسې خلک ټول دوزخیان دي او تل به په دوزخ کښې اوسیږي.

هو!

کوم کارمندان یې چې مخلص وي هغوی نصرانیت او سیکولریزم ته مخلص وي، لهذا دا سازمان د اسلام سرسخته دښمن دی نو دې کسانو سره هیڅ نوعه رابطه پکار نه ده او نه هم د دوی کومکونه قبلول پکار دي، د صلیب سرخ مرکز سویس کې دی او تاسیس یې هم د سود په پیسو شوی دی ځکه د دې سازمان مؤسس او موجد یو نصراني بانکدار و.

لهذا د دوی پر وړاندې به یوازې د قتل او قتال لاره پرانیستې وي او بس ترڅو د دوی د شومو اهدافو او استخباراتي پلانونو څخه مونږ او تاسې وژغورل شو.

مونږاو تاسې ولیدل چې په تیره شل کلنه دوره کې همدا صلیب سرخ د طالبانو او امریکایانو ترمنځ آزاد و، هم به د طالب صف ته ورتللو، د هغه زخمي به یې شفاخانې ته او مړي به یې مرده خانې ته منتقل کول او هم به یې د امریکایانو خدمت کاوه، نه طالبانو پرې کار درلود او د امریکایانو خو خپل خلک و.

د جنګ په لمړۍ کرښه کې هم دوی د امریکایانو په نفعه معلومات راټولول او طالب جنګیالي یې په لوی لاس د امریکایانو اسارت ته ورکول، آن تر دې چې په کره شواهدو سره ثابته خبره ده چې کوم زخمیان د صلیب سرخ شفاخانو کې تداوي کیدل، د هغوی څخه لاسونه یا پښې یا نور اندامونه قصداً او عمداً پرې شوي دي ترڅو دوی بیرته د جګړې ډګر ته ستانه نشي او ټول عمر معذوره تیر کړي. خو طالب د دې هر څه باوجود هم په سترګو لاسونه ایښې دي.

نو د کفارو داسې کومکونه همیشه غیر مستقیم وي، تر څو خلک د دوی په مخفي اهدافو باندې پوه نه شي او ورسره کوم حساسیت ښکاره نه کړي، نو مسلمانانو ته لازمې ده چې د داسې کومکونو څخه ځانونه وساتي.

د روسانو د یرغل پرمهال هم امریکې د پاکستان له لارې همدې ۷ تنظیمونو ته کال کې 700 میلونه ډالر د کومک او په نورو نومونو ورکول .

خو طالبانو دا خلک ټول د استخباراتو کړۍ معرفي کولې، خو نن بیا طالب ته چې د کال تقریبا دوه میلیارده (یو میلیارد او 920 میلیونه ډالر) کومک د همدې امریکا لخوا راځي، بیا دوی سوچه مسلمانان دي او دا پیسې لکه د غوا شیدې ورته حلاله دي.

یو طرف اسلام ځانته عالمي دین وایي او باید د نړۍ رهبري وکړي او بل طرف یې مقابل کې نصرانیت او سیکولریزم ولاړ دی او هغه هم همدا دعوه کوي چې باید د نړۍ رهبري موږ وکړو که هغه په دیکتاتور نصرانیت باندې کیږي او که په بې دینۍ (سیکولریزم) باندې کیږي خو باید د نړۍ هر ملک زموږ د جغ لاندې وي او د دوی هر مشکل او فیصله موږ ته راجع شي.

نو که چې داسې دعوه دواړه طرفه لري نو د رهبرۍ ترڅنګ د ټولنې نبض لاس کې ساتلو لپاره عامه خدمات وړاندې کوي چې نن سبا د ټولو عامه خدماتو رهبري د بین الملل د نظارت لاندې او د صلیب سرخ په چوکاټ کې د همدې کفارو لاس کې ده اودا ټولې مرستې د خپلو تخریبي موخو لپاره ویشي.

په بل تعبیر ویلی شو چې صلیب سرخ د کفارو د رهبرۍ لپاره یوه زمینه سازي او د خلکو ذهن سازي کوي او د مبارزې او مقابلې احساس یې د څو روپو کومکونو په ذریعه خاموشه کوي او له منځه یې وړي.

حتی له یوې خوا همدا د اسلام دښمنان، مجاهدین اسیرانوي، خو له بلې خوا د دوی هم فکره کسان راځي او همدې اسیر ته ډوډۍ او البسه او د فامیل سره د تماس نیولو په پار زنګ وغیره خدمات وړاندې کوي، هغوی ته ځان بشر دوستان معرفي کوي، حتی تر دې که څوک غواړي خپل قریب اسیر او مظلوم ورور سره کرغیړن او مخفي زندان کې ملاقات وکړي نو دا کار درته صلیب سرخ کوي، دا ولې ؟

دا ځکه چې سبا بیا دا هم هر میدان کې د همدې صلیب سرخ صفتونه شروع کړي او دا نظر او فکر عام کړي چې هو دوی سره کار مه لرئ، دوی بې طرفه دي، داسې او داسې احسانات یې یو وخت اسیرانو سره کول!!

چې همدا احسانات او خدمات وړاندې کول هم د دوی یوه برنامه او د اصلي اهدافو ترلاسه کولو لپاره د ښکاري دام دی، لنډه دا چې دا د سره صلیب یادونه مو د بیلګې په شکل وکړه نور ډیر موسسات چې د کفارو له لورې په هر نوم مرستې وړاندې کوي د دوی تر شا د دوی خپل تخریبي اهداف موجود دي ، او امریکا چې هم په مستقیم ډول هم د بین الملل په چوکاټ کې او هم د همدې خیریه مؤسیساتو په نوم کومې شیدې په طالبانو راپریښې دا ټولې له زهرو ډکې دي ، امریکا په دومره لوړه کچه هر اړخیزې مرستې د الله د رضا لپاره نه کوي او نه یې هم دومره په سر درد دی چې د طالبانو اسلامي امارت (!) په پښو ودروي ترڅو دوی دلته اسلامي نظام حاکم کړي ، د هر سالم عقل والا په دې پوهیږي چې د امریکا او نورې ټولې کفري نړۍ هر اړخیزې مرستې او طالبانو سره داسې خوږه دوستي او راشه ، درشه د ګڼو نورو اهدافو په شمول په همدې موخه کوي چې دوی په دوحه کې ډیزاین شوی پاکستانی یا امریکایي اسلام د اسلامي نظام په حیث د طالب په لاس په خلکو حاکم او ومني ، هغه نظام چې د وطنیت په کرښو کې راګیر او د وطنیت د کفري عقیدې په بنیادونو ولاړ وي .

هغه نظام چې په کې ټولو کفارو سره دوستي ، موالات ، راشه ، درشه د

دوی د امنیت ساتنه روا وي .
هغه نظام چې د کفارو په دفاع کې خپل جنګیالي لکه د لیونیو سپو په څېر جنګوي .
هغه نظام چې د کفارو ، مشرکینو ، مرتدینو او نورو ډول ، ډول طواغیتو ساتنه کوي د دوی د کلیساوو ، درمسالونو ګرجو تکیه خانو او مندرونو حفاظت کوي د دوی په شرکي مراسمو کې اشتراک او د دوی په عقایدو عمل روا بولي او د موحدینو قتل عام د دوی د مساجدو او مدارسو بندیدل په کې فرض او مکلفیت ګڼل کیږي .
هغه نظام چې د وطن په دآیره کې داخل هر مشرک او مرتد ورور ګڼي او له وطني بین المللي کرښو بهر د ټولو مسلمانانو سره برائت کوي او د هغوی د اشغالګرو او قاتلانو سره مینه او محبت لري .
هغه نظام چې ټول اقتصادي خرڅ يې په سودي پل تاویږي .
او هغه نظام ......
نو داسې یو نظام سره به څکه امریکا هر ارځینزي مرستې کوي دا ډیر زیات نور عوامل او لاملونه دي چې امریکا د طالب ملېشو سره په پراخه کچه مرستې کوي.

سوال : نو په داسې حال کې بیا طالبان ولې وایي چې خلافت د امریکا پروژه ده او د امریکا خلک دي ؟

لمړی ځواب :اول دې مرتدینو ته وایو چې د اشرف غربي حکومت د چوکۍ لاس ته کولو سره مو ټول دار او مدار په امریکا وپلوره ، عزتونه مو په امریکایي بازار قطر کې لیلام کړل، په دې خاطر چې د افغانستان قدرت تر لاسه کړئ، خو دا خبره به مو هم ورسره کړی وی چې دا داعش (!) ته هم ووایي مونږ سره نور کار ونه لري او له امریکا به مو دا هم غوښتی وای چې ستاسې په اصطلاح خپله پروژه (!) داعش هم ځان سره یوسي، لکه څنګه چې امریکا مخکنې ټول مامورین خالي سلاح او بې مسولیته کړل او مسولیت یې تاسې ته وسپاره داسې به یې له داعش هم هر څه اخستی وای کنه ؟
امریکا سره د اسلامي خلافت د مثالي جګرو شدت ته خو تولو نړۍ ګوته په غاښ حیرانه ده .
عجیبه ده د امریکا پروژه د اسلامي خلافت مجاهدین دي په داسې حال کې د اسلامي خلافت مجاهدین د همدې امریکا په چاپو او بمبارونو کې شهیدان شول ، د خراسان په سلګونو مشران او په زرګونو کشران د همدې امریکا په بمبارونو کې په شهادت ورسیدل ،د زرګونو کروزنو او بې حسابه درنو بمونو بمبار یې د اسلامي دولت په خاوره له هیڅچا پټ نه دی ،هغه چې تاسې تړې د خپلو عسکرو دیوال تاو کړی وو او ۱۳ امریکایان همدا ستاسې منځ کې د اسلامي دولت زمرو ووژل او 18 نه یی زیات یې شدید زخمیان کړل دا به څنګه او په څه طریقه له چا پټ کړئ .
امریکایان خو اوس ستاسې د ادې زامن شول ، نو خپلو امریکایي ورونو او خاله زامنو ته مو ووایي کنه چې داعش ته خبره وکړئ چې دا عملیات دربانډی بند کړي، تاسې خو وایې دا د امریکا خلک دي، او امریکا ته هم تاسې شکست ورکړی دی .
یو چینل کې خو ورسره رابطې هم تاسې لرئ، مجلسونه هم ورسره تاسې کوئ ، پټې استخباراتي ناستې هم ورسره ستاسې روانې دي ، د ډالرو کڅوړې هم تاسې ته رالیږي ، یو ځای ورسره سفرونه او خوراکونه هم تاسې کوئ ، د رسمیت زاری هم ورته تاسې کوئ ، د سفارت د راوړلو ننواتی ته هم تاسې قطر ته ورځئ ، او د امریکا پروژه داعش شوه ؟
دا به درسره کوم عقل او کوم منطق ومني .
نو که داعش د امریکا خلک دي بیا ولې دا خبره ورسره نه کوئ، تاسې اشرف غربي سره خبری نه کولی چې دا کس د امریکا غلام دی، خو تاسې په غلامی کې مخکې والې وکړ اشرف غربي مو راوروسته کړ تاسې ورمخ ته شوئ ، اوس نو خپلو امریکایي بادارانو ته ووایي چې د داعش عملیاتو څخه هم نجات درکړي ، اوس خو درسره امریکا په شریکه د اسلامي خلافت د ختمیدو لپاره لاس په کار ده ..
دلته بله خبره دا ده دوی چې وایي مونږ امریکا ته شکست ورکړ او بیا وایي داعش د امریکا خلک دي او مونږ باندې عملیات کوي، نو بیا خو ستاسې ادعا باطله شوه امریکا شکست ونه خوړ څکه د امریکا خلک داعش(!) اوس هم تاسې باندې عملیات کوي او تاسې بیا د همدې امریکایانو لمنه نیولي وي،کله قطر ته ورمنډې وهئ او کله یې بیا اسلام برباد ته .
یو طرف وایي امریکا ته مو شکست ورکړ، بل طرف د امریکا خلک مو روزمره وژني او تاسې اوس هم د همدې امریکایانو حفاظت کې لکه د لیونیو سپیو هر لور ته خولې اچوئ او شپه او ورځ د همدې امریکا چوکیداري کوئ .
نو بیا تاسې ډیر بیغیرته قوم یاست چې هم اوس مو امریکایان وژني او بیا هم امریکایانو ته سوال او زاری کوئ له دوی ساتنه کوئ او بیا دا خبرې هم کوئ چې داعش د امریکا خلک دي، داعش چې تاسې وایئ د امریکا خلک دي، همدې داعش میدان هوایي کې ستاسې د امنیتي کمربند باوجود ۴۰ پوری امریکایان مرداران او زخمیان نه کړل ،اوس بیا هم مونږ د امریکا خلک او تاسې امریکا ته شکست ورکونکي یاست.
امریکا ته خو اوس تاسې له هرې لارې د دوستی پیغامونه ورلیږئ امریکا ته د دښمن په سترګه نه ګورئ، د دوستی لاسونه ورته وراندی کوئ، نو بیا دا داعش (!) چې د امریکا خلک دي، دوی سره ولې دښمني کوئ؟
ولی شکست خوړلي امریکا ته نه وایي چې دی دا داعش خیر که په عذر او زاری هم وي درمنعه یې کړئ ، ورته ووایي چې صرف موقت څو ورځې مونږ باندې عملیات بند کړي ؟
که نه بیا ستاسې دا ادعا چې امریکا وتلې ده ، باطله ادعا ده، څکه بیا خو وتلې نه ده کسان یې اوس هم تاسې وژني!
امریکایي طیارو کې تاسې ښکته پورته کیږئ، د دوی ساتنه کې تاسې مصروف یاست دوی سره ښه روابط تاسې غواړئ، دوی له تاسې تقاضاوې لري، له دوی تاسې غوښتنې لرئ ، دوی ته تاسې د سوال او زاریو لمن غوړولی، له دوی رسمیت تاسې غواړئ ، دغه د امریکا ډاکو قوم ته دنجیب قوم او نورو غورو القابو په استعمالولو کې خولې ستاسې ستړې دي ،دوی ته تاسې وایې چې سینه مو پراخه کړئ ، دوی ته تاسې وایي چې زمونږ طرف نه درته امن دی.
دوی ته تاسې وایي چې زمونږ خاوره به ستاسې مقابل کې استعمال نه شي، دوی اوس هم ستاسې د قطر د دفتر او هلته میشتو مشرانو د ساحلونو او سالونونو د عیاشیو خرڅې درکوي . د دوی په اجازو اوس هم تاسې سفرونه کوئ.
د دوی رالیږلي معاشات اوس هم تاسې په خپلو منځونو کې ویشئ .
ددوی په طیارو کې همدا تاسې ټیټ سر سفرونه کوئ. د دوی دروازو کې تاسې په زاریو او بغارو اخته یاست.
د دوی د جاسوس خانو د را انتقال په زاریو ستاسې خولې ستړې شوې.
د دوی ټول پټ او ښکاره اهداف تاسې عملي کوئ .
دوی ته دوستان تاسې وایې او افسوس ډیر افسوس . آخر بیا د امریکا خلک او د امریکا پروژه مونږ شو؟
نو بیا هم تاسې امریکا ته شکست ورکړی دی او تاسې د امریکا خلک نه یاست .
چا چې ورسره هر میدان کې د جګړی اعلان کړی دی ؟
هر ځای کې که په لاس ورشي وژني یې او د کفارو یو قانون نه مني، عملي یې تخریب کړی او سرغړونه یې تری کړې .
هغه خلک چې بین الملل ته طاغوت وایي او دغه کفري اصولو ته غاړه نه ږدي او کفری نهادونو په نوم یې یادوي هغه خلک چې کشر نه تر مشر پوری د نړۍ د کفارو او ورسره د تربیه شویو سپیو د ښار لاندې دي او د دوی لټون پسې سرګردانه دي نو دا خلک بیا د امریکا پروژه شوه؟
بله خبره دا ده چې پروژه تر شاه بودیجه غواړي، هر څوک چې یو پروژه ورکوي، نو تر شاه یې بودیجه هم ورکوي، بیا څوک چې غواړي دا پروژه تطبیق کړي ، د پروژې دمالک او صاحب له لوري ورته قسط واره بودیجه ورکول کیږي .
او دا د قسطونو مقدار هم ورته هغه وخت د پروژی مالک ور زیاتوي ، کله چې د خپلې پروژی د تطبیق څخه مطمین شي او پوه شي چې هو څه کار شوی دی ،نو بیا هماغه د خپلې پروژې د تطبیق په خوشحالی کې دپروژې تطبیق کونکي ته زیات مقدار پیسې ورکوي مخکې یې که اونی کې یوه کڅوره ورته رالیږله بیا ورته د ورځې یوه کڅوره رالیږي او کله، کله ورته یو شاباسې هم ورکوي .
نو نن تاسې وګورئ چې امریکا چاته بودیجه ورکوي؟
دا هفته وارې کڅوړې چاته را روانې دي؟
هغه چاته چې پروژه یې ورته عملي کوي او مخ ته بیایي او که

نه هغه چاته چې د پروژو مخه یې نیسي او پروژې یې عملي کیدو ته نه پریږدي؟

او تاسې دا هم وګورئ کومه هفته چې د خلافت مجاهدین شهیدان شي، بیا هغه هفته امریکا خپلو ملیشو ته هفته کې دوه څله ۴۰ میلیوني کڅوړې رالیږي، چې ۴۰ یې معاش او ۴۰ یې بیا یو شاباسې ورکول وي، او سم ترینه خوشحاله شي ،یو ځل یې هم بیا دوحه ته غواړي او ورته وایي هو همداسې مخ ته لاړ شئ او همدې کیفیت او منوال باندې د پروژې تطبیق روان وساتئ.

نواوس یو څوک درته پروژه درکړي، نو ته له هغې څخه مال اخلې او که جنګ ورسره کوې ؟ څوک چې تاته پروژه درکوي هغه بیا درسره جنګ کوي، که کومک درسره کوي او رهنمایي درته کوي، وخت په وخت درڅخه راپور غواړي او خپل دفتر ته یې د حساب ورکولو لپاره غواړي، او دا مالومات درڅخه کوي چې آیا د نقشې مطابق تللي یې که نه ؟.

اوس خلافت مجاهدین د امریکا پروژه شوه چې هر وخت امریکا او ورسره هر کافر ته د کلاشنکوف په شپیلۍ ځواب ورکوي او که مرتد طالبان شول چې ورسره پټې او ښکاره ناستې کوي او پرې ډالر شیندي؟ خو معلومداره خبره ده، چې هفته په هفته د خپلې پروژې تطبیق لپاره خپلو مزدورو ملیشو ته مرسته رالیږي او بیا راپور ورکولو لپاره یې دوحې ته غواړي او راپور ته یې د نقشې مطابق نظر کوي چې په همدغه نقشه تللي دي که نه ، په کوم ځای کې چې ترې لږه بې غوري شوې وي نو غوږونه یې ورتاووي او بیرته یې رالیږي چې د نقشې مطابق درست کار وکړئ ، طالب ته وایو چې خیر مزدوري کې شرم نشته دی، همدا لاره مو چې مزدوري (پیسو ګټلو) ته انتخاب کړه، بیا شرم مه کوئ، علني اعلان وکړئ، هسې مو ولې سترګې مرې دي نو .

د طالب مرتدینو څېني کشرخیل وآیي چې دا ډالر او نوري مرستې مستقیم دولت او موږ ته نه راکول کیږي، بلکې، خپله مؤسسات یې مصرفوي، خه اوس دا خاوره ستاسې ده که د خارجي مؤسساتو، چې په دوموره لوړه کچه مصارف کوي ؟

همدا خبره موږ کوو چې اوس هم د افغانستان واک خارجیانو سره دی، نو تاسې داسې خبرو سره غیر مستقیم اعتراف کوئ او چیغې وهئ چې هو دا پیسې خپله مؤسسات تقسیموي او موږ یې امنیت نیسو، څه دوموره صلاحیت او استقلالیت دی مؤسیساتو ته چا ورکړ؟ ستاسې خدمت بیا رعیت ته څه دی ، چې حتې کالي او ډوډۍ پورې دا کفري مؤسیسې ورکوي ؟

د مؤسیسو رئیسان او مشران چېرته دي او کوم ملک یې تمویل کوي، دا مؤسسات دا پیسې له کومه کوي،خپله ډیپسو د چاپ ماشینونه لري که څنګه ؟

او په دې نوره نړۍ کې هم کفار شته دی که نه، چې هغوی خپله له لوږې مري ، خو بیا راځي دلته د افغانستان کونج، کونج ته،لاس په لاس خپل کومکونه ویشي، که دا مؤسساتو والا دوموره شریف او با احساسه خلک دي، نو دا دوموره وخت مو ولې وژل ؟ تاسې تېر جمهوري نظام د کفارو نظام ګڼئ ، او دا خبره مو کوله چې دلته واک د کفارو لاس کې وه او افغان مرتدین یې صرف امنیت ساتي، هغه وخت خو همدې مؤسساتو د دولت څخه بیخي مستقل خپل کار کولو او دولت سره یې تر ډیره په ډیرو مواردو کې تړاو نه درلود ، نو بیا مو ولې هغه وخت دا خلک وژل چې نن تاسې وایې دا خلک زموږ دولت سره تړاو نه لري مستقل کار کوي ، نو ددې کار زمینه ورته چا برابره کړې ، دا امنیت یې څوک ساتي ؟

دی مؤسیساتو چې مخکې د جمهوریت وخت کې خپل مستقل کار کولو هغه وخت کې تاسې د کفارو د جواسیسو او د نصرانیت د پروژو په نومونو یادولې ، نن بیا چې په هماغه اصولو باندې خپل کار مخ ته بیایي او مستقل خپل کار کوي، دوموره تاسې ته اهمیت نه درکوي، چې پیسې هم په خپل لاس تقسیموي ، نو بیا خو خپل د کار او مخفي اهدافو باره کې خو بیخي تاسې سره خبرې هم نه کوي، او نه اهمیت درکوي او نه حسابي درکوي او نه مو کیسه کې دي، بیا د دوی دې کار ته څنګه اوس جواز ورکوئ ؟

بل دلته سوال دا دی چې ولې دې مرستو باندې تاسې شرمیږئ، کله تاسې وایې چې دا زموږ حکومت ته نه ورکول کیږي، ځکه د امریکا کومک دی او مستقیم یې موسیسات تقسیموي، نو حتمي کومه شبهه لري، چې تاسې ترینه خپل ځان مستثنی کوئ، نو چې خپله په دې خیرات شرمیږئ، ولی بیا اجازه ورکوئ چې راشي ستاسې د حکومت مشروعیت او هر څه د سوال لاندې راولي ، چې یو حکومت خپلو خلکو ته ډوډۍ نه شي ورکولای، او کفار وایي چې موږ د اروپا څخه خیرات راټول کړی او تاسې ته مو رسولی دی نو بیا ولې د کفارو پیغور باندې نه شرمیږئ ؟

نو لنډه دا چې طالبان د اسلامي خلافت سره د جنګ هیڅ مجوز دلیل نه لري ، خپل کشرخیل او دا کرایي جګړه ماران په همدې خبرو دوکه کوي ، د دوی کشرخیل هم د پسونو د رمې په څېر دي ، مشران یې شنه ګیا ورښایي نور نو په حرامو او حلالو نه دي که د هر چا په پټي یې ورواچول فقط خیټې ډکوي ، دوی سره دا فکر نه شته چې د دوی مشران په علني شکل د امریکایانو سره ناستې ولاړې ، پټ مجالس لري ، همغوی سره استخباراتي کنفرانسونو کې برخې اخلي او همغوی ورته په یو چینل کې هدایات ورکوي چې دا ټول د دوی خپل اعترافات دي او د دوی ټولو معاش د میلوني اونیزو ډالري کڅوړوکې ورته امریکا رالیږي ، خو دا رانده چرګان بیا په دې هر څه سترګې پټوي او د خپل مشرانو همدا خبرې چې : داعش د امریکا پروژه ده ، منې او پرته له کوم فکر او تحقیق څخه خپل دنیا او اخرت خرابوي .

که څه هم لله الحمد په دې وروستیو کې اوس د ډیرې طالب کشرخیلو سر خلاص شوي او د امریکا پروژه یې پیژندلې ، اوس نو د دوی دغه تبلیغاتو هم تر ډیره خپل اغیز له لاسه ورکړی ، خو دوی کلاریږي نه ، بلکې د اسلامي دولت د بدنامولو لپاره چې د هرې ممکنه وسیلې او تبلیغ څخه دوی ته ګټه رسیږي نو بریک پرې نه نیسي ، اوس ددې عصر خوارج طالب ملیشې چې د ارتداد په شمول په کې د خوارجو ټولې نښې موجودې دي په داسې حال کې دوی اوس همدې تبلیغاتو ته زور ورکړی چې داعش خوارج دي چې په دې اړه به په یوه بله رالیږل شوي پوښتنه کې تفصیلي جواب وکړو ان شاء الله

د ملل
ملحده امارت

د ملل ملحده امارت

وایي : اوبه چې دې له سره واوړي څه یې یوه نیزه او څه یې دوه نیزې ، نو د طالب ملیشې هم د کفر په مردار ډنډ کې ورډوب شوي ، اوس یې نو کېسه کې نه دي که له سره یې اوبه یوه نیزه پورته وي او که دوه نیزې ، دوی هسې هم وایي چې غرق یو اوس نو هر کفر کول هیڅ باک نه ګڼي ، بلکې فخر پرې کوي ، دوی خپل هر کفر ته په ډیر زور یوه توجیه راوباسي او د خیاطانو کوشش یې دادې چې ددوی شکیدلیو پرتوګونو ته د څرمنې پیوندونه واچوي ، خو نه توانیږي چې د شرم ځایونه یې پټ کړي . عجیبه ده د امریکا په تر ټولو ستره استخباراتي هډه قطر کې په یوه وخت د نړۍ ټولو کفارو سره تر نامعلومې نیټې ترسره کړې ترون چې په پایله کې د کابل ګدۍ ته د رسیدو په مقابل کې دوی ته د شریعت په نامه د دیموکراسۍ نوې بڼه د تطبیق لپاره وسپارل شوه او د جمهوریت د تیرو مرتدینو په څیر د کفارو د امن ساتنې عسکر شول ، همغه د اشرف غني ټپې اوس ددوی په خولو دي ، هغه به ویل چې دوی د واشنګټن ساتنه کوي اوس یې نو همدا خبرې د ملا برادلي ، متکي او ستانکزي په خوله دي او هر سحار کفارو ته امنیت ساتنې په ډاډ ورکولو پیلوي. د تسلیمۍ همدا شوم ترون چې عمده هدف یې د حقیقي اسلامي شریعت مخه نیول او د اسلامي دولت د مجاهدینو مقابله کول دي دوی په ډیره سپین سترګۍ د حدیبې د سولې سره پرتله کوي ، زموږ ددې مقالې موضوع دا نه ده ، په دې اړه موږ د خراسان غږ په تیرو ګڼو او همدا راز د العزائم اداري څخه ځانګړې کتابونه خپاره کړي چې د طالب ملېشو له شرمه ډک ددې ترون مادې د شریعت په تله تلل شوي او د حدیبې د سولې په مختلفو اړخونو رڼا اچول شوې تاسې د لا زیاتو مالوماتو لپاره همغه کتابونو او مطالبو ته مراجعه وکړئ ، اوس راځو دې ته چې علت څه دې چې طالب ملېشې په یوه وخت د نړۍ ټولو حربي کفارو ته هغه کفارو ته چې اوس هم اسلامي امت سره په جګړه بښکیل دي اوس هم ټوله اسلامي خاوره ددوی له لورې اشغال ده او اوس هم ددوی زندانونه د اسلامي امت د لوڼو او بچو څخه ډک دي خو په یوه وخت همدې ټولو کفارو سره دوی د نامعلوم وخت پورې ددوی په اصطلاح سوله کړې ، او داسې سوله چې هیڅ ډول نقض نه لري داسې فولادي سوله ده چې په هیڅ شي نه ماتیږي . دادې اوس نو کله د امریکایانو څخه پّ دفاع کې وژل شوي وي ، کله یې د اسلامي امت د سترو قاتلو روسانو سره یو ځای مردارې وینې بهیږي ، کله هندوانو سره یو ځای د اور د لمبو خوراک وي ، کله د شرقي ترکستان د اشغالګرو او د میلونونو یغوري مسلمانانو له ناموس لوټونکو چینایانو څخه له ځانه دفاعي دیوالونه جوړ کړي وي کله د روافظو په ساتنه کې وژل شوي وي او کله بیا د نورو کفارو مشرکینو او طواغیتو په حفاظت کې سره شریکې وینې روانې وي ددې ټولو علت د اسلام د اساسي فهم او احکامو څخه ناخبري یا تحریف او غلط تعبیرول ، بیځایه ضد او عناد ساتل ، د پیسو ، عرادو او واک لاس ته راوړو په شمول نور ګڼ لاملونه دي چې طالبان یې د ایمان څخه کنګال او د کفارو په کم کرایه ملیشو او د دیموکراسۍ د تطبیق د پروژو په مامورینو بدل کړل.

او اوس نو دادې دنړیوالې کفري ادارې ، ملل متحد (ملل کفر) چې وظیفه یې په نړۍ کې د دیموکراسۍ د تطبیق څارنه د کفارو د ګټو ساتنه او پالنه ، د اسلام نابودي او د سلمانانو وژنه ده په همدغه ملت کې د غړیتوب لپاره طالب مشرکین شپه او ورځ په زاریو بوخت دي ،ددې کفري شرائطو د عملي کولو تکراري اعترافات کوي ، او چې ددغه کفري غوجل څخه کوم ځناور افغانستان کې د اسلامي نظام په نامه په دوحه کې د ډیزاین شوې پاکستاني او امریکایي اسلام د تطبیق د څارنې لپاره راشي نو بیا ورته ټول طالب مرتدین داسې خوشاله وي لکه خورینو کره یې چې ماما لاړ شي او ماشومان خورین یې ورته په دوه پښو ګډیږي چې ماما هسې څټ وګروي نو د خوري یې تمه پیدا شي چې اوس به نو پیسې راکوي داسې حال د طالب ماشومانو هم دې ، اوس نو د اسلامي امت په خلاف د سترو دسیسو او جاسوسي برنامو طراحان چې افغانستان ته په خپل ماموریت رالیږل شوي دوی نو ورته له خوشالي څخه په یوه پښه ګډیږي او اتڼونه کوي .



طالب ماشومان یې اوس په دې ډب نه دي، نور د کفر او اسلام کېسه کې نه دي ، فقط دې ته خوشاله دي چې کفارو سره راشه ، درشه او صمیمي اړیکې ولري کله دا حربي کفار او داسلامي امت د وینو څښونکي درنده ګان ددوی میلمانه وي او کله یې دوی میلمانه وي .

هو!

نور نو دا د قبرونو ،زیارتونو ، مندرنو ، ګیرجونو ، درمسالونو امارت ، دا د سفارتونو ، د کفارو د جاسوسۍ د فعالیتونو د دفترونو او ددوی د دیپلواتانو ساتونکې امارت، دا د اسلامي نظام په نامه د امریکایي اسلام تطبیقونکې امارت ، دا د ملل ملحده مامور امارت اوس دشرم په نامه کوم ارزښت نه پیژني چې په داسې کړنو د کوم شرم احساس وکړي . درنو لوستونکو ! موږ د ملل ملحده (ملګرو ملتونو) د پیژندنې او ددوی د کفري شرائطو په اړه د مجلې په تیرو ګڼو او د العزایم خپرندویه اداري څخه ګڼ کتابونه او مقالې خپرې کړي تاسې یې د لازیاتو مالوماتو لپاره هغې ته مراجعه وکړئ خو دلته به په لنډ شکل یو ځل بیا د مسلمانانو د لا زیات پوهاوي لپاره د بین الملل د کفري منشور له ګڼو کفري مادو څخه د د اسلامي شریعت په تله یو څو مادې وتلو او په دې لنډ بحث وکړو چې (ملګري ملتونه) څنګه یې چې له نومه ښکاره ده ټول په کې د یو هدف او یوې عقیدې ملګري راټول دي ددوی د ملګرتیا شرائط څه دي او دغه شرائط د اسلام سره څومره په ټکر کې دي او ددی شرائطو عملي کونکي او په دې اعتراف کونکي مسلمانان دي که د کفارو ملګري دي ؟ راځئ د مقالې ترپایه راسره اوسئ .

هو! په بین الملل کې د عضویت او رسمیت لپاره چې کفارو کوم شرایط ټاکلي او طالب مشران د دې شرایطو د پوره کولو اعتراف کوي نو هغه سل په سله له اسلام سره منافي دي، په ملل متحد کې د غړیتوب اخیستنې او رسمیت ورکونې د شرایطو ځینې برخې یې د بېلګې په شکل ذکر کوو او وروسته یې بیا د شریعت په تله تلو، د بین الملل د منشور له مخې د نړۍ د هیوادونو ټولې چارې باید د امنیت شورا وڅاري او د دوی پریکړې ټولو ته د منلو وړ دي نه د الله پریکړې . د دې شورا دایمي غړي امریکا ،فرانسه ، روس ، چین او برطانیه دي ، د منشور په سریزه کې راځي:

د ټولو انسانانو که هغه هندو وي، که سک وي ، که یهودي وي او که د بل هر دین کافر او مشرک وي د مسلمانانو په شمول ټول باید یو ډول مساوي حقوق ولري.

حال دا چې تاسې پوهیږئ چې الله عزوجل د انسانانو ترمنځ یعنې د ښځې او نارینه او همداراز بیا د کافر او مسلمان، عالم او جاهل او نورو... ترمنځ فرق کوي لنډ وضاحت یې دلته ولولئ:

د نارینه له ښځینه سره فرق په مشرۍ کې دی، ښځینه عمومي مشره نشي جوړېدای، نظامي قومندانه نه شي جوړېدای او قضاوت نشي کولای، امامت صغری هم زنانه و ته نشي ورکول کیدای، همدا راز زنانه په عورت، میراث، ګواهۍ او نورو ډېرو مواردو کې له نارینه سره فرق لري.

خو ملل متحده دغه ټول فروق حرام ګڼي.

او هغوی د ښځې او نارینه ترمنځ په مساوات قایل دي او په ملل ملحده کې د چوکۍ اخیستو لپاره دا هم یو شرط دی چې طالب مشران یې خپلو کافرو بادارانو ته د پوره کیدو ډاډ ورکوي.

همدا راز د کافر او مسلمان ترمنځ په فرقونو له قران او احادیثو څخه بې شمیره دلایل موجود دي یو څو یې دلته ولولئ:

دا خبره د قرآن د صریحو ایاتونو خلاف او کفر ده، الله فرمایي:

أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّـَٔاتِ أَن نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ [سُورَةُ الجَاثِيَة :21]

ژباړه: ایا هغه کسانو چې د بدۍ مرتکب شوي دي، دا انګېرلې ده چې موږ به هغوی او ایمان راوړونکي او نېک عمل کوونکي سره برابر کړو چې د هغو ژوند او مرګ یو شانته شي؟ - ډېره ناوړه فېصله ده- چې دوی یې صادروي.

أَفَمَن كَانَ مُؤْمِنًا كَمَن كَانَ فَاسِقًا لَّا يَسْتَوُنَ [سُورَةُ السَّجدَة: 18]

ژباړه: ایا دا کېدای شي څوك چې مؤمن وي هغه دې د هغه چا په څېر شي چې فاسق وي؟

دغه دواړه نشي برابرېدای.

أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ كَالْمُجْرِمِينَ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ [سُورَةُ القَلَم:35 ـ 36]

ژباړه: ایا موږ به د امرمنونکو حال د مجرمانو په څېر کړو، په تاسې څه شویدي، تاسې څنګه حُکم صادروئ؟!

لَا يَسْتَوِىٓ أَصْحَٰبُ النَّارِ وَأَصْحَٰبُ الْجَنَّةِ أَصْحَٰبُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَآئِزُونَ [سُورَةُ الحَشر : 20]

ژباړه: دوزخ ته تلونکي او جنت ته تلونکي هیڅکله یو شانته نشي کېدای، همدا جنت ته تلونکي په اصل کې بریالي دي.

قُل لَّا يَسْتَوِى الْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ [سُورَةُ المَائدة : 100]

ژباړه: اې پېغمبره! دوی ته ووایه چې پاك او ناولي په هیڅ شان یو شانته نه دي.

قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِى الظُّلُمَٰتُ وَالنُّورُ [سُورَةُ الرّعد : 16]

ژباړه: ووایه! ایا ړوند او سترګې لرونکی سره برابرېږي؟ ایا رڼا او تیاره یو شان وي؟

وَمَا يَسْتَوِى الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ وَالَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ وَلَا الْمُسِىٓءُ قَلِيلًا مَّا تَتَذَكَّرُونَ [سُورَةُ المؤمن / غَافر : 58]

ژباړه: او دا نشي کېدای چې ړوند (غافل) او سترګې لرونکی (عالم) یو شانته شي؛ او ایمان لرونکي صالح خلك او بدکار برابر شي؛ خو تاسې بیخي لږ متوجه کېږئ.

أَمَّنْ هُوَ قَٰنِتٌ ءَانَآءَ الَّيْلِ سَاجِدًا وَقَآئِمًا يَحْذَرُ الْءَاخِرَةَ وَيَرْجُوا رَحْمَةَ رَبِّهِ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُوا الْأَلْبَٰبِ [سُورَةُ الزُّمَر : 9]

ژباړه: (ایا د دغه انسان کړنلاره غوره ده او که د هغه چا) چې امر منونکی دی، د شپې په ساعتونو کې ولاړ وي او سجدې کوي، د اخرت څخه ویریږي او د خپل رب رحمت ته هیله من کیږي؟ له دوی څخه پوښتنه وکړه " ایا پوهېدونکي او نه پوهېدونکي یو شانته کېدای شي؟"- نصیحت خو د پوهې خاوندان مني.

لَا يَسْتَوِى مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَٰتَلَ أُولَٰٓئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ

الَّذِينَ أَنفَقُوا مِن بَعْدُ وَقَٰتَلُوا وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ [سُورَةُ الحَدِيد : 10]

ژباړه: ستاسې څخه چې کوم کسان له فتح (بري) څخه وروسته مالي لګښت او جهاد وکړي، هغوی هیڅکله له هغو خلکو سره نشي برابرېدای چې له فتحې څخه مخکې یې مالي لګښت او جهاد کړیدی؛ د هغو درجه په وروسته وخت کښې له مالي لګښت کوونکو او جهاد کوونکو څخه ډېره ستره ده؛ که څه هم الله له دې دواړو سره غوره وعده کړېده، څه چې تاسې کوئ الله پرې خبر دی.

اوس نو تاسې خپله فکر وکړئ چې الله څه وایي او دلته د طالب ملا څه وایي.

طالب ملا د خپلو کافرو بادارانو په خوله او فرمایش دا فروق مکمل ختموي او په دې اعتراف هم کوي.

د ملل متحد منشور چې طالبان یې خپلو کافرو بادارانو ته د عملي کیدو سل په سله ډاډ ورکوي په هغه کې دا هم راغلي :

نړیوال قوانین ، اصول او تړونونه باید له هر څه مقدم او محترم وګڼل شي.

نو طالب مشرانو ملل ملحده سره دا منلې چې هو دوی ته به د نړیوالو قوانینو؛ ټول اصول او تړونونه مقدم وي او د منلو ډاډ یې ورکړی خو د الله په کتاب او قانون د نړۍ کفري وضعه شوي قوانین مقدم ګڼل اسلام دی که کفر؟

لنډ وضاحت یې دلته ولولئ:

د طالبانو لخوا د ملګرو ملتونو کفري او وضعي قوانین په اسلامي شریعت مقدم کول کفر بواح دی.

د کفري قوانینو تقدیم او ترجیح په کتاب او سنت باندې اتفاقي ناقض دی، لکه: سلف له دې ناقض څخه داسې تعبیر کوي:

تقديم القوانين الوضعية، على الشرائع السماوية، شرک و ردة وتكذيب لمحمد صلى الله عليه وسلم والدليل على ذالک قال الله تعالى: وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا (سورة الكهف : 26)

اضواء البیان کې علامه شنقیطي وایي:

أَنَّ مُتَّبِعِي أَحْكَامِ الْمُشَرِّعِينَ غَيْرِ مَا شَرَعَهُ اللَّهُ أَنَّهُمْ مُشْرِكُونَ بِاللَّهِ.

ژباړه: څوک چې د الله له شریعت پرته د بل چا د جوړو کړیو قوانینو پیروي وکړي نو دا مشرک بالله دی، الله فرمایي:

أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُم مِّنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَن بِهِ اللَّهُ.[سورة الشورى :21]

ژباړه: ایا دا خلک له الله سره داسې شریکان نیسي چې د دوی لپاره یې د دین داسې طریقې غوره کړې دي چې الله د هغې اجازه نه ده کړې.

چې یهودیان او نصاری د منسوخو اسماني دینونو منلو سره کفار ګرځي، نو طالبان به څنګه د ملګرو ملتونو وضعي او شرکي قوانین منلو سره مرتدین نه ګرځي؟

د علماء النجد مشهوره فتاوی الدرر السنية ج ۲ ص ۳٦۱ کې هغوی وایي:

من اعتقد أن هدي غير النبي صلى الله عليه وسلم أكمل من هديه، أو أن حكم غيره أحسن من حكمه، كالذين يفضلون حكم الطواغيت على حكمه، فهو كافر.

ژباړه: څوک چې پدې عقیده وي چې د بل چا طریقه د نبي صلی الله علیه وسلم له طریقې ځینې غوره او یا پوره ده لکه هغه څوک چې د شریعت د قانون په وړاندې د طاغوتي حاکمانو قوانین مني نو دا کافر دی.

الله فرمایي:

فَإِن تَنَٰزَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْأَخِرِ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا [سُورَةُ النِّسَاء: 59]

ژباړه: بیا که ستاسي تر منځ په کومه چاره کښې شخړه پیښه شي؛ نو هغه د الله او رسول لوري ته محوله (وړاندې) کړئ، که تاسي په رښتیا سره پر الله او د اخرت په ورځ ایمان لرئ، همدا د کار یوه سمه طریقه ده او د عاقبت په اعتبار هم غوره ده.

امام ابن کثیر رحمه الله وایي:

"فدل على أن من لم يتحاكم في محل النزاع إلى الكتاب والسنة ولا يرجع إليهما في ذلك، فليس مؤمنا بالله ولا باليوم الآخر."

[تفسير ابن كثير ج2/صـ346]

ژباړه: نو دا پدې خبره دلیل دی چې څوک د جګړې او اختلاف پر وخت خپله فیصله کتاب او سنت ته ور نه وړي او دې دواړو ته را ونه ګرځي، نو دا په الله او ورځ د آخرت ایمان نه لري.

همدا راز د ملل ملحده منشور وایي:

ټول غړي هیوادونه باید د بشپړې آزادۍ د تطبیق لپاره کوښښ او مبارزه وکړي،

دا چې بشپړه کفري آزادي څه ده؟ راځئ دلته یې ولولئ او ایا اسلام یو انسان ته بشپړه آزادي ورکړې ده؟ چې څه یې زړه وغواړي هغه وکړي ؟

نه هیڅکله داسې نه ده راځئ ولولئ چې بشپړه آزادي څه ته وایي : له بشپړې آزادۍ نه مراد هم جنس بازي، لواطت، زنا، ردت، او بې دیني ده. حتی که یوه زنانه حیوان ته خپل خاوند وایي، ملګري ملتونه قانونا هغې ته حق ورکوي او طالبان به یې ورسره منيي،:

بشپړه آزادي څه ته وایي؟

دا چې سیکولریزم له ادیانو او الهي شرائعو څخه په انکار او په ځای یې خپلو نفسي خواهشاتو ته په التزام بناء ده نو په سیکولریزم کې همدې حالت ته د آزادیو په نوم جدا اساسات ایښودل شوي، پداسې حال کې چې الله عزوجل انسان ته په خپل ژوند کې مطلقه آزادي نده ورکړې او هغه یې له ټولو اخیستې او فرمایلي یې دي :

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًا مُّبِينًا [سُورَةُ الأحزَاب: 36]

ژباړه: هیڅ یو مؤمن او هیڅ یوه مؤمنه دا حق نه لري چې کله الله او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم د کومې معاملې فیصله وکړي او بیا (د الله او د هغه د رسول په خلاف) هغه پخپله د خپلې هغې معاملې د فیصله کولو اختیار ولري. او څوك چې له الله او د هغه له رسول څخه سرغړاوی وکړي، نو هغه په څرګنده ګمراهۍ کې وغورځید.

په پورتنې مبارک آیت کې الله عزوجل له نارینه ؤ او ښځو مطلقه آزادي سلب کړې او په وضاحت یې فرمایلي چې د الله او د رسول الله د فیصلې په مقابل کې دوی آزاد نه بلکې د هغه اطاعت ته مستلزم دي، دا چې په سیکولر آزادیو کې کومې، کومې داسې آزادۍ شته چې د الله عزوجل او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له فیصلې سره مخالفت لري، په دې بشپړې آزادۍ کې د عقیدې، کار او شخصي آزادۍ ټولې شاملې دي.

د سیکولر ټولنیز ژوند په آزادیو کې د عقیدې آزادي دوی ته مهم اصل ده چې په دې کې هر انسان خپل ځان ته هر ډول عقیده چې وغواړي ټاکلی شي او په دې کار کې هیڅوک د مداخلې او انتقاد حق پرې نلري، اسلامي امت ته د دې غربي ګمراهۍ راتګ باعث ګرځېدلی چې خلک له اسلام څخه په ارتداد کې آزادي حس کړي.

په داسې حال کې چې په اسلام کې مسلمانانو ته په عقیده کې هیڅ آزادي نشته او دا کار منع ګرځول شوی چې یو څوک دې له اسلامه پرته بل دین وټاکي ځکه الله عزوجل فرمایلي:

وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْءَاخِرَةِ مِنَ الْخَٰسِرِينَ [سُورَةُ آل عِمرَان: 85]

ژباړه: او څوک چې غير له اسلامه بل دين (قانون او شريعت) ولټوي هېڅکله به ورځنې قبول نشي او هغه به په آخرت کې له تاوانيانو څخه وي.

او په صحيح بخاري کې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه نقل شوي چې فرمايلي يې دي:

عن عبد الله بن عباس رضي الله عنه قال: قال رسول الله »صلی الله عليه وسلم: من بدل دينه فاقتلوه »رواه البخاري»

ژباړه: له عبد الله بن عباس رضی الله عنهما څخه روايت: دی

چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هر چا چې خپل دين بدل کړ هغه ووژنئ.

نو له پورته نصوصو څخه نتيجه اخلو، سيکولريزم چې بين الملل يې د تطبيق مهمه او ستره مرجع ده، د عقيدې آزادي له اسلام سره په مخالفت کې قرار لري او په اسلام کې د عقيدې آزادي مردوده ده او دا د کفري اساساتو اصول دي، نه د اسلام. کوم چې ورسره طالب مرتدينو منلي او په منلو يې تکرارا اعترافات هم کوي، همدا راز د همدې آزاديو په لړ کې د کار او کسب آزادي هم ده په سيکولريزم کې کسب او کار مطلقه آزادي لري او د هر چا چې هر څه خوښ شول د پيسو ګټلو لپاره يې کولای شي او هيڅوک د انتقاد حق پرې نلري سره له دې که يو چا په خپل جسم جنسي تجارت هم کاوه مطلقه آزادي يې لري خو د کاروبار دا آزادي هم له اسلام سره کاملاً په مخالفت کې ده ځکه په اسلام کې بعضې کسبونه، کارونه او حتی تجارتونه حرام ګرځول شوي لکه هغه کاروبارونه چې سود په کې وي لکه اوسني بانکي ډيری سيستمونو کې سودي راکړه ورکړه مروج ده چې طالب يې خه په زغرده ساتنه او تطبيق کوي.

د ډمتوب او موسيقۍ کاروبار، د هنر په نوم د انځورګرۍ کاروبار، د نشه يي توکو کاروبار، د جادو او فال بينۍ کاروبار او نور ډير همدا راز د شخصي آزادۍ په چوکاټ کې د بيان آزادي هم يو اصل دی چې کفار ورته د بين الملل په چوکاټ کې کار کوي او په دغه غوجل کې د شموليت لپاره دا شرط ده چې د بيان آزادۍ ته به احترام لرې چې بيا له همدې آزادۍ څخه په استفاده که هر څوک هر څه وايي که اسلام او اسلامي مقدساتو ته په خپلو نظريو کې توهين او تحقير کوي او که هر څه وايې نو د همدې آزادۍ په چوکاټ کې ورته د بيان د آزادۍ په نوم اجازه ده.

بشپړه آزادي دې ته وايي چې هر انسان، برابر ده، که هغه نر دی او که ښځه، کوم کار چې يې څنګه خوښ وي، په کوم وخت، کوم ځای، کوم طرز او په کوم نهج يې خوښ وي، ترسره کولای يې شي خو اسلام انسان داسې بې مهاره نه پريږدي.

دا آزادي په حقيقت کې د کفارو په بشري حقوقو کې هم لوی اصل ده چې هيڅ انسان بل انسان په غلامي نشي نيولی، د سيکولريزم په شخصي آزادۍ کې هر شخص آزاد پرېښودل کيږي چې هر څه يې خوښه وي هغه د خپل ځان په نسبت وکړي، که هغه کسب او کار وي، که د ځان لپاره د دين او عقيدې ټاکل وي او که کوم څوک د رضا په صورت کې زنا او لواطت کوي، هيڅوک پرې د اعتراض حق نلري، د الله سبحانه وتعالی په شريعت کې چې د زنا، لواطت او نورو باره کې کوم حدودات نقل شوي دي، پردې دلالت کوي چې په دين اسلام کې دا قسم شخصي آزادي نشته او په هغه طريقه به انسان ژوند کوې چې ښودنه يې ورته شوې ده، الله سبحانه وتعالی انسانانو ته شخصي آزادي نده ورکړې بلکې په ځای يې امر ورته کړی:

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسٰنِ وَإِيتَآئِ ذِى الْقُرْبٰى وَيَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْىِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ [سُورَةُ النّحل: 90]

ژباړه: بېشکه الله سبحانه وتعالی د انصاف او احسان او خپلوانو ته د ﴿صدقې﴾ د ورکولو امر کوي او د فحاشۍ او بدو کارونو او سرکشۍ څخه منع کوي، هغه تاسو ته نصيحت کوي د دې لپاره چې تاسو نصيحت قبول کړئ. همدارنګه الله عزوجل فرمايي:

وَوَصّٰى بِهَآ إِبْرٰهِيمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ يٰبَنِىَّ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفٰى لَكُمُ الدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ [سُورَةُ البَقَرَة: 132]

ژباړه: په همدې ﴿دين يا قانون او تګلاره﴾ د پاتې کېدو وصيت ابراهيم خپلو زامنو ته کړی و او همدارنګه يعقوب هم چې :زما زامنو، الله تاسو لره همدا دين (قانون، شريعت او تګلاره) غوره کړې او له همدې امله تاسو مه مرئ مګر غاړه اېښودونکي يعنې د همدې تګلارې منونکي.

نو بيا هم د سيکولريزم شخصي آزادي د الله عزوجل له دين سره په مخالفت کې قرار لري ځکه الله عزوجل له مؤمنانو شخصي آزادي اخيستې او د هغه په ځای يې له بعضو کارونو منع او په بعضو نورو امر ورته کړی.

او دغه بين المللي بشپړه آزادي روا ګڼل اتفاقي کفر دی.

په دې هکله د شيخ الاسلام قول ته ځير شئ:

وَالْإِنْسَانُ مَتَى حَلَّلَ الْحَرَامَ - الْمُجْمَعَ عَلَيْهِ -أَوْ حَرَّمَ الْحَلَالَ- الْمُجْمَعَ عَلَيْهِ -أَوْ بَدَّلَ الشَّرْعَ - الْمُجْمَعَ عَلَيْهِ -كَانَ كَافِرًا مُرْتَدًّا بِاتِّفَاقِ الْفُقَهَاءِ. [مجموع الفتاوی ج ٣/ ص ٢٦٧]

ژباړه: کله چې يو انسان اجماعي حرام حلال وګڼي، او اجماعي حلال حرام وګڼي، يا اجماعي شريعت بدل کړي، نو دا په اتفاق د فقهاءو سره کافر او مرتد دی.

د ملل متحد د منشور په يوه برخه کې راځي چې: د نړيوالې سولې لپاره ګډې هڅې او د ټولې نړۍ د امنيت د تامين په هدف د شريکو ګټو پالل، د غړو هيوادونو مسئوليت دی.

تاسې وليدل او واوريدل چې طالبان هم دا کار کوي او هم يې پرې اعتراف وکړ، يو وخت به اشرف غني خپل عسکر د واشنګټن د ساتونکو په نوم يادول، اوس نو د طالب مرتدينو لوړ پوړي چارواکي خپلو ټولو کافرو بادارانو ته د امن ډاډاينې ورکوي، د نړۍ د امن لپاره د خپلو کافرو بادارنو سره په شريکه هڅې کوي، د اسلامي دولت د مخنيوي په هدف په پټو او ښکاره تړونونو او د شريکو ګټو په پاللو بوخت دي ځکه چې دا په ملل متحد کې د عضويت شرط دی او دا ورسره طالب مشرانو منلې دي.

کفارو سره له دې شريکو هڅو او هغوی ته د امن د ډاډ ورکولو شرعي حيثيت څه دی لنډ وضاحت يې دلته ولولئ:

کافرو سره ګډې هڅې کومې هڅې دي، او مسلمان بايد کافرو سره شريکې ګټې ولري؟، د کفري نړۍ د امن لپاره مبارزه وکړي او که کفري نړۍ نا امنه کړي؟

طالبان د بين الملل غړو کفارو سره نه دين کې شريک دي، نه يې اسلام ورسره شريک دی، نه يې فرهنګ او کلتور شريک دی، او نه کومه بله مشترکه ايجنډا لري، خو مشترکې ګټې يې همدا دي چې حقيقي اسلام د ځمکې له سره لری کول، سيکولر تمثيلي اسلام خلکو ته سوچه اسلامي نظام معرفي کول، د اسلامي خلافت مجاهدينو په خلاف فکري، تبليغاتي او استخباراتي جګړه کول، د محارب کفارو پرضد د حی علی الجهاد نعره او عمل ختمول، چې کتاب او سنت يې تر ابده د فتنې پر وړاندې مشروع مبارزه بولي، (ولا يزال من أمتي أمة) دغه شان د نړيوالو اکابرو مجرمانو لکه هر يو امريکا، روسيا، چين، فرانسه، برطانيه او د نورو ترهګرو دولتونو امنيت د اسلامي خلافت مجاهدينو څخه تضمينول لکه دوحه کې دا څرګندونې د امريکا سابقه وزير خارجه وکړې او په ريکاډ باندې موجود دي، له نړۍ څخه د غلامانو، وينځو، شرعي حدودو، شرعي محاکمو نظام له منځه وړل د طالبانو او بين الملل غړو مشترکې ګټې دي او په دې کې اطاعت کول يې شرک الطاعة کې راځي. الله جل جلاله فرمايي:

وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ [سُورَةُ الانعام: 121]

ژباړه: که تاسې د هغوی خبره ومنله يقينا تاسې هم مشرکان ياست.

امام ابن جرير الطبري وايي :

"قوله: (وإن أطعتموهم إنكم لمشركون)، فإنه يعني: وإن أطعتموهم في أكل الميتة وما حرم عليكم ربكم. قوله: (إنكم لمشركون)، يعني: إنكم إذا مثلهم.[تفسير الطبري ج 87 / 12]

ژباړه: معنا دا ده، که تاسو د کافرو خبره د مردارو شيانو په خوړلو او ستاسو د رب له طرفه حرام شوي کارونو کې ومنله (لکه څنګه چې نن سبا يې طالبان مني) نو تاسې هم د هغوی په څير مشرکان ياست.

دا يې د منشور د سريزې ځينې نقطې وې اوس راځو او د بين الملل د منشور ځينو مادو ته د اسلام په هنداره کې يوه کتنه کوو کوم چې طالب مرتدين يې د منلو او عملي کولو په لاره کې شپه او ورځ ځان خوله، خوله کوي.

د د غه منشور لمړۍ ماده وايي:

١. د نړيوالې سولې او امنيت د ټينګښت په موخه د ټولو ګډو

اغېزناکو اقداماتو په کار اچول، ترڅو له دې لارې د ګواښونو، تېريو، يرغلونو او نورو سوله ماتوونکو کړنو مخه ونيول شي او همدا راز د عدالت پر بنسټ له نړيوالو قوانينو سره سم، په سوله ييز ډول د خبرو اترو له لارې د هغو نړيوالو شخړو او پېښو مخه ونيول شي چې ښايي نړيواله سوله زيانمنه کړي؛

له نړيوالو قوانينو سره سم، وګورئ د جاهليت قوانينو منلو ته ټول خلک اړ کوي.

۱. د نړيوالې سولې او امنيت د ټينګښت په موخه د ټولو ګډو اغېزناکو اقداماتو په کار اچول نو اول په دې کې له جهاد څخه انکار راغی.

دويم د محاربو کفارو او مرتدينو قانونا امنيت ساتل راغلل.

دريم دا چې وايي د عدالت پر بنسټ د دې وضاحت وروسته هم راځي چې دوی مؤمن او کافر برابر ګڼي.

څلورم دا چې ښځې او سړي برابر ګڼي.

پنځم دا چې د کافر مشري قانونا روا ګڼي.

شپږم دا چې له نړيوالو قوانينو سره سم د ښځو مشري قانونا روا ګڼي.

اووم نړيوال وضعي شرکي قوانين منل راغلل.

اتم د وينځو غلامانو نظام څخه انکار راغلی.

نهم د زنا، لواطت قانوني جواز پکې راغی.

لسم د شرابو، سود، قانونا جواز راغی.

يولسم د حدودو انکار، دولسم قوميت او وطنيت شرک.

ديارلسم ملګري ملتونه د ځمکې مالکان ګڼل او د هغوی د رضا مطابق جغرافيايي حدود ټاکل.

څوارلسم د جزيي قوانينو څخه انکار.

پنځلسم دين يو زياتي او اختياري عمل ګڼل.

شپاړسم فحشاء ته قانونا جواز ورکول.

اوولسم د مجاهدينو خلاف د کفارو کومک کول.

اتلسم هر کافر ته بغير د قيد او شرط پخپل کفر او ردت عمل کولو اجازه ورکول.

نولسم پريکړه په اغلبيت او اکثريت کول.

شلم په وخت د تنازع کې واپسي ملګرو ملتونو منشور ته کول.

يويشتم خپل ځواک قومانده د ملګرو ملتونو د امنيت شورا ته ورکول.

دويشتم د دين خاتمې لپاره ملګرو ملتونو ته خپل سهم ورکول لکه د يونيسکو ادارې لپاره.

او همداسې نور، دغه رنګ لسګونو کفريات فقط يوه ماده کې راجمع شوي وي، او بيا همدغه قانون نه د ملل متحد د غړو هيوادونو قانون اقتباس کيږي، لکه د پاکستان قانون، د افغانستان سابق قانون، د سعودي، مصر، شام، عراق وغيره مملکتونو قوانين. فقط اول او آخر کې ورسره يو څو اسلامي کلمات ورزيات کړي نور اساسي موضوعات د ټولو وضعي قوانينو يوشان دي. تاسو د دې دولتونو قوانين وګورئ، بيا درته معلومات کيږي ان شاء الله.

په دې هر کفر او نقض يې که شرعي دلايل او تفصيل راوړو نو زموږ د دې تحليلي مقالې له برداشت څخه به بهر شي خو راځو د ملل متحد د عضويت له هغه شرايطو څخه چې طالب مرتدينو منلي او عملي کړي، بله ماده کې راځي : د نړيوالو اقتصادي، کلتوري، فرهنګي او بشردوستانه مسائلو د حل په موخه د همکارۍ او مرستو جلبول او له هر ډول توکميز، جنسيتي، مذهبي او ژبني توپير پرته د بشري حقونو هڅول او اساسي آزاديو ته درناوی، راځئ همدا ماده اوس د شرعيت په تله وتلو.

د نړيوالو کفارو اقتصادي، کلتوري، فرهنګي، او بشر دوستانه مسايل حل کولو کې همکاري کول او هر ډول توکميز، جنسيتي، مذهبي او ژبني توپير پرته د بشري حقونو هڅول او اساسي آزاديو ته درناوي ته متعهد کيدلو مفکوره، عقيده او عمل په

اسلام کې ځای نه لري.

دا ماده ډېره واضحه ده چې طالبان دين، مذهب، فرهنګ، کلتور الغرض د اسلام ټولو مفاهيمو ته ژمن ندي، ځکه بين الملل دا ماده تصويب کړې چې ملګرو ملتونو اجتماع به د دين څخه په آزادو اصولو بناء وي، دين ته به پکې کوم دخل نه وي، دين او سياست دا به جدا، جدا وي، (الفصل بين السلطات) همدې ته سيکولريزم وايي، عربي کې ورته اللادينية او العلمانية وايي ، او پښتو کې ورته بې ديني وايي.

اوس هغه خلک دې لږ فکر وکړي چې وايي طالبان خو مسلمانان دي، ږيرې او پټکي لري، نو مونږ ورته وايو چې دا عقيده او عمل يې وګورئ، چې دوی کومو کفري اصولو ته ژمن دي، خپله درته د لمر په څير روښانه کيږي چې دوی سيکولران دي، د ملګرو ملتونو دې قانون ته په کتنې سره هغوی له دين څخه آزاد، له ايمان څخه آزاد، د لا اله الا الله کلمې څخه آزاد، له ملت څخه آزاد، له اسلامي فرهنګ او کلتور څخه آزاد، له شرم او حياء څخه آزادو قوانينو ته ژمن او متعهد دي، همدا سيکولريزم ده، او طالبان د سيکولريزم مذهب منونکي دي او سيکولريزم له اسلام سره يو متضاد دين دی او دغه سيکولريزم چې مستقل دين دی منونکي يې ټول مرتدين دي، ځکه الله عزوجل د داسې باطلو اديانو په اړه فرمايي:
وَ مَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ۝ وَ هُوَ فِى الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ [العمران :85]

ژباړه: له اسلام نه پرته چې هر څوك كوم بل دين غوره كړي هيڅكله به ور څخه قبول نكړي شي او په اخرت كښې به هغه نا كام او زيانمن وي

(غير الاسلام) لفظ پدی ماده کې څرګند ليکل شوی، چې هر ډول مذهبي توپير پرته، نو اوس دا دين رب ته قبول ندی او کفر دی.

بله ماده کې راځي : ټول غړي هيوادونه به د انګريزانو له لوري د هيوادونو ويش تسليموي، په يو بل به بريد نه کوي، د زور له کارونې به ډډه کوي او داسې کړنې به نه ترسره کوي چې د بين الملل د منشور خلاف وي.

اوس راځو دې ته چې دغه جغرافوي کرښې چې هيوادونه يې سره ويشلي، تش جغرافوي ويش نه دی بلکې ترشا يې د وطنيت ګمراه عقيده پرته ده، د دې انګريزي ويش ترشا نور ګڼ مفاهم پراته دي او د همدې جغرافيوي کرښو په استناد چې تر شا يې کومې نورې معنوي کرښې راښکل شوي، د دې ټولو په شمول يوه هم د وطنيت ګمراه عقيده ده، اسلامي وطن کوم وطن دی او سکولر وطن کوم وطن دی؟

د موجوده وطنونو دفاع له چا څخه کيږي او په کې وطنونو کې د چا حمايه يا ملاتړ کيږي؟

د انګريزانو له لورې د هيوادونو له دې جغرافيوي او فکري ويش څخه بين الملل ولې ملاتړ کوي، اهداف يې څه دي؟

او طالب مرتدين د وطنيت په همدې ګمراه عقيده د ترلو او پاللو په پايله کې له کومو ننګونو او اسلام ماتونکو نواقضو سره مخ دي؟

دا او ځينې نور موضوعات به د دې مادې په ضمن کې راتلونکو کرښو کې د الله تعالی په توفيق بحث کړو.

درنو لوستونکو! لکه څنګه مو چې مخکې يادونه کړې وه، دې کرښو ته فقط په فزيکي شکل کتل نه دي په کار چې موږ او تاسې دا فکر وکړو چې دا کرښې (سرحدونه) يوازې د ځينو هيوادونو جغرافيوي ويش دی او لازمه ده چې همدې ويش ته په کتلو د بين الملل د قوانينو اطاعت وکړو، نه!!! بلکې د دې کرښو ترشا نور ګڼ معنوي مفاهم پراته دي، دا کرښې د ځمکې پر مخ يوازې د هيوادونو د حدودو د معلومولو په هدف نه دي راښکل شوي بلکې له دې سره نور ګڼ عقيدوي مسائل نښتي چې د دې عقيدوي مسائلو له ډلې يوه هم د وطنيت عقيده ده چې ګڼ خلک پرې ايمان لري او له اسلامه ناخبره، تش په نوم مسلمانان بيا آلا دا فکر هم کوي چې په وطن او وطنيت پالنه دوی ته اخروي اجر هم ورکول کيږي.

درنو لوستونکو! وطنيت د سکولريزم يو رکن دی او له وطنيت پرته د جمهوريت او په ټوله کې د سکولريزم تطبيق ناممکن دی، دا چې د وطنيت د دې رکن تر شا کوم مفاسد پراته دي، له هغې وړاندې به د دې جغرافيوي کرښو په تاريخي پس منظر لنډه رڼا واچوو چې دا کرښې څنګه، کله، چېرته، ولې چا ترسيم کړي؟

د هيوادونو په نوم ويشنه او په ځانګړې ډول د يوې اسلامي خاورې په څو ټوټو ويشل، د مسلمانانو د خپلمنځي تعاملاتو زيږنده نه ده بلکې د پراخه اسلامي خاورې په سينه دا کرښې چې اوس يې ترشا شته مفاسد بين الملل پالي او ساتي، د اسلامي امت د ټوټه کولو او په دوی د خپلو کفري اصولو د منلو په موخه، په لومړي ځل برتانيا او فرانسې د (سايکس ـ پيکو) په نوم دا کرښې چې د برتانوي (مارک سايکس) او فرانسوي (ژرژ پيکوي) نومونو ته منسوبې دي، په ۱۹۱۶م کال کې له لمړۍ نړيوالې جګړې

ورروسته رانسکل شوي.

کفارو د دې کرښو او توافق په مټ د اسلامي امت واحده جغرافيه او يوه خاوره چې د عمر رضی الله عنه خلافت او له هغې را وروسته خلفاؤ او د هغوی تر قوماندې لاندې وياړلو فاتحانو خالد بن وليد، سعد بن ابي وقاص، ابو عبيده بن جراح، طارق بن زياد، قتيبه بن مسلم، محمد بن قاسم په شمول د حرب وضرب په سلګونو ماهرينو د خپلو اسونو تر سمونو لاندې راوستې وه ، دا پراخه خاوره د يوه بيرغ، يوه منهج او يوې عقيدې لرونکې وه او د يوه امير (د وخت د خلفاؤ) له لوري اداره کېده خو کفارو د هيوادونو او وطنونو په نومونو په څو ټوټو ووېشله، په دې خاطر چې د مسلمانانو مشترک اقتصادي، سياسي او نظامي مصالح ټوټه، ټوټه کړي او هر يو په جدا، جدا توګه خپل اطاعت ته لاس په نامه ودروي او دوی مجبور کړي چې د هغوی اصول پخپل ځان تطبيق کړي، هر فرعوني جهت د ځان لپاره يوه جغرافيه منسوبه کړه، ماوراء النهر، فارس او ځينې نورې سيمې لکه شام وغيره روسانو او چينايانو واخيستې او همدارنګه غربيانو هم خپله برخه پکې معلومه کړه، خراسان هند او د اړوندې سيمې انګريزانو ته ورسيدې او بيا ټولو کفارو خپله واحده رهبري د بين الملل په عنوان په کال ۱۹۴۵م کې تعين او (امريکا، فرانسه، برتانيه، روس او چين) د دې مشترکې دارالندوة د دائمي غړو په څېر وپېژندل شول او دا هغه نعمت ؤ چې د اسلامي خلافت په جامه کې بايد مؤمنانو درلودلی خو په عين فکر هغو کفارو د ځان لپاره جوړ کړ او نوم يې پرې ملل متحد يا بين الملل کېښود.

اوس د مسلمانانو ټول وطني نظامونه له همدې آدرس څخه اداره کېږي، ټول فرعوني جهتونه چې د بين الملل د دائمي غړو په صفت پېژندل کېږي د اسلامي امت لپاره اصول وضع کوي او د اسلام په نوم يې په دې خاوره واکمن کړای شويو په خپلو ناستو وطني مرتدينو تطبيقوي.

د کفارو تر منځ د محمد صلی الله عليه وسلم د ځمکې دې تقسيم او شکست ته اعتقاد لرل او دا شکست منل د همدې وطني کرښو په منلو

سره کېږي چې دا ډېر لوی شرم دی، هغه وطني ډلې چې د جهاد او اسلامي نظام دعوې د کفارو له وطني اطاعت سره کوي، شرم ورته پکار ده ځکه په دوی نوره د حماقت، بې خبرۍ او غلامۍ انتهاء راغلې، دوی خپلې وينې بهوي ترڅو د کفارو د ۱۹۱۶م کال د توافق کلمه په اسلامي امت کې لوړه شي او هغه ته په اسلامي امت کې د عمل جامه ورواغوندي او د اسلامي امت همغه ټوټه کېدل او حصه کېدل ژوندي وساتي.

د سيکولر وطنيت بندګانو ته وايو چې تاسو د وطنيت په پليته عقيده کې د اسلامي امت لپاره څه، څه ګټې ليدلي او د کفارو لپاره مو څه، څه زيانونه پکې ليدلي چې په دې باطل فکر پورې نښتي ياست؟

درياد کړئ هغه شان او شوکت چې په ترڅ کې يې ټول اسلامي امت د واحد امير، خلافت او خليفة المسلمين د قيادت لاندې يوه جغرافيه او يوه خبره شي، د مسلمانانو تر منځ ټول اقتصادي، سياسي او نظامي مصالح مشترک شي، اسلامي امت يو موټی او ټوله نړۍ يې په مقابل کې د پخوا په څېر عجز اختيار کړي، دا ښه ده او که ستاسو د وطنيت بېلابېل غارونه چې پکې پراته ياست؟

دا چې د کفارو ياد توافق او د اسلامي امت په ټوټه کولو کې اسلامي امت ته څه، څه زيانونه اوښتي يو، يو به د فرعي عنوانونو په ترڅ کې ان شاءالله بيان کړو.

دغه د وطنيت عقيده لرل چې د همدې کرښو زيږنده ده:

دا الله رب العالمين سره شرک دی ځکه د الله جل جلاله مقابل کې د دې وطنيت عبادت کېږي. د وطنيت او قوميت عقيده د دې عصر لوی طاغوت او الله رب العالمين سره شرک دی، د الله جل جلاله مقابل کې د وطن او قوم عبادت کېږي، چې دوستي، دښمني، جګړه او له دې څخه دفاع کولو په صورت کې دا کفر دی. الله جل جلاله فرمايي:

وَ مِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا يُّحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللّٰهِؕ وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِؕ وَ لَوْ يَرَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا اِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ اَنَّ الْقُوَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا وَّ اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعَذَابِ [سورة البقرة : 165]

ژباړه: ځينې خلك داسې دي چې له الله پرته نور د هغه سيالان ګرځوي؛ او پر هغو داسې مين دي لکه چې څنګه له الله سره مينه لرل ښايي. او مؤمنان له الله سره تر ټولو زياته مينه لرونکي دي.

حديث د مسلم کې راغلي : جابر بن عبد الله رضي الله عنهما وايي: مونږ له نبي عليه السلام سره په يو جنګ کې وو، نو يو مهاجر بل انصاري په شا باندې وواهه، انصاري غږ کړ: اې انصارو! او مهاجر وويل: اې مهاجرينو! راشئ، رسول الله صلی الله عليه وسلم دا خبرې واورېدې، او ويې فرمايل: څنګه د جاهليت دعوه او نعره وهئ، هغوی وويل: اې د الله رسوله! يو مهاجر بل انصار په شا وواهه، هغه وفرمايل: دا غږ پرېږدئ! دا بدبوی لرونکې کلمه ده، عبد الله بن أبي چې دا واورېدل، نو ويې ويل: دې مهاجرينو داسې کار وکړ، قسم په الله که مونږ مدينې ته وګرځېدو، نو زيات عزتمند انسان به ډېر ذليله کس له مدينې څخه وباسي، نبي عليه السلام ته دا خبره ورسيده، عمر رضی الله عنه پاڅېده او ويې ويل: اې د الله رسوله! ما پرېږده چې د دې منافق څټ ووهم، نبي عليه السلام ورته وفرمايل: دا پرېږده، چې خلک بيا ونه وايي محمد صلی الله عليه وسلم خپل ملګري وژني.

نو دغه کفري چيغه د رئيس المنافقين عبد الله بن أبي بن سلول شعارو چې مهاجرين او انصار يې جدا بلل، نن طالبان د ابن سلول خپل روحاني لمسيان وختل.

سيکولر وطني عقيدې ته ولې کفر او شرک وايو؟

کفر ځکه ورته وايو چې وطنيت د سيکولر کفري دين يو اساسي رکن دی او منل يې د کفارو اطاعت ده او شرک يې ځکه بولو چې نن خلک د دې جهل داسې عبادت کوي لکه د الله جل جلاله چې عبادت کېږي، د همدې لپاره جنګيږي، د همدې لپاره له يوه چا سره دوستي او دښمني کوي او د خپل وطن د کلمې د لوړ والي لپاره خپل ځانونه، اولادونه او مالونه قربانوي، هر څوک چې د دوی سيکولر وطنيت ته ګټه رسوي؛ هغه د وطن پالو په عنوان ښه سړی يادېږي او هر څوک چې د دوی سيکولر وطني مصالحو ته زيان رسوي، دوی له هغوی سره دښمني کوي او له ټولو بد يې يادوي او له هغه سره بيا داسې معامله کوي لکه اسلام يې چې د کافر په اړه لارښوونه کړې.

علاوه له دې چې دا د سيکولر کفر عقيده، يو اساسي رکن او د کفارو اطاعت ده، بلکې په دې کې نور هم زيات مفاسد شته چې د فرعي عنوانونو په ترڅ کې به يې يو، يو ذکر کړو ان شاء الله، د يادونې وړ ده چې ياد مفاسد نن د مسلمانانو په مقابل کې جنګېدونکي معنويات دي او منل يې د طاغوت عبادت او ترې بېزاري کول توحيد او د يو الله سبحانه وتعالی د عبادت معنی لري.

د سيکولر وطنيت د عقيدې له امله د کفارو اطاعت:

هر څوک چې وطني فکر لري هغه به ضرور د کفارو اطاعت کوي، د وطنيت عقيده يوازې تر خبرو او يو څو شعارونو پورې نده محدوده، بلکې له دې سره ډېر نور مفاسد تړلي چې يو له هغو يې د کفارو اطاعت ده ځکه وطني کرښې همدې کفارو د بين المللي سرحداتو په عنوان رسم کړي او مسلمانان يې اطاعت ته د وسلو په زور ورېولي،

که وطني اصول ورسره ومنل شي دوی سوله او دوستي ورسره کوي او که دا ورسره ونه منل شي نو د ټولې نړۍ کفار به يې په ضد نظامي تړونونه کوي، ژوندی مثال يې سلامي امارت دی، کله يې چې بين المللي اصول ومنل نو جګړه ختمه شوه او په ډير هنر هغه دی له تېر مرتد نظام څخه واک او ځواک طالب مرتدينو ته تسليم شو، اوس به نو د بين الملل د اصولو له مخې نه يوازې دا چې د وطنيت په عقيده به ايمان ساتي بلکې د بين الملل له لوري نور وضعه شوي کفري قوانين به هم عملي کوي چې د دې ټولو د عملي کولو اعترافونه، طالب چارواکو لا له وړاندې کړي نو له دې کرښو او وطنيتونو څخه متابعت په حقيقت کې له کفارو څخه اطاعت دی او الله سبحانه وتعالی فرمايلي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تُطِيعُوا الَّذِينَ كَفَرُوا يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ فَتَنقَلِبُوا خَاسِرِينَ [آل عمران:١٤٩]

ژباړه: اې مؤمنانو! که چيرې تاسو د کافرانو خبره ومنئ نو هغوی به تاسو له اسلامي دين، قانون او شريعت څخه په شا وګرځوي، بيا به تاسو داسې شئ چې (د قيامت په ورځ به) تاوانيان ياست.

د الله سبحانه وتعالی د کلام په اساس هر څوک چې د کفارو د اطاعت په چوکاټ کې کوم کار ترسره کوي؛ د هغو د اعمالو د ضايع کېدو له امله به دا کس د آخرت په ورځ له تاوانيانو څخه وي، سره له دې که دا عمل د جهاد په نوم وطني جګړه وي، يا په دې لاره کې هلاکت او يا ټپي کېدل وي، د نه قبلېدو له امله به يې عمل کوونکی د قيامت په ورځ هيڅ ګټه نه ترلاسه کوي.

د کلمې لازمه عقيده "ولاء او براء" (د الله لپاره دوستي او دښمني) ده. خو د وطنيت په عقيده ايمان لرل، د اسلام د ولاء او براء عقيده له منځه وړي.

اسلام د دوستۍ او دښمنۍ معيار، ايمان ښودلی، هر څوک چې د هر ځای، د هر رنګ او هرې قبيلې وي چې مسلمان وي؛ زمونږ ورور او که کافر وي زمونږ دښمن دی که څه هم زمونږ له مور او پلار څخه زيږيدلی وي نو معيار قوم يا وطن ګرځول او د دې په سر بيا دوستي او دښمني کول کفر دی، ځکه وطن يا قوم په دې وخت کې طاغوت ګرځي.

دا قوميت او وطنيت خلکو ته وړه خبره ښکاري خو د دې ډير نقصانات دي:

د سيکولر وطنيت منل په حقيقت کې د ټول اسلامي اخوت له تړون څخه ځان جلا کول او له هغه څخه په شعوري ډول انکار ده ځکه په دې عقيده کې به ته له هغه چا سره مشترک اقتصادي، نظامي او سياسي مصالح لرې چې هغه ستا وطندار وي سره له دې که هغه نصراني، يهودي! هندو، رافضي او يا د بلې هرې عقيدې خاوند وي او غير له هغه به د ټولې نړۍ له مسلمانانو څخه ستا مصالح پردي او جدا وي، بلکې د کفارو د لزوم ديد په اساس به ته بل مسلمان ته جاسوس هم ورلېږې تر څو يې سياسي او نظامي حالات معلوم کړې او خپل وطني مصلحتونه پرې خوندي کړې.

دا په داسې حال کې ده چې الله سبحانه وتعالی مسلمانانو ته د ورورګلوۍ معيار ايمان لرل ور په ګوته کړي او فرمايلي يې دي:

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ [سورة الحجرات : ١٠]

ژباړه: بېشکه همدا خبره ده چې مؤمنان خو سره وروڼه دي، نو تاسو د خپلو وروڼو تر منځ اصلاح راولئ او له الله څخه ووېرېږئ، د دې لپاره چې په تاسو رحم وکړای شي.

په دې مبارک آيت کې الله تعالی د بل انسان د خيرخواهي لپاره د ايمان لرلو معيار ټاکلی، نه کوم وطن او مشترکه جغرافيه،

همدارنګه الله عزوجل فرمايي:

إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ ءَامَنُوا الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَوٰةَ وَهُمْ رَٰكِعُونَ [سُورَةُالمَائدة: 55]

ژباړه: ستاسې ملګری خو په حقيقت کې يوازې الله، او د الله پيغمبر او هغه مؤمنان دي چې لمونځونه قائموي، زکات ورکوي او د الله په وړاندې سرټيټوونکي وي.

په دې مبارک آيت کې الله عزوجل د مؤمنانو د ملګرتيا لپاره بيا هم مؤمنان په ګوته کړي، نه وطن او وطنداران، حديث کې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه نقل دی:

عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ ، عَنْ جَدِّهِ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :«الْمُسْلِمُونَ تَتَكَافَأُ دِمَاؤُهُمْ. يَسْعَى بِذِمَّتِهِمْ أَدْنَاهُمْ، وَيُجِيرُ عَلَيْهِمْ أَقْصَاهُمْ، وَهُمْ يَدٌ عَلَى مَنْ سِوَاهُمْ يَرُدُّ مُشِدُّهُمْ عَلَى مُضْعِفِهِمْ، وَمُتَسَرِّيهِمْ عَلَى قَاعِدِهِمْ» [رواه ابوداود : حسن]

ژباړه: عمر بن شعيب له خپل پلار څخه او هغه له خپل نيکه څخه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د مسلمانانو وينه له يو بل سره برابره ده، هغوی په وعدې او بيعت کې برابر دي، له ټولو ليرې مؤمن څخه بايد ساتنه وشي، هغوی د تجاوز کوونکو په مقابل کې يو لاس وي، د مؤمنانو قوي به د کمزوري ځواب وي او جنګېدونکی به يې د ناست ځواب وي.

سبحان الله، رسول الله صلی الله عليه وسلم په څومره واضح تفسير ټول مؤمنان نړيوال اخوت ته وربللي او پخپل منځ کې يې د بې کچې ترحم او تړون نصيحت ورته کړی؟ خو افسوس د سيکولر وطنيت د جهل په پيروانو چې له ديني او شرعي معنوياتو يې ځان پردی او کفر ته نژدې کړی دی.

وطن پالان تل د خپل وطن لپاره له خلکو سره دوستي او دښمني کوي، هر څوک چې د دوی سيکولر حدودو ته وفا لري هغه په ښه نوم يادوي او هر څوک چې د دوی سيکولر جغرافيې ته تاوان رسوي هغه په بد نوم يادوي، دوی د همدې وطن لپاره خپل مالونه، اولادونه او خپلې وينې ځاروي، په داسې حال کې چې يو مؤمن بايد ياد معنويات يوازې او يوازې الله لره خاص کړي، د الله عزوجل لپاره له يو چا سره مينه لرل يا ورڅخه کرکه لرل د ايمان اصل ده او پرته له دې د يوه مؤمن ايمان نه صحيح کيږي ځکه الله عزوجل فرمايي:

لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ [سورة مجادلة: ٢٢]

ژباړه: ته به داسې قوم ونه مومې چې په الله او په ورځ د آخرت ايمان ولري او بيا دوی له هغه چا سره دوستي وکړي چې د الله او د هغه د رسول مخالفت يې کړی وي که څه هم دغه خلک د دوی پلرونه، يا د دوی زامن، يا د دوی وروڼه او يا د دوی قبيله وي.

همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمايي چې:

وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَآءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَٰسِقُونَ [سُورَةُ المَائدة: 81]

ژباړه: که په رښتيا سره دا خلك د الله، پيغمبر او هغه څه منوونکي وای چې پر پيغمبر نازل شوي ول؛ نو هيڅکله به يې د مؤمنانو په مقابله کښې کافران خپل دوستان نه نيول؛ خو له هغوی څخه ډېری خلك د الله له اطاعت څخه وتلي (يعنې کافران) دي.

په پورته مبارک آيت کې الله سبحانه وتعالی له هغه چا ايمان نفی کړی چې د الله او رسول له مخالفت کوونکو سره دوستي کوي، خو سيکولر وطنيان خپل همدا با ارزښته معنويت د وطنيت په اختيار کې ورکوي او د همدې په اساس له يو چا سره دوستي او دښمني کوي، د خپلې خاورې هندو د بلې خاورې له مؤمن سره نه برابروي او خپل هندو ورته لوړ او افضل ښکاري يا له هغو کفارو سره د وطني سيکولر مصالحو د خونديتوب لپاره د دوستي تړونونه امضاء کوي چې هغوی د الله او رسول په مخالفت کې له مؤمنانو سره په بل ځای کې دښمني کړې، دا خويونه له مسلمان سره نه ښايي بلکې دا د جهالت، کفر او شرک د تورتم د دورې خويونه دي چې اسلام په کلکه مسلمانان ځينې منع کړي.

اوس طالب مليشې تاسې عملاً ګورئ، نه يوازې دا چې دوی په درواغو اعتراف کوي بلکې حقيقت کې يې دا هر څه عملي کړي هم دي، دوی ته د خپل وطن د روافضو، هندوانو، يهودانو، سکانو، اسماعليانو په شمول ټول مرتدين او مشرکين وروڼه ښکاريږ نه يوازې د دوی دفاع او ساتنه کوي بلکې د دوی د شرکي معبدونو او مراسمو په ساتنه کې هم خپل سرونه قربانوي چې تاسې يې عملي بېلګې ليدلي چې په روافضو او هندوانو د اسلامي دولت د بريدونو په پايله کې د دوی د ساتنې په ناکامو هڅو کې څومره طالب مليشې ووژل شوې او يا هم د کابل په هوايي ډګر د اسلامي دولت د يو انغماسي بريد پرمهال طالب مليشو څومره هڅه وکړه چې خپل امريکايي باداران او د دوی نور مرتد وروڼه د اسلامي دولت له ګذاره خوندي وساتي خو ونه توانيدل او

الله عزوجل د ټولو وینې په شریکه وبهولې.

بل لور ته بیا تاسې وګورئ د نورو هیوادونو مؤمنان په څومره بې رحمۍ سره په شپنیو چاپو کې سره له خپلو معصومو بچو یو ځای وژني او ان له خپلو لیکو څخه یې د امریکا په خوښه له افغانستان څخه د بهر اوسیدونکو د هغو خلکو د شړلو فرمان هم ورکړ چې څو کلونه د دوی په ملاتړ جنګیدلي ول.

د وطنیت له ګمراه عقیدې سره نور ډیرې مفاسد او اسلام ماتونکې نواقض تړلي چې ټول طالبانو عملي کړي او په عملي کولو یې اعتراف هم کړې چې د دې هر ناقض تفصیلي وضاحت به د دې مقالې له برداشت څخه بهر وي خو دلته به هغه نواقض لنډ ذکر کړو چې د وطنیت له عقیدې سره تړاو لري.

له قومیت او وطنیت سره د هجرت احکام ختمیږي، اوس تاسې عملا ګورئ چې طالب ملېشو خپلو کافرو بادارانو ته ډاډ ورکړی چې د دوی له افغانستان څخه به په یو کافر هم برید نه کیږي، سره له دې چې دوی به نور بهرني مهاجرین نه قبل بلکې هغه په تیرو وخت کې راغلي مهاجرین یې هم وشړل او که کوم دلته په پټه له اسلامي دولت سره همکاري کوي نو هغو پسې شپه او ورځ ګرځي او سره له بچو یې وژني ځکه چې هغوی د دوی د وطن نه دي او هغوی کافرو ته سر دردی جوړیږي نو نه یوازې جهاد معطل او ختم اعلان شو بلکې په همدې هدف د هجرتونو لړۍ هم په ټپه ودریده.

که دوی خپل ځان آزاد ګڼي او وایي مونږ فاتحان یو او دا شرعي نظام دی نو په نړۍ کې محکومو مسلمانانو ته دې افغانستان ته د هجرت امر وکړي کنه؟

خو داسې هېڅکله نه ده بلکې دوی د همدې په خاطر واک ته ورسول شول چې بیا چېرته افغانستان د نړۍ د مسلمانانو د هجرت ځای ونه ګرځي، له دې ځایه په کفارو د بریدونو پلانونه جوړ نه شي ځکه نو بین الملل دوی په خپلو کفري اصولو وتړل او بیا یې ورته د کابل واک او ځواک وسپاره، حال دا چې هجرت یوه عظیمه وجیبه ده چې د سیکولر وطنیت له امله نه یوازې په طالبانو کې بلکې د نړۍ په مسلمانانو کې هم تقریباً هیره شوې او پرېښودل شوې ده ځکه د سیکولر د وطني اصولو مطابق هر څوک چې د تروریستي اعمالو (جهادي کړنو) په نیت له پولو څخه تګ راتګ وکړي، هغوی ته له شلو تر دیرشو کلونو زندان یا اعدام ورکول کیږي، همدې سیکولر او کفري قوانینو ته التزام لرل په اسلامي امت کې د هجرت د ترک سبب ګرځېدلی او یو مؤمن اوس صلاحیت نلري چې خپل بل مؤمن ورور ته په خپل ځای کې له کوم ظالم څخه پناه ورکړي او دا بدبختي اسلامي امت ته د همدې وطني عقیدې له امله ورپه برخه شوې او دا په داسې حال کې ده چې الله عزوجل مهاجرینو ته د پناه ورکولو امر کړی او فرمایلي یې دي:

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوا وَّنَصَرُوا أُولَٰئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا مَا لَكُم مِّن وَلَايَتِهِم مِّن شَيْءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ [الأنفال: ٧٢]

ژباړه: بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی او هجرت یې کړی او د الله سبحانه وتعالی په لاره کې یې په خپلو ځانونو سره جهاد کړی ده او هغه کسان چې (مهاجرینو) ته یې ځای ورکړی ده او مرسته یې ورسره کړې دغه کسان یو تر بله دوستان دي او هغه کسان چې ایمان یې راوړی ده او هجرت یې نه ده کړی ستاسو لپاره د هغوی له دوستۍ نه هیڅ شی نشته تر هغه پورې چې دوی هجرت وکړي او که چیرې دوی له تاسو په دین کې مرسته وغواړي نو په تاسو باندې مدد کول لازم دي خو د هغه قوم په خلاف نه چې ستاسو او د هغوی په منځ کې معاهده وي او الله عزوجل هغو کارونو لره چې تاسو یې کوئ ښه لیدونکی ده.

همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمایي:

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوا وَّنَصَرُوا أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَّهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ. [الأنفال: ٧٤]

ژباړه: او هغه کسان چې ایمان یې راوړی ده او هجرت یې کړی ده او د الله په لاره کې یې جهاد کړی ده او هغه کسان چې (مهاجرینو ته یې) ځای ورکړی ده همدغه کسان په حقه مؤمنان دي، د دوی لپاره بخښنه او ډیر د عزت رزق ده.

همدارنګه الله عزوجل د هجرت د همدې سیکولر تورتمونو په اړه فرمایلي:

إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنتُمْ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا فَأُولَٰئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءَتْ مَصِيرًا [سُورَةُ النِّسَاء: 97]

ژباړه: کومو خلکو چې پر خپلو نفسونو (د هجرت په نه کولو) ظلم کاوه ملائکې به له هغو څخه د ساه اخیستلو په وخت کښې پوښتنه کوي: تاسې په څه حال کښې اخته وئ؟ هغوی به وایي: موږ په ځمکه کښې کمزوري او مجبور وو، ملائکې به ووایی: آیا د الله ځمکه پراخه نه وه چې تاسو په هغې کې هجرت کړی وای؟ - دا هغه خلك دي چې استوګنځی یې دوزخ ده او هغه ډېر بد استوګنځی دی.

او مونږ له الله سبحانه وتعالی څخه د هغه قانون او شریعت له منلو پناه غواړو چې اساسات یې د هجرت په ترک بناء وي.

د وطنیت او قومیت له عقیدې سره د کافر او مسلمان تر منځ توپیر ختمیږي او دا کفر دی.

دا هم تاسې عملاً په سترګو وینئ چې طالب ته هر افغان که هغه رافضي وي، که یهودي وي، که هندو وي، که اسماعیلي وي او که بل هر مرتد او مشرک وي ورور دی، دا فرق یې نه کوي چې دوی مشرکین او مرتدین دي ځکه چې افغانان دي ځکه نو د افغانیت له کبله د کافر او مسلمان فرق دوی ته مهم نه دی.

د وطنیت او قومیت عقیده کې جهاد الطلب او اقدامي جهاد معطل کیږي، بلکې ختم اعلانیږي.

په دې اړه خو دا دی هره ورځ د دوی له مشره نیولې تر کشره ټول همدا یو ګردان کوي چې نور نو جنګ ختم شو، امریکا ورته اوس خپله دښمنه نه ښکاري، په ډیره سپین سترګۍ یې ځېنې لا جهاد ترهګري هم بولي او په کفري خاوره کې د جهاد په نیت پرمختګ او پرې برید کول خو څه چې د محکومې اسلامي خاورې د آزادۍ فرضي جهاد یې هم ختم اعلان کړ.

سیکولر وطنیت په اسلامي امت کې د اقدامي جهاد د ترک لوی سبب ده، هغه جهاد چې الله سبحانه وتعالی یې په اړه فرمایلي:

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ فَإِنِ انتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ [الانفال: ٣٩]

ژباړه: او له هغوی سره تر هغو جنګ وکړئ چې هېڅ فتنه پاتې نشي او ټول دین (قانون او شریعت) یوازې او یوازې الله لره شي نو که دوی (د وضعي قوانینو له پیروي) څخه منع شول نو الله د هغو اعمالو ښه لیدونکی ده چې دوی یې کوي.

او دا ځکه چې د وطنیت د اصولو په اساس هیڅ سیکولر وطن په بل کې د مداخلې حق نلري، سره له دې که په بل ځای کې مؤمنان د کفارو د تیرې لاندې وي خو هیڅوک حق نلري چې دفاع ته یې ورشي بلکې د هغوی په نسبت یوازې د لفظي اعتراضونو، ژړاګانو او مظاهرو حق مسلمانانو ته ورکول شوی چې دا ډېر ټیټ او ذلیل حالت ده، الله عزوجل دې د وطنیت پلیته عقیده د اسلامي امت له منځه ورکه کړي.

خو طالب ملېشو له خپل رعیت څخه دا د مظاهرو حق هم اخستې او که څوک وغواړي چې د ایغور د محکومو مسلمانانو په ملاتړ غږ پورته کړي نو دوی یې غږونه ورخپ کوي ځکه بیا یې چینایي بادارن خفه کیږیق کمونسټو چینایانو د شرقي ترکستان نوم په سینګیانګ بدل کړ، د میلونونو مسلمانانو ټاټوبي ترکستان هویت یې له منځه یوړ، د هغوی له تاریخي مدارسو او مساجدو یې د اسونو طبیلې جوړې کړې، په عفیفو تور سرو یې ډله ایز جنسي تیري کوي، په پراخه کچه یې نسل وژنه روانه ده خو طالب چورواکي وایي دا د چین داخلي مسله ده ځکه هغه مسلمانان د دوی ورونه او خویندې نه دي چې په وطن کې ورسره شریک نه دي بلکې له قاتلینو او ناموس لوټونکو چینایانو سره یې ګرمه دوستي روانه ده او لګیا دي ډالۍ ور لیږي، تړونونه دي، مجلسونه دي او د کانونو چور او تالان دی چې روان دی. د دغې عقیدې له امله د مسلمانانو ترمنځ اتفاق، اتحاد او د یو بل نصرت کول ختمیږي ځکه خبره صرف خپل قوم او وطن پورې محدوده شي.

په اسلامي امت کې د افتراق

معاصره فتنه همدا د وطنیت فتنه ده چې امت یې په ډلو ټپلو ویشلی دی، په اسلامي امت کې د فرقو ډول د پخوا په شان د مذهبونو او مسلکونو په اساس نه بلکې اوس د وطن په محدوده کې د مختلفو ادیانو پیروان هم ځانونه د یو او بل ورونه بولي او هغه اسلامي معیارونه هیر شوي چې الله سبحانه وتعالی مؤمنانو ته پخپل کلام کې بیان کړي او په اسلامي امت کې د وطني افتراق معاصره فتنه هغه څه دي چې ټول امت یې د یو او بل په مقابل کې ودرولی او په منځ کې د کفارو اطاعت ته خلک لاس په سینه ولاړ دي، دا داسې چې الله سبحانه وتعالی فرمایلي:
وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ [آلعمران: ۱۰۳]
ژباړه: او تاسو (ټول اسلامي امت) د الله عزوجل په رسۍ (قرآن او سنت) منګولې خښې کړئ او (په وطنونو) سره مه بیلیږئ او د الله سبحانه وتعالی (هغه) نعمتونه درياد کړئ چې په تاسو باندې شوي دي، کله چې تاسو دښمنان وئ بیا الله عزوجل ستاسو د زړونو تر منځ جوړښت راوست نو د هغه په (دې) نعمت تاسو سره ورونه شوئ او تاسو له اور څخه ډکې کندې (د وطن پرستي، ډلبازي او تفرق) په غاړه وئ نو تاسو یې له هغه څخه وژغورلئ، همدارنګه الله عزوجل تاسو ته آیتونه بیانوي، د دې لپاره چې تاسو نېغه لار ومومئ.

او په ډېرو نورو آیتونو کې الله سبحانه وتعالی له فرقه کېدو منع کړې او دا کار یې د پخوانیو اهل کتابو او مشرکانو کار بللی ده، الله عزوجل په دې اړه فرمایلي:
مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَاتَّقُوهُ وَأَقِيمُوا الصَّلَٰوةَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ [۳۱] مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ [سُورَةُالرُّوم: ۳۲]
ژباړه: (ټینګ اوسئ پدې خبره باندې) د الله لوري ته رجوع کوونکي، او له هغه څخه ووېرېږئ، او لمونځ قائم کړئ، او د مشرکانو په څېر مه کېږئ! هغه مشرکان چې هغوی خپل دین (قانون او شریعت) حصه، حصه کړی او په ډلو (وطنونو او فرقو) وېشل شوي دي، له هرې یوې ډلي (وطن) سره چې څه دي همغه ته خوشحال وي.
او د سیکولر وطنیت ګڼ شمیر نور مفاسد چې اسلامي امت یې له پراخې ګډوډۍ، ګمراهۍ او زوال سره مخ کړی، د سیکولر وطنیت عقیده لرل د سیکولر کفري دین رکن منل دي، معاصر کفار له مونږ څخه نن د همدې جهل د منلو تمه لري نو په اساس یې ویلی شو چې هر چا د غربي پروژې (سیکولریزم) اړوند وطني فکر درلود او هغه یې قبول کړی ؤ، هغه د امریکا د پروژې یو بې ایمانه جاسوس ده.
وطنیت له اسلام څخه مخکې د جاهلیت د خلکو نعره او شعار وه.
شیخ الاسلام وایي: ”وكل ما خرج عن دعوة الإسلام والقرآن: من نسب أو بلد أو جنس أو مذهب أو طريقة: فهو من عزاء الجاهلية.“ [مجموع الفتاوى ج 28/ صـ 328]
ژباړه: او هر څوک چې د اسلام او قرآن له نعرې څخه بهر د نسب، وطن، ملت، مذهب یا طریقې ته ولاړ نو ده د جاهلیت نعره ووهله.
او دغه ”حب الوطن من الإيمان“ دا نه حدیث دی او نه د کوم صحابي قول دی بلکې متن او سند دواړه یې باطل دي. او نه دا حدیث دی ”من قتل دون وطنه فهو شهيد“ څوک چې وطن ننګ کې مړ شو، دا شهید دی.
د دې مطلب خو بیا دا شو چې انګریز یا بل کافر چې د وطن دفاع کې مړ شي، نو بیا هغه هم شهید شو ځکه دغه علت خو هغه کې هم موجود شو؟ او اسلام په دواړو کې نشته!!
یادونه: له وطن او قوم سره د انسان فطري محبت وي خو دې لپاره حد معلوم دی که چیرته د دغو یادو نواقضو په صورت کې وو، یعني د هغه په سر دوستي او دښمني کېده نو بیا کفر دی.
مونږ دا څرګندونې تکرارا کړي چې یو خپل وطن سره فطري مینه ده، معنا دا چې خپل وطن کې انسان وړکوالی تېر کړی وي، دلته یې لوبې کړې وي، د ژوند خوږې خاطرې او یادونه یې دې سیمې پورې تړلي وي، دا ډول محبت کفر نه دی، بلکې هغه محبت کفر دی چې د دوستۍ او دښمنۍ سبب ګرځي مثال: د پاکستان مسلمانانو د افغانستان له مسلمانانو سره خپله دوستي پرې کړې، د دوی په غم نه خفه کیږي، د دوی په خوشحالۍ نه خوشحالیږي، د دوی په سیمه چې کافر راځي هغه یې ملاتړ نه کوي، او دا د هغه ملاتړ نه کوي او همداسې برعکس، معیار د ټولو اړیکو وطن او قوم وګرځي نو دې وخت کې د دې عقیدې له امله وطن طاغوت ګرځي.
سیکولر وطنیت د جهاد د بې ګټې کیدو لامل ګرځي:
سیکولر وطنیت د کفري سیکولر دین له ارکانو څخه یو رکن ده چې په دې لاره کې د الله لپاره هر ډول عمل الله عزوجل ته د منلو وړ نه ده ځکه الله عزوجل فرمایلي:
وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ [آل عمران:۸۵]
ژباړه: او څوک چې له اسلام پرته بل دین (قانون او شریعت) ولټوي هېڅکله به ورڅخه قبول نشي او هغه به په آخرت کې (د هغه د اعمالو د نه قبلیدو له امله) له تاوانیانو څخه وي.
نو د همدې آیت په اساس هر څوک چې د وطنیت په چوکاټ کې جګړې کوي هغه د الله عزوجل په نزد د قبلیدو نه دي، سره له دې که پکې ووژل شي، که پکې زخمي شي او که لوږه پکې تیره کړي خو د قیامت په ورځ به د یادو اعمالو د نه قبلیدو له امله هغه له تاوانیانو څخه وي.
د وطني عقیدې تر څنګ که کوم څوک د اسلام په نوم جګړې کوي هغه بې معنی او د جهاد په ځای به یې په جاهلي جګړو کې برخه اخیستې وي ځکه د وطنیت لپاره جنګېدل قتال في سبيل الطاغوت ده او په اړه یې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:
عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ”مَنْ خَرَجَ مِن الطَّاعَةِ وَفَارَقَ الجماعةَ فماتَ ماتَ مِيتةً جَاهلية، وَمَنْ قَاتلَ تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ، يَغْضَبُ لِعَصَبَةٍ، أو يَدْعُو إلى عَصبَةٍ، أو يَنْصُرُ عَصَبَةً، فَقُتِلَ فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ..[مسلم]
ژباړه: له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې د امیر له طاعت څخه ووت او یا د مسلمانانو له جماعت (خلافت) څخه جدا شو، مرګ یې د جاهلیت ده او چا چې د ړانده (وطني) بیرغ لاندې جنګ وکړ، د عصبیت (قوم پرستي او وطنپرستي) لپاره په غصه کیده، هغه ته یې خلک رابلل او یا یې د تعصب (وطن) په جګړو کې د بل مرسته وکړه او ووژل شو نو مرګ یې د جاهلیت (هلاکت) مرګ ده.

کله چې د یو مبارز مرګ د جاهلیت شي نو د هغه په مبارزې کې به الله عزوجل څه برکت راولي او ګټه به یې اسلام ته څه شي؟ معلومه خبره ده چې د اسلام په ځای به یې فایده د تعصباتو جهل (سیکولر وطنیت) ته رسېدلې وي بلکې د اسلام لپاره جهاد باید یوازې او یوازې د الله عزوجل د دین د کلمې د لوړوالي لپاره وي، نه د وطنیت د بیرغونو د لوړاوي لپاره، لکه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په یوه روایت کې راغلي:

عَنْ أَبِي مُوسَى عَبْدِاللهِ بْنِ قَيْسٍ الْأَشْعَرِيِّ رضي الله عنه قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَنِ الرَّجُلِ يُقَاتِلُ شَجَاعَةً، وَيُقَاتِلُ حَمِيَّةً، وَيُقَاتِلُ رِيَاءً؛ أَيُّ ذَلِكَ فِي سَبِيلِ اللهِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: «مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللهِ»؛ متفق علیه.

ژباړه: له ابي موسی عبد الله بن قیس الاشعري رضي الله عنه څخه روایت ده چې هغه وفرمایل: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د هغه سړي په باره کې پوښتنه وشوه چې د شجاعت (ښودلو) لپاره جنګ کوي، بل د قومي تعصب لپاره جنګ کوي او بل د ځان ښودني (ریاء) لپاره جنګ کوي (نو په دوی کې) کوم یو د الله عزوجل په لاره کې دی؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هر چا چې د الله سبحانه وتعالی د کلمې د لوړاوي لپاره جګړه وکړه، د هغه جګړه د الله په لاره کې جګړه ده.

په همدې اساس د هغو خلکو جګړې د جهل جګړې دي چې د وطنیت لپاره یې کوي، هیڅکله یې ګټه اسلام ته نه رسېږي بلکې که توبه ونه باسي نو د مرګ په صورت کې د تعصباتو په لاره کې هلاک او جهنمي ده او د همدوی په اړه دا فتوا د رسول الله صلی الله علیه وسلم فتوا ده چې (فقتل فقتلة جاهلیة) "نو که ووژل شو نو مرګ یې د جاهلیت (هلاکت) مرګ ده".

او همدا راز تاسې ګورئ چې امارت سلامي ته تیرو جګړو کومه ګټه ونه رسوله، نه چېرته کفار ذلیله شول او نه یې شریعت حاکم کړ، مطلب که چا د کفارو په مقابل کې د الهي نظام په هدف جګړه کړې وه، د هغوی قرباني او وینې یې هم خرڅې کړې.

د وطنیت عقیده اسلامي امت د واحد امیر له قیادت څخه محرومولی:

سیکولر وطنیت سبب ګرځېدلی چې اسلامي امت د واحد امیر له شتون څخه محروم شي او د کفارو په نورمونو برابر غله او ډاکوان د مسلمانانو د چارو په تنظیم لاس پورې کړي، دا په دې معنی چې اسلامي امت د سیکولر وطنیت له امله له هغه نعمت څخه محروم ده چې په اړه یې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: و انما الأمام جنة یقاتل من ورائه ویتقی به (متفق علیه)

ژباړه: له أبي هریرة رضي الله څخه روایت ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: او د مسلمانانو امام (خلیفة المسلمین) (د اسلامي امت لپاره) یو ډال ده چې له څټه یې جګړه کیدای شي او شا ته یې (د کفارو له اضرارو او حملو) څخه ځان بچ کېدای شي.

خو د اسلامي امت دا ډال او دفاعي برج د سیکولر وطنیت له امله له منځه تللی او د واحد امیر په ځای د امت قیادت د مرتدینو او شهوت پرستو ځناورو لاسونو ته لویدلی.

لکه څنګه چې تاسې ګورئ امارت سلامي تر ډېره وخته د وفات شوي ملا عمر په نوم د (آی، ایس، آی) په فرمانونو چلیده او اوس یې هم سمبولیک مشران ټول اوامر له (آی، ایس، آی) څخه اخلي.

دا دی لله الحمد د کفارو دا ارمانونه خاورې شول، د ټول اسلامي امت د را یوځای کولو او اسلامي خاورې د آزادولو او په ټوله نړۍ د الهي نظام د قیام په هدف ټول مسلمانان اوس د یو خلیفة أبی الحسن الهاشمي "حفظه الله ورعاه وسدد خطاه" تر قیادت لاندې راټولیږي چې دا حالات کفارو ته د هیڅ زغم او برداشت وړ نه دی.

سیکولر وطنیت د منلو له امله د اسلامي امت مشترک مصالح له منځه ځي:

د سیکولر وطنیت له امله د اسلامي امت نظامي، اقتصادي او سیاسي مشترک مصالح هم په حصو، حصو تقسیم شوي او بالمقابل کفارو د خپل ځان د حمایت لپاره پخپل صف کې ودرولي، مسلمانان له نظامي، اقتصادي او واحد سیاسي ځواک څخه محروم او په دې ډګر کې د نورو اطاعت ته مجبور شوي او دا ټولې بدبختۍ اسلامي امت ته د همدې وطني عقیدې له امله راننوتې دي چې متأسفانه نن یې خلک د اسلام په نوم مني او له دې جهل څخه د دفاع لپاره داسې وینې بهوي لکه مؤمنان یې چې د اسلام لپاره بهوي، نن سبا وطن پال ته خلک ښه انسان وایي او دا د ښو خلکو له ډلې څخه بلل کیږي، په داسې حال کې چې منل یې د یوه پردي او کفري دین رکن منل دي او پرته له اسلامه بل دین الله عزوجل ته د منلو وړ نه دی ځکه پرته له اسلامه نور ټول اصول په کفري او جاهلي شریعت ولاړ اصول دي، د غیر اسلامي تګلارو په لار کې، هر عمل الله سبحانه وتعالی ته د منلو نده، سره له دې که د همدې وطنیت لپاره جهاد کول او ځان قربانول هم وي خو په آخرت کې به د نه قبلېدو له امله دا کس له تاوانیانو څخه وي.

نو لنډه دا چې د وطنیت په کفري عقیده ایمان لرونکي طالب مرتدین شپه او ورځ په دې اعتراف کوي چې دوی د بین الملل د اصولو په منلو سره د وطنیت ټولې غوښتنې او شرایط منلي بلکې عملي کړې دي چې تاسې یې د دې کفري عقیدې موارد ولوستل او دا بیلګې هم درته واضح شوې چې طالب ملېشو په څومره ویاړ دا کفري عقیده منلې او عملي کړې ده او دادې د بین الملل ډیپلوماتیک پلاوي شپه او ورځ ددوی د مشرانو سره ناستې ولاړې کوي او اوس یې نو یو امنیتي پلاوي چې د اسلام دښمنه کړنو د دوام لپاره افغانستان ته راغلي ، دلته یې ټاپونه لا غاړو کې دي او په ټوپکو ستړي شوي او مطمین هم دي چې طالب ورونه به یې ساتنه کوي نو هغه یې ایښي او د طالبانو د بیرغ لاندې یې انځور اخستې دغه انځور اوس نو طالب ملېشو د خپلې غاړې تعویز کړې دومره ورته خوشاله دي چې مه یې کوه پوښتنه ، همدا ډنډورې غربوي چې هله دا پلاوې خالي سلاح دي او هغه ده او دغه ده ... نور نو د بین الملل دا پلاران یې طالب ماشومان داسې تیرباسي لکه څوک چې یو ضدي ماشوم په یوه خلطه پاپړو غلطوي .

وصلَّى الله وسلَّم على نبيِّنا محمَّد، وعلى آلِهِ وصَحْبِهِ

طالبان دپلک او سندان په منځ کې

الحمد الله الكبير المتعال والصلاة والسلام على الضحوك القتَّال وعلى آله وصحبه الأخيار وعلى من تبعهم إلى يوم القرار. أما بعد:

قال تعالى: الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاء مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ العِزَّةَ لِلّهِ جَمِيعًا ﴿139﴾ النساء

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ الصَّابِرُ فِيهِمْ عَلَى دِينِهِ كَالْقَابِضِ عَلَى الْجَمْرِ ». [سنن الترمذي ومسند أحمد (حسن)]

وعَنْ مُعَاوِيَةَ ، يَقُولُ : سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، يَقُولُ : « لَا يَزَالُ مِنْ أُمَّتِي أُمَّةٌ قَائِمَةٌ بِأَمْرِ اللَّهِ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ ، وَلَا مَنْ خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَهُمْ أَمْرُ اللَّهِ وَهُمْ عَلَى ذَلِكَ » ، قَالَ : عُمَيْرٌ ، فَقَالَ مَالِكُ بْنُ يُخَامِرَ : قَالَ مُعَاذٌ وَهُمْ بِالشَّأْمِ. [رواه البخاري]

مجاهدينو ورونو!

حق او باطل معرکه د ادم علیه السلام له زمانې څخه پیل او تر قیامته به جاري وي. په دې معرکه کې کله د حق نصرت کونکو ته الله رب العالمین پر باطل پرستو کامیابي ورکړې او کله بیا ظاهري بریا د باطل په نصیب شوې، چې الله عزوجل د مختلفو حکمتونو په بنا هغوی ته مهلت ورکړی، تر یو وخت پورې یې خپل فرعوني زور او قدرت د حق مقابله کې ښودلې دی.

دا چې قران کریم د باطل قوت او دبدبې ته د بحر ځګ (قف) ویلي، که په ظاهره یې شور او پړق ، پړوق ډیر وي خو منځ یې خالي وي ، الله عزوجل به خامخا ان شاء الله حق ته په باطل برې ورکوي ، که باطل هر څومره زور ، شور او قوت ولري بیا به هم مغلوبیږي باذن الله .

موحدینو ورونو!

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په امت کې دغه جګړه د یوم الفرقان له ورځې همداسې ښکاره ګرمه او علني شروع شوې او همداسې به ترقیامته ګرمه روانه وي .

که څه هم ددې معرکې ښکیلې لورې به هر یو ځان په حقه بولي خو د حق د پلویانو هم ځانګړې نښې دي چې د دوی حقانیت ترې ثابتیږي او د باطل د پلویانو او لارویانو هم خپلې ځانګړې نښې وي چې د دوی د بطلان او خباثت ښکارندوی وي.

په جګړه کې ښکیل طرفونه هر یو خپل معیارونه لري چې له مخې یې خپلو جګړو او اهدافو ته مشروعیت ورکوي، څوک د خپلې جګړې ټولې خواوې په الهي قوانینو تلي او د اسلام په ټولو معیارونو یې جګړه پوره وي نو ځکه یې مشروع ګڼي

خو ځوک بیا وطني او طاغوتي قوانین او معیارونه لري په همغې د خپلې جګړې لوری ټاکي او په همدې اساس خپله جګړه مشروع ګڼي .

د اکثرو باطل پرستو دا حربه او کړنلاره ده چې خپل ظاهر د حق په څیر برابروي ، د خلکو د دوکه کولو او تیر ایستلو لپاره یې کفر ته د اسلام جامه او نامه ورکړې وي ، یانې تور سکاره یې په یوه سپینه ټوټه کې د سرو زرو او طلا په نوم تاو کړي وي تاسې ګورئ چې طالب مرتدین عملاً کفارو په وسایلو ، هر اړخیزو امکاناتو او مختلفو تجهزیاتو مجهز کړل ، د دوی تجهیز کول هم د ډیرو اهدافو لپاره دي ،که له یوه لوري طالب ملېشې لګیا دي په دې هڅه کې دي چې خپل کفر ته د اسلام نوم ورکړي نو بل لور ته بیا طالب ملېشې خپل دغه ظاهري قوت ته ډیر غره دي او فکر کوي چې دوی به هیڅکله ماتې ونه منې ځکه تر شا یې د امریکا په شمول ټوله کفري نړۍ ولاړه ده او د نورو پټو او ښکاره هر اړخیزو مرستو په شمول ورته اونیزې میلوني ډالري کڅوړې هم راروانې دي . طالب ملېشو واک ته د رسیدو او بیا د خپلې همدې غلامۍ د دوام لپاره په ډیرو ارزښتونو معامله وکړه په دې مقاله کې هڅه شوې چې د طالب مرتدینو له تورو مخونو سپینه پرده لرې شي او د دوی اصلي څېره رابربنډه کړو ، او دا هم جوته شي چې طالب ملېشې اوس د کوم فشارونو لاندې دي ، فکر یې کاوه چې کفارو سره دوستي به یې په خیر تمامه شي ، دوی د کفارو په رضایت کې د دنیا او اخرت ګټه کتله خو اوس نو سراسر په زیان کې دي راځئ په دې مقاله کې د کفارو سره د طالب ملېشو په دوستۍ ، د دوی په مجبورۍ او نورو بیلا ، بیلو برخو بحث شوی ، په دې هیله چې د مقالې ټولې برخې تعقیب کړئ .

.

ورونو !

تاسې په دې مطمین اوسئ چې د حق جګړه تل اهل حق او متقیان خلک مخ ته وړي ، د حق دا صفت دی چې هیڅ زوال نه لري او د باطل دا نښه ده چې خامخا به ذلیله کیږي او بقا نه لري .

هو!

اهل حق به ضعفاء او غرباء وي، دوی به کمزوري او د امکاناتو او تجهیزاتو او نورو وسایلو او مسایلو له نګاه څخه د خپل دښمن په مقابل کې بیخي د هیچا په سترګو کې هم څه نه راځي خو الله عزوجل تل د همداسې ضعفاوو مرسته کړې او د باطل په سترو قدرتونو یې برې ورکړې ، الله ورته مرسته او نصرت ورکړې او د دوی دا ضعف او کمزوري یې د دوی په قوت او ثبات بدله کړې ده .

الله تعالی فرمایي: كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللّهِ وَاللّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿249﴾ سورة البقرة.

ژباړه: ډېر ځله یو وړوکی ټولګی د الله په امر پر یوې لویې ډلې بر لاس شوېدی. الله دصبر کوونکو ملګری دی.

هو!

الله متعال همیش له مؤمنانو څخه دفاع کوي،د الله عزوجل د نصرت سبب کموالی او زیاتوالي نه دی بلکې معیار ایمان دی.

الله تعالی فرمایي: إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ ﴿38﴾ سورة الحج

ژباړه: بېشکه چې الله له هغو کسانو څخه دفاع کوي چې ایمان یې راوړیدی دا یقیني ده چې الله هېڅ یو خائن، د نعمت منکر نه خوښوي.

الله رب العالمین په هر حال کې د مؤمنانو ولی او مددګار وي . لکه سورة البقره کې فرمایي: {اللهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا} [البقرة:257] ژباړه: الله د مومنانو مرستندوی دی.

الله عزوجل د مؤمنانو نصرت په ځان واجب ګرځولی دی .ځکه فرمایي:

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ رُسُلًا إِلَى قَوْمِهِمْ فَجَاؤُوهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَانتَقَمْنَا مِنَ الَّذِينَ أَجْرَمُوا وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ ﴿47﴾ سورة الروم

ژباړه: او مونږ له تا څخه مخکښې پیغمبران دهغو قوم ته ولیږل او هغوی له روښانه نښانو سره هغو ته راغلل بیاچې چا جرم وکړ. له هغو نه مونږ غچ واخیست او پر مونږ باندې د مؤمنانو مرسته لازمه ده.

الله رب العالمین د هغه چا مرسته او نصرت کوي چې د الله عزوجل دښمنانو سره د جګړې اعلان کوي . او هغه خلک ځپي او ذلیله کوي یې چې د الله د دوستانو سره د جګړې اعلان کوي .

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن الله تعالى قال: مَن عادى لي وليًّا، فقد آذنتُه بالحرب. أخرجه البخاري.

ژباړه: الله تعالی فرمایي چا چې زما دوست سره دښمني وکړه نو یقینا ما هغه ته د جنګ اعلان وکړ.

شيخ الإسلام ابن تيمية رحمه الله وايي: مَن كان مؤمنًا تقيًّا، كان لله وليًّا، فمن آذى مؤمنًا فقد آذنه الله - أي: أعلمه الله - أنه محارب له، والله تعالى إذا حارب العبد أهلكه، فليحذر الإنسان من التعرض لكل مسلم.

ژباړه: څوک چې متقي مومن وي، هغه د الله دوست وي، نو چا چې مومن ته ضرر ورکړو یقینا هغه ته الله خبر ورکړ چې الله هغه سره جګړه کونکی دی، او الله تعالی چې کله بنده سره جګړه کوي نو هغه هلاکیږي، نو باید انسان هر مسلمان ته ضرر رسولو څخه ډډه وکړي.

نو نن سبا له مجاهدینو پرته د الله عزوجل خاص ولیان او دوستان نور څوک دي ؟ ځکه الله تعالی فرمایي: إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنيَانٌ مَّرْصُوصٌ ﴿4﴾ سورة الصف

ژباړه: بېشکه دالله هغه خلك خوښ دي چې دهغه په لار کښې پداسې شان صف تړلي جنګیږي چې ګواکي هغوی یو محکم کړی شوی دیوال دی.

او تاسې ګورئ چې نن سبا همدا د خلافت شازلمیان دي چې د نړۍ د ټولو کفارو په مقابل کې یې سینې سپر کړي دي او له خپلو سرونو یې د بنیان مرصوص صف جوړ کړې.

هو!

د بشر په تاریخ کی د یوم الفرقان ورځ ثبت شوې ده، چې الله سبحانه وتعالی لږ تعداد مؤمنانو ته چې په هر لحاظ یې امکانات ، تعداد د دښمن په مقابل کې په نشت حساب وو، خو بیا هم الله عزوجل د دوی قوي ، مغروره او په شور او غرو پر کې پټ دښمن ورته مات او شرمنده کړ ، داسې الله وځپل چې بیا په یو کال کې ځای ته نه راتلل ، له همغې ورځې چې د حق او باطل ترمنځ کومه جګړه روانه ده نو په نیکیو او فضائلو کې د بدر د غزا یوم الفرقان مجاهدین برخه مند دي ، ځکه چې ددې حق لارې بنیاد هغوی په خپلو وینو کیښود ، تر ننه د همغه غزوې خیر ټول امت ته رسیږي .

او دا معرکه به تر هغې جاري وي ، تر دې چې هره زمانه کې د اسلام او کفر، توحید او شرک ، عدالت او ظلم... صفونه سره جلا شي.

هو ! همدا ورځ د الولاء البراء د علني مصداق ورځ وه ،همدا ورځ وه چې د دوستۍ او دښمنۍ معیار د وینې رشته نه ،بلکې د عقیدې یووالې په ډاګه شو ، همدا ورځ وه چې د اسلام لپاره ورور خپل ورور او زوی خپل پلار قتل کړ، دې ورځ کې د صحابه وو دوستي او دشمني د الله لپاره

وځلیدله، مهاجرینو خپل خپلوان قتل کړل .

نو مجاهدينو ورونو! الله سبحانه وتعالی همیش باطل ته تر یو وخت پورې صبر کوي ، مهلت ورکوي ، خو بیا یې داسې نیست، نابود او رسوا کوي چې تاریخونه یې د نوم ذکر کولو سره خامخا د ذلت او غلامی لفظ هم لیکي .

هو په دې زمانه کی هم دا ورځی راروانې دي. الله تعالی فرمایي: وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا ﴿81﴾ سورة بني اسرائيل

ژباړه: او اعلان وکړه چې، حق راغی او باطل له مینځه لاړ، یقینا باطل له مینځه تلونکی دی'.

نو اول به باطل خپل دبدبه ښکاره کوي ، په خپل کفر او شرک کی به پوره سرکښي کوي ، د حق مقابله به کوي، نو بیا وروسته یې الله سبحانه وتعالی خه پاخه محوه کوي.

هر وخت چې باطل پرستو ته د حق خبره وشي، دوی حق سره عناد او تضاد لري، هره خبره په رشخند او استهزاء اخلي، خو دحق سره مبارزه همیش د باطل پرستو په ضرر باندی تمامه شوي، دا چې باطل پرسته د دې جګړې په عواقبو باندې فکر نه کوي، نو حقیقت کې دوی خپل قبر په خپل لاس پخپله ځانته کني او خپل نفس په خپله د هلاکت کندی ته ګوزاروي.

الله تعالی فرمایي: وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْأَوْنَ عَنْهُ وَإِن يُهْلِكُونَ إِلاَّ أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿26﴾ سورة الانعام

ژباړه: هغوی ددې حق له منلو څخه خلك منع کوي او په خپله هم ورڅخه لیرې تښتي. پداسې حال کښې چې اصلاً هغوی په خپله ځانونه تباه کوي خو هغوی ددې شعور نه لري.

دا چې اهل حقو باندې لازمه ده،چې باطل پرستو ته دعوت ، تذکیر ، نصیحت وکړي حجت پرې قایم کړي نور یې که خبره ومنله فائزین به شي او که یې ونه منله نو خاسرین به پاتې شي ، د نه منلو په صورت کې اهل حقو ته هیڅ نقصان هم نه شي رسولای . ځکه مؤمنان تل د الله رب العالمین د وعدو تصدیق کوي او منافقین یې تکذیب کوي، الله رب العالمین قوي او قدیر ذات دی ، د الله رب العالمین امر هیڅوک نه شي رد کولای، څه چې وغواړي سر ته یې رسوي ، په ځمکه او آسمان کی هیڅ شې د الله رب العالمین قدرت نه شي کمولای، د کومو خبرو وعده چې الله رب العالمین وکړي، نو پوره کوي یې، حکیم في کل شئ ، علیم بکل شئ، الفاعل لکل شئ دی، داسې یو ذات دی چې د همه مخلوقاتو واك ورسره دی، د الله په کُنْ فَيَكُوْنُ امر سره په هرڅه د کیدو او نه کیدو واك لري .

الله تعالی فرمایي: فَرَدَدْنَاهُ إِلَى أُمِّهِ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿13﴾ سورة القصص.

ژباړه: په دې توګه مونږ موسی بېرته خپلې مور ته راوُستو تر څو چې دهغې سترګې یخې شي او غمجنه ونه اوسي او هغه په دې وپوهېږي چې دالله وعده رېښتینې وه، خو زیاتره خلك په دې خبره نه پوهېږي.

نو همداسې قوي ، زورور ذات دوه وعدې کړي، هم یې د حق د کامیابیدو وعده کړې او هم یې د باطل د نابودۍ وعده کړې ده .

الله تعالی فرمایي: وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا ﴿81﴾ سورة بني اسرائيل.

ژباړه: او اعلان وکړه چې، حق راغی او باطل له مینځه لاړ، یقینا باطل له مینځه تلونکی دی'.

الله رب العالمين مؤمنانو ته د کامیابۍ وعدې ورکړې او بل طرف شیطان هم د خپل پیروانو ته وعدې ورکړې دي.

الله رب العالمین وعده به خامخا تحقق پیدا کوي او خامخا به هغه څه چې وعده یې کړې قایموي به یې او شیطان به همیش خپل وعده کی دروغجن او پاتې راځي او الله عزوجل به شیطان او د شیطان لارویان همداسې ذلیله او شرمنده پاتې کوي ان شاءالله.

الله تعالی فرمایي: وَإِذْ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ وَقَالَ لاَ غَالِبَ لَكُمُ الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ وَإِنِّي جَارٌ لَّكُمْ فَلَمَّا تَرَاءَتِ الْفِئَتَانِ نَكَصَ عَلَى عَقِبَيْهِ وَقَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكُمْ إِنِّي أَرَى مَا لاَ تَرَوْنَ إِنِّيَ أَخَافُ اللّهَ وَاللّهُ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿48﴾ سورة الأنفال

ژباړه: او هغه وخت درپه زړه کړه چې شیطان ددې خلکو په نظر کښې ددې خلکو کړه وړه ښائسته برېښولي وو او دوی ته یې ویلي وو چې نن پر تاسې څوك نه شي بر

لاس کیدای او دا چې زه به له تاسې سره یم، خو کله چې دواړه ډلې سره مخامخ شوې نو هغه په پوندو په شا تاو شو او ویې ویل چې زه ستاسې له ملګرتیا نه بېزار یم، زه هغه څه وینم چې تاسې یې نه وینئ، زه له الله ویریږم او الله ډېر سخت سزا ورکونکی دی.

لهذا مؤمنانو ته لازمه ده چې د الله عزوجل په وعدو پوره یقین او باور وساتي ، نو الله عزوجل چې مؤمنانو سره د کامیابۍ کومې وعدې کړي هغې کې سکون او خوشالي ده یوه تمه او امید دې او شیطان چې خپلو لارویانو ته کومې وعدې ورکوي هغې کې خوف او ډار دی ، مایوسي ده، د فقر څخه ډار ، د الله په لار کې د مرګ څخه ډار ، د بچو او ښځې څخه د جدایۍ ډار ، او همدا راز د فاني دنیا د بقا وعدې ، فحشا او بې لارېو کې د ژوند او خوند وعدې یې ټولې د چل، مکر او خفګان څخه ډکې دي.

الله تعالی فرمایي: الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِالْفَحْشَاء وَاللّهُ يَعِدُكُم مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلاً وَاللّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿268﴾ سورة البقرة

ژباړه: شیطان تاسې له بېوزلۍ نه وېروي او بدکارۍ ته مو هڅوي، خو الله تاسې ته د خپل بخښش او پېرزوینې لوظ درکوي، الله د ډېر پراخ فضل خاوند او پوه دی.

ورونو په مسلمانانو باندې تل سختې نه وې، په ځانګړې ډول په مجاهدینو تل مشکلات نه وي،او که مشکلات او سختی هم دي باید زموږ عزمونه او همتونه همداسې غښتلي او قوي اوسي ، ځکه له همدې سختیو او کړاونو پسې وروسته الله عزوجل د پراخی او فتحو وعدې کړې ، او په امتحاناتو ، سختیو او کړاونو صبر کونکو مؤمنانو ته یې زیرې ورکړې .

په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم لګیا دي خندق کنې ، د سختو مشکلاتو او تکالیفو سره لاس او ګریوان دی، هیڅ قسم امکانات نه لري ، خو بیا هم په همداسې سخت وخت کې خپلو ملګرو ته د الله عزوجل د نصرتونو ، د فتحو او پراخیو زیري ورکوي د اسلام د خوریدو او د کفارو د ذلیله کیدو خبر ورکوي .

نو له دې څخه باید مجاهدین همدا درس واخلي چې په فتحو او پراخیو طرف ته په همداسې کړاوونو او سختیو لار تللې ، نو په هیڅ حال کې هم باید مجاهدین مایوسه نه

شي ،د مرجفینو او منافقینو په خبرو زړه ښکته ، بره نه کړي ، دا زموږ تاریخ دي تاسي پوهیږئ چې د احزابو په جنګ کې چې کله په مؤمنانو له هر خوا فشار رازیات شو ، نو منافقینو هم شروع وکړه او ویل یې :
وَإِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ إِلَّا غُرُورًا ﴿12﴾ سورة الاحزاب
ژباړه: یاد کړه هغه وخت چې کله منافقانو او ټولو هغو خلکو چې د هغو په زړونو کښې ناروغي وه، ویل چې الله او دهغه پیغمبر صلی الله علیه وسلم چې له موږ سره کومې وعدې کړې وې هغه له غولونې پرته نور څه نه وې.
همداسې سختیو کې بیا مؤمنانو وویل: وَلَمَّا رَأَى الْمُؤْمِنُونَ الْأَحْزَابَ قَالُوا هَذَا مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّا إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا ﴿22﴾ سورة الاحزاب
ژباړه: او کله چې مؤمنانو هغوې یرغلګر ولېدل نو ویې ویل چې (داهماغه څه دي چې الله او دهغه رسول له موږ سره دهغه وعده کړې وه. دالله او د هغه رسول خبره بېخي رښتیا وه) . دغې پېښې دهغو ایمان او غاړه ایښودل لازیات کړل.
تاریخ کې همیشه همدغه دوه موقفونه په همداسې مراحلو کې اختیار شوي دي ، په مؤمنانو کله هم چې مشکلات او امتحانات زیات او سخت شوي نو منافقانو د الله عزوجل په وعدو شک څرګند کړې او په پوندو ستانه شوي ، مؤمنانو د خپل رب وعدې په همدې سختو حالاتو کې هم رښتېنې او عملي کیدونکې ګڼلي او ثبات یې کړې ، الله ورته اطمینان او استقامت ورکړې او بیا یې ورسره خپلې وعدې رښتیا کړې دي .
نو اوس که د طالب مرتدینو د عیاشیو او خرمستیو ورځې دي نو دا ډېرې لنډې دي دوی هم په زړونو کې په دې قانع دي چې داسې ورځې رانږدې دي چې د حق لارویان به له دوی څخه د دوی د وحشتونو حساب خامخا اخلي ان شاء الله ، او دا مرتدین به هم د تېرو هغې په څېر الله عزوجل ذلیله او شرمنده کړي. وما ذلک علی الله بعزیز.
کله چې الله رب العالمین د باطل د محوه کولو او نابودۍ اراده وکړي، نو که څېرته د مسلمانانو تعداد ، امکانات او قوت د باطل پرستو دمحوه کولو لپاره کافي نه وي الله رب العالمین له خپله طرفه په باطل پرستو عذاب رانازلوي ، په دې اړه د سلفو اقوالو کی راځي وایي : له هغه کس څخه وډار شئ چې ستا په مقابله کې له الله عزوجل څخه پرته بل څوک مرستندویه ونه لري ، نو نن هم همداسې ده د اسلامي خلافت مجاهدین د ټولو کفارو او طالب مرتدینو په مقابل کې له الله عزوجل څخه غېر بل مرستندوی نه لري .
نوح علیه السلام هم د خپل قوم په مقابل کې هیڅ قسم وسائل او امکانات نه درلودل دښمن یې دده په پرتله په څو چنده قوي وو خو کله چې الله عزوجل د نوح علیه السلام د قوم د تباهۍ اراده وکړه نو په بارانونو او سیلابونو یې دا قوم هلاک او تبا کړ .
موسی علیه السلام هم د افرادو په حساب او هم د نورو امکاناتو په حساب د فرعون سره د مقابلې توان نه درلود، د زمکې په سر یې د پټې او پاتې کیدو ځای نه وو، خو الله رب العالمین چې د متکبره فرعون د تباهۍ اراده وکړه یو لحظه کې د فرعون قوت او شوکت ختم او دولت د موسی علیه السلام لاس ته ورغی، فقط څو لحظو کې د فرعون قوت ختم او د موسی علیه السلام ضعف په قوت باندې تبدیل شو .
د عاد او ثمود قومونه الله رب العالمین په صاعقه او تیز باد سره محوه او نابود کړل ، د هود علیه السلام او لوط علیه السلام قومونه الله رب العالمین په کوم انداز کې نیست او نابود کړل ؟
په دې خو موږ تاسې ټول پوهیږو چې الله عزوجل داسې عبرتناکې سزاوې ورکړې چې خلکو ته اوس د عبرت یو درس دی .
د شعیب علیه السلام قوم الله رب العالمین په څومره سختو عذابونو باندې هلاک او نابود کړ ،د شعیب علیه السلام قوم هم دا خبره کوله چې دا شعیب دی ، د ځمکې له سره یې ورکوو او ختموو، خو خبر نه وو چې د الله عزوجل د عذاب وړ خلک هیڅ کله خپلو اهدافو ته نه رسوي . الله تعالی فرمایي: قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِن قَوْمِهِ لَنُخْرِجَنَّكَ يَا شُعَيْبُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَكَ مِن قَرْيَتِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا قَالَ أَوَلَوْ كُنَّا كَارِهِينَ ﴿88﴾ سورة الأعراف
ژباړه: د قوم مشرانو، چې د خپل تکبر په غرور کښې اخته وو، هغه ته وویل چې ، ای شعیبه ! موږ به تا او هغه خلك چې له تا سره یې ایمان راوړی دی له خپلې سیمې نه وباسو او یا به بېرته زموږ ملت ته رااووښتونکي یاست ، شعیب ځواب ورکړ، ایا موږ به په زور واړول شو که زموږ خوښه هم نه وي؟
د شعیب علیه السلام دغه ظالم قوم هم همدې تبلیغاتو ته زور ورکړی وو چې که هرچا د شعیب علیه السلام اطاعت او پیروي وکړه نو له کلي ،کوره به وشړل شي او له نورو سترو تاوانونو سره به مخ شي :
الله تعالی فرمایي: وَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا إِنَّكُمْ إِذًا لَّخَاسِرُونَ ﴿90﴾ سورة الأعراف
ژباړه: د قوم مشرانو چې د هغه د خبرې له منلو څخه یې انکار کړی ؤ، وویل ، که تاسې د شعیب پیروی قبوله کړه نو خامخا تباه به شئ'.
شعیب علیه السلام ته یې قوم ډېر پیغورنه ورکړل ،چې ته ضعیف یې هر څه درباندې کولای شو دا خبرې چې کوې،له دې تېر شه ، که نه هیڅوک دې زموږ څخه د خلاصون لپاره نه شته .
الله تعالی فرمایي: قَالُوا يَا شُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا مِّمَّا تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرَاكَ فِينَا ضَعِيفًا وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنَاكَ وَمَا أَنتَ عَلَيْنَا بِعَزِيزٍ ﴿91﴾ سورت هود
ژباړه: هغو ځواب ورکړ، ای شعیبه! ستا پر زیاتره خبرو خو موږ له سره پوهېږو نه. او موږ وینو چې ته زموږ په مینځ کښې یو بېوسی انسان یې، که ستا خپلوان نه وای نو موږ به د وخته ته سنګسار کړی وای، ستا مټ بازو خو دومره نه دی چې پر موږ درووند وي'
خو کله یې چې د شعیب علیه السلام قوم د خپل زور او قوت په نشه کې خه غرق ویده وو نو الله عزوجل پرې د شپې له اړخه داسې امتحان راوست چې هیچا ترې سر پورته نه کړ :
الله تعالی فرمایي: وَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَأَخَذَتِ الَّذِينَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دِيَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴿94﴾ كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا فِيهَا أَلَا بُعْدًا لِّمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُودُ ﴿95﴾ سورت هود
ژباړه: او کله چې زموږ د فیصلې وخت راغی نو موږ په خپل رحمت سره شعیب او د هغه مؤمنان ملګري وژغورل او کومو کسانو چې ظلم کړی ؤ هغوی یوې سختې زلزلې داسې ونیول چې هغوی په خپلو کورونو کښې بې حسه بې حرکته یخ پراته پاتې شول. داسې چې تا به ویل هغوی له سره هېڅکله هلته اوسېدلي نه وو، واورئ! د مدین خلك هم لیرې وغورځول شول لکه څنګه چې ثمودیان غورځول شوي وو.
هو!
نن موږ هم دغه وحشیانو طالب مرتدینو ته وایو :﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ﴾ ژباړه: ایا تا ونه لیدل چې ستا رب د فیل له څښتنانو سره څه وکړل؟
نن مو چې هر طرف وحشتونه او ظلمونه شروع کړي دي، د عامو موحدینو له جسدونو مو نهرونه ډک کړل په څلور لارو کې مو راځړولي وي په پټه او ښکاره مو قتل عام شروع کړي دي ، زموږ د مهاجرو اسیرانو خویندو او معصومو ماشومانو سره مو چې کوم وحشتونه روان کړي څه فکر کوئ د دوی د پوښتنې څوک نه شته او یا دا وحشتونه به مو حساب ونه لري ؟
عامو مسلمانانو ته وایو چې هیڅکله د باطل پرستو د زور او قوت شور څخه مه اغیزمن کیږئ داسې فکر مه کوئ چې د دوی دا قوت به څنګه مات او له منځه ولاړ شي ، ددغه باطل پرستو داسې اسلاف وو چې هغوی به په لاسونو په غرونو کې ځانونو ته لوی ، لوی غارونه کیندل په خپلو لاسونو به یې دا ستر او غټ غرونه څېرل دومره لوی بدنونه او جسامتونه الله ورکړي وو، خو څه شول ؟
نو د همغه فرعون او هامان لارویان به هم الله عزوجل خامخا ذلیله کوي.
د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو ! ددې تحلیلي مقالې راتلونکې برخې به د مجلې په راتلونکو ګڼو کې ولولئ،. ان شاءالله

د الله حد
او د طالبانو بد

د حدودو نافذولو فضيلت په اړه

الحمدُ لله ربِّ العالَمِين، والصَّلاة والسلام على خاتم الأنبياء والمرسَلين، وعلى آله وأصحابه الغُرِّ الميامين، وعلى تابعيهم بإحسانٍ ومَن سار على نهجِهم واقْتفَى آثارَهم إلى يومِ الدِّين.أمَّا بعدُ:

قال تعالى: وَلَكُمْ فِى الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ يَـٰٓأُولِى الْأَلْبٰبِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ [سُورَةُ البَقَرَة : 179]

وقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَقِيمُوا حُدُودَ اللَّهِ فِي الْقَرِيبِ وَالْبَعِيدِ وَلَا تَأْخُذْكُمْ فِي اللَّهِ لَوْمَةُ لَائِمٍ « (ابن ماجه).

د الله عزوجل په ځمکه د الله قانون او د هغه حدود نافذول يو د هغه سترو نعمتونو څخه دي چې انسانان پکې د ارام ساه

اخيستلای شي ، همدا حدود دي چې د دی په سبب د مسلمانانو په معاشره کې امن راځي، همدا د الله عزوجل حدود دي چې د دی په سبب له ټولني څخه هر قسمه فسق، فساد، غلا، زنا، لواطت، حرام خوري، فحشا او هر ناوړه اعمال له منځه ځي.

په همدي اساس قران او سنت د حدودو قائمولو باره کې کلک اوامر کړي او د وجوب ترڅنګ يې اسلامي امت ته ترغيبات هم ورکړي چې د حدودو په قيام کې د انسانانو لپاره ژوند او او نور لوي فوائد پراته دي.

الله تعالى فرمايي: وَلَكُمْ فِى الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ يَـٰٓأُولِى الْأَلْبٰبِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ [سُورَةُ البَقَرَة : 179]

ژباړه: هوښيارانو! ستاسي لپاره په قصاص کښي ژوند دی، په کار ده چي له دې قانون څخه سرغړاوی ونه کړئ.

دا ځکه چې يو شخص د بل په وژلو کې قصاص شي نو بيا نور خلک د هغه څخه عبرت اخلي او د بل شخص بې ګناه وژل د خپل ځان وژل ګڼي نو خپله د خلکو ويني محفوظيږي، د زاني په رجم کولو سره د مؤمنانو عزتونه محفوظ شي او د غله د لاس پرې کولو په وجه د مسلمانانو مالونه محفوظ شي... او د هوسا ژوند زمينه برابريږي.

د الله حدود د هغه پر ځمکه نافذول هغه طاعت دی چې د مؤمنانو لپاره د خير او برکت دروازي خلاصوي:

الله تعالى فرمايي: وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرٰىةَ وَالْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِم مِّن رَّبِّهِمْ لَأَكَلُوا مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم ۚ مِّنْهُمْ أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُونَ[سُورَةُ المَائدة : 66]

ژباړه: کاشکي دوی (په خپله زمانه کې) تورات او انجيل (قائم کړي وې) او هغه کتاب (قرآن يې اوس عملي کړی وې) چې دوی ته د رب له لوري نازل کړای شوي. که داسې يې کړي وای؛ نو خامخا به دوي خوراک کړی وای د بره له طرفه او د لاندې د پپو د دوی څخه. که څه هم چي په دوی کښې ځيني خلك په سمه لاره تلوونکي هم شته، خو زياتره يې ډېر بد عمله دي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم هم په خپلو سنتو کې د حدودو پر قائيميدو ټينګار کړی او ترغيبات يې هم ورکړي لکه حديث د ابن ماجه کي نقل دي: عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَقِيمُوا حُدُودَ اللَّهِ فِي الْقَرِيبِ وَالْبَعِيدِ وَلَا تَأْخُذْكُمْ فِي اللَّهِ لَوْمَةُ لَائِمٍ « (ابن ماجه)

ژباړه: د عبادة بن صامت رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: حدود قائم کړئ په نزدې او لرې خلکو او تاسې دي د ملامت ګرو ملامتيا ونه نيسي (يعنی د هغوی د ملامتيا له وجې د حدودو قائمولو څخه مه وروسته کيږئ)

همدا وجه ده چې د حدودو د نافذولو پر وړاندې رسول الله صلى الله عليه وسلم سفارش قبلول هم رد کړي.

حديث د بخاري کې نقل دي د عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی، هغه فرمايي چې قريش د بنو مخزوم قبيلې يوې زنانه په اړه ډېر غمجن شول ، چې هغې غلا کړې وه نو خپلو کې يې وويل چې څوک به د دې زنانه په اړه رسول الله صلى الله عليه وسلم سره خبره وکړي ترڅو هغه ورته عفوه وکړي، نو هغو وويل چې په نبي عليه السلام باندې دغه جرأت د رسول الله

صلی الله علیه لـه محبوب اسامه بـن زید پرتـه بـل څوک نشي کولای، نـو هغـه ورسره خبري وکـړي، راوي وایـي: فَقَـالَ رَسُـولُ اللَّـهِ صَـلَّى اللَّـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ: « أَتَشْـفَعُ فِي حَـدٍّ مِـنْ حُـدُودِ اللَّـهِ ثُـمَّ قَـامَ فَاخْتَطَـبَ ثُـمَّ ، قَـالَ : إِنَّمَـا أَهْلَـكَ الَّذِيـنَ قَبْلَكُـمْ أَنَّهُـمْ كَانُـوا إِذَا سَرَقَ فِيهِـمُ الشَّرِيـفُ تَرَكُـوهُ وَإِذَا سَرَقَ فِيهِـمُ الضَّعِيـفُ أَقَامُـوا عَلَيْـهِ الْحَـدَّ وَايْـمُ اللَّـهِ لَـوْ أَنَّ فَاطِمَـةَ بِنْـتَ مُحَمَّـدٍ سَرَقَـتْ لَقَطَعْـتُ يَدَهَـا.

ژباړه: رسـول اللـه صلـی اللـه علیه وسلم (هغـه تـه) وفرمایل: آیا د الله د حـدودو څخـه یـو حد پـه اړه ما تـه سـفارش کـوې ؟!

بیـا پاڅیـد او خطبـه یـې وکـړه او ویـې فرمایل: بـې شـکه هغـه خلک چـې لـه تاسـې څخـه مخکـې تېـر شـوي دي ، هغـوی ځکـه هـلاک شـوي وو چـې کلـه بـه پـه هغـوی کـې عزتمنـد کـس غـلا وکـړه هغـه بـه یـې پرېښـوده او چـې کلـه بـه پـه کـې کمـزوري (غریـب، بـې وسـه، بـې واسـطې، بـې منصبـه) غـلا وکـړه نـو پـه هغـه بـه یـې حـد جـاري کاوه، خـو قسـم پـه اللـه کـه چیـرې فاطمـه د محمـد [صلـی اللـه علیـه وسـلم] لـور هـم غـلا وکـړي نـو خامخـا بـه یـې لاس ورپـرې کـړم.

همدارنګه بل حدیث کې نقل دي:

عَـنْ أَبِي هُرَيْـرَةَ ، قَـالَ : قَـالَ رَسُـولُ اللَّـهِ صَـلَّى اللَّـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ: « حَـدٌّ يُعْمَـلُ بِـهِ فِي الْأَرْضِ خَـيْرٌ لِأَهْـلِ الْأَرْضِ مِـنْ أَنْ يُمْطَـرُوا أَرْبَعِـينَ صَبَاحًـا » (رواه الإمام أحمـد والنسـائي وابـن ماجه)

ژباړه: د ابـو هریـرة رضي اللـه عنـه څخـه روایـت دی هغـه فرمایـي: رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسلم وفرمایـل: چـې پـه ځمکـه کـې یـو حـد بانـدې عمـل وکـړای شي دا د ځمکـې والاو لپـاره د ېې څخـه غـوره دی چـې څلوېښـت سـهاره پـر هغـوی بـاران ووریـږي.

پورتـه نصوصـو څخـه معلومـه شـوه چـې د اللـه حـدود پـر ځمکـه نافـذول د خیرونـو او برکتونـو سـبب، د امـن زیمـوار، او د معـاشرې څخـه د ټولـو نـاوړه اعمالـو د ختمیـدو او پـر ځـای یـې د امـن او هوسـا ژونـد برابریدلـو سـبب دي،

دا چـې غربیـان او د حقـوق بشر پـه نامـه د انسـانیت پـه جامـه کـې درندګان د حـدودو خـلاف کـوي او دیتـه د ظلـم نسـبت کـوي او د انسـانانو د حقوقـو پـر وړانـدې یـې ظلـم ګڼـي، حقیقـت دا دی چـې د دوی عـداوت او دښـمني د اللـه او د هغـه د دیـن سره ده کـه نـه خپلـه همـدا کفـار چـې ځـان تـه بـشر دوسـتان وایـې پـه خپلـو کړنـو یـې دا ثابتـه کـړې، چـې د نـړۍ لـوی ظالمان او وحشـیان همـدوی دي د مسـلمانانو پـر وړانـدې یـې د تاریـخ پـه اوږدو کـې داسـې ظلمونـه کـړي او روان دي چـې انسـانیت یـې پـه ذکـر کولـو شرمیـږي، د مسـلمانانو پـه زندانونـو کـې پـه سـپیو داړل، پـه زنځیرونـو رازوړنـدول، نـوکان ورڅخـه ویسـتل د مسـلمانانو پـه ګـډون د هغـوی بچیـان او ماشـومان پـه خپلـو بـارودي بمونـو ټوټـه ټوټـه کـول او داسـې نـور هغـه څـه دي چـې دا جوتـوي چـې د نـړۍ تـر ټولـو، ظالـم، وحشـیان او بې رحمـه خلـک همـدوي دي، دا چـې دیـن اسـلام یـو چاتـه د قتـل او یـا پـه دوړو د وهلـو او یـا لاس قطعـه کولـو سـزا ورکـوي نـو دا بـه په وروسـتیو کرښـو کـې واضحـه کـړو چـې دي بـاب کـې اسـلام څومـره احتیـاط کـړی، او د هری سـزا او حـد لپـاره یـې خپـل اصـول، ضوابـط او شرطونـه مقـرر کـړي.

مخکـې لـه دې چـې همـدې بحـث تـه ننوځـو، راځـئ پـه دې بـه بحـث وکـړو چـې طالـب ملېشـې د اللـه عزوجـل لـه لـوري پـه همـدې ټاکلـو حـدودو پـه څومـره سـپین سـترګی او جـرأت رشـخند وهـي ، همـدا حـدود تغـیروي او بیـا یـې د شرعـي حـدودو پـه نامـه پـه خلکـو منـي ، حـال دا چـې همـدا دوی لـه خـود سـاخته حـدودو هـم د دوی زوررو بـري دي او کمـزوري عـوام د خلکـو د غلطـې ذهنیـت سـازۍ پـه هـدف د حـدودو پـه نامـه مجازات کـوي .

دا چـې د هـر جـرم لپـاره اللـه عزوجـل کـوم حـد ټاکلـې تاسـې بـه یـې پـه راتلونکـو عنأوینـو کـې ولولـئ ،خـو پـه دې بـه ټـول خـبر یاسـت چـې طالـب ملیشـو د دوحـې د تـړون پـه اسـاس د اللـه عزوجـل پـه حـدودو کـې پـه دې خاطـر تغیـر راوسـت چـې لـه یـوه لـوري ددوی کافـر بـاداران لـه ځانـه خـوښ وسـاتي او بـل لـور تـه ددوی همـدا خـود سـاخته سـزاګانې خلکـو تـه د حـدودو پـه نـوم وړانـدې کـړي او خلکـو تـه داذهنیـت ورکـړي چـې دوی خـو د اللـه شریعـت حاکـم کـړې او د دوحـې پـه هوټلونـو کـې طرحـه شـوې دا پـه اونیـزو امریکایـي ډالـري کڅـوړو ولاړ دا پاکسـتانې اسـلام ګونـدې حقیقـي اسـلام دې .

هـو ! طالـب ملېشـې پـه ډېـره سـپین سـترګې د غـلا حـد یـې د لاس پـرې کولـو پـه ځـای پـه ویښـتو پـرې کولـو بـدل کـړ ، محصـن زانـي د رجـم پـه ځـای ۳۹ دوري وهـي ، د لواطـت د قتل سـزا یـې هـم ۳۹ دورو تـه راټیټـه کـړه او همداسـې دا نـور یـې هـم دړواخلـه .

نـو پـه دې خاطـر چـې طالـب پـه دغـه ډرامـو د حـدودو پـه نامـه غلـط شـوي عـوام او یـا ددوی کـشر خیـل د اللـه عزوجـل لـه لـوري ټاکل شـوي حـدود وپیـژني او نـورو مسـلمانانو تـه هـم د طالـب ملېشـو دا تـوره څېـره لا بربنـډه شي نـو راځـئ پـه همـدې تـړاو پـه ټولـو حـدودو او تعزیراتـو لنـډ بحـث کـوو.

تعریف الحد:

دحد پیژندنه:

پـه لغـت کـې د حـد معنـی ده (المنـع) بندیـدل.

د حـدودو وجـه د تسـمي هـم همـدا ده چـې (سمیت الحـدود حـدودا لأنهـا تمنـع مـن العـود إلی المعصیـة) حـدودو تـه حـدود ځکـه وایـي چـې دا خلـک بیـا ځـل ددغـه معصیـت څخـه منعـه کـوي .

پـه شرعـه کـې حـد ویـل کیـږي: «عقوبة مقدرة في الشرع لأجل حق الله » د اللـه تعالـی د حـق لـه املـه د شریعت معلومـې انـدازې سـزا تـه ویـل کیږي.

الفرق بین الحد والقصاص:

د حد او قصاص ترمینځ فرق.

د شریعـت پـه نصوصـو کـې کـه انسـان دقیـق فکـر وکـړي نـو د دی خـبرې حقیقـت انسـان تـه معلومیـږي، چـې حـد او قصـاص لـه یـوې وجـې یـو دي او لـه بلـې وجـې بیـا فـرق

لري ، مرکزی نقطه يې داده چې حد هغه سزا ده چې د الله د حق له وجې اداء کيږي ځکه په تعريف د حد کې دا قيد دې، چې (لأجل حق الله) او قصاص چې دې ، هغه د فرد او شخص له وجې اداء کيږي (عقوبة مقدرة تجب حقاً للفرد) د فرد او شخص د حق له امله د شريعت معلومې اندازې سزا ته ويل کيږي.

نو حد او قصاص په دې معنی کې مشترک شو ،چې (عقوبة مقدرة في الشرع) او پدی معنی سره جدا دي، چې حد (لأجل حق الله)وي او قصاص (حقاً للفرد) وي.

همدا وجه ده چې د الله په حدوداتو کې سفارش کول صحي نه دي او نه د سفارش له وجې حد ساقطيدای شي ، اما قصاص چې دې په هغې کې سفارش جائز دي، قصاص هم د مقتول د وارثانو د عفوي له وجې ساقطيدای شي چې مقدمه کې د دې خبرې تذکره شوي وه او د قصاص په باب کې به يې ان شاءالله تفصيل راشي.

اقسام الحدود:
د حدودو قِسمونه.

د الله تعالی په شريعت کې مختلف حدودات وجود لري چې د هغې له جملې څخه:

اول قسم: د زنا حد دی :

مخکې له دې چې د زنا حد ته راشو د الله تعالی په توفيق به د زنا په قباحت لوستونکو ته يو څه وليکو.

زنا يو قبيح عمل دی!

د مسلمان له پاره تر ټولو لوی لارښود د الله سپيڅلی کتاب او له هغه وروسته نبوي احاديث دي ، چې په دواړو کې د زنا د ممانعت په اړه له حکمته ډکې لارښوونې شوې دي، قران کريم مسلمانانو ته امر کوي چې زنا ته مه نږدې کيږئ ! ځکه زنا ډېره لويه ګناه ده او ډېره بده لاره ده، الله تعالی فرمايي: وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰٓ إِنَّهُ كَانَ فٰحِشَةً وَسَآءَ سَبِيلًا [سُورَةُ الإسرَاء : 32] ژباړه: زنا ته مه نږدې کېږئ، هغه ډېر ناوړه کار دی او ډېره بده لاره ده.

دلته د قرانکريم له حکمته ډکو جملو ته يو څه تم کيږو په قران کريم کې د شرک، غيبت، ظلم او نورو ګناهونو په اړه الله جل جلاله مستقيما له هغې ګناه نه د منعې امر کړی دی لکه:

(ولاتشرکوا) يعنې تاسو شرک مه کوئ!

(ولايغتب بعضکم بعضا) يعنې تاسې د يوه بل غيبت مه کوئ!

(ولاتظلموا) يعنې ظلم مه کوئ !

خو د زنا په اړه الله تعالی فرمايي(وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰٓ) تاسې زنا ته مه نږدې کيږئ !

داسې يې ونه ويل چې : ولا تزنوا يعنې زنا مه کوئ ! بلکې ويې ويل: (وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰٓ) يعنې زنا ته مه نږدې کيږئ .

د زنا په اړه د قران کريم د اسلوب د دې تغير په اړه مفسرين ليکي: چې داسې ځکه شوي دي ،چې په دې سره مطلب دا دی چې يواځې زنا نه بلکې هغه ټول اړوند کارونه چې د زنا لامل او سبب کيږي ،هغه ټول حرام دي لکه له نامحرمې ښځې سره (خلوت) يواځې کيدل يا بې ضرورته خبرې ورسره کول او ګپ شپ ورسره لګول ،لکه په مجازي نړۍ کې چې نن سبا له پرديو ښځو سره خلک خبرې کوي، او يا هم لکه د طالب ملېشو مشران يې په تلويزونونو، دفترونواو مجلسونو کې نامحرمو ښځو سره ناستې ولاړې کوي ورسره خبرې کوي اوکشران يې بيا په لارو او سړکونو او پارکونو کې نامحرمو ښځو سره خنداوې او ټوکې ټکالې کوي ، دا راز ښکلول يا پرديو ښځو ته کتل يا يې انځورونه او عکسونه کتل او نور هغه اسباب چې زنا ته سړی را کاږي هغه ټول حرام دي.

امام مسلم په خپل صحيح کتاب القدر کې له ابوهريره رضی الله عنه نه يو حديث روايت کړی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وايي: « كُتِبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ نَصِيبُهُ مِنَ الزِّنَا ، مُدْرِكٌ ذَلِكَ لَا مَحَالَةَ ، فَالْعَيْنَانِ زِنَاهُمَا النَّظَرُ ، وَالْأُذُنَانِ زِنَاهُمَا الِاسْتِمَاعُ ، وَاللِّسَانُ زِنَاهُ الْكَلَامُ ، وَالْيَدُ زِنَاهَا الْبَطْشُ ، وَالرِّجْلُ زِنَاهَا الْخُطَا ، وَالْقَلْبُ يَهْوَى وَيَتَمَنَّى وَيُصَدِّقُ ذَلِكَ الْفَرْجُ وَيُكَذِّبُهُ .»

ژباړه: بنيادم ته چې د زنا برخه ليکل شوې ده هغه به خامخا بيامومي، د سترګو زنا نامحرمو ښځو ته کتل دي ، د غوږونو زنا اوريدل دي (يعنی د نامحرمو ښځو بې ضرورته خبرې اوريدل) او د ژبې زنا نامحرمه ښځو سره غير شرعي خبرې کول دي.

او د لاس زنا نيول دي ، او د پښو زنا تګ دی (يعنی نامحرمو ښځو سره بې ضرورته لاس لګول يا هغوی ته ورتګ) او زړه کې زنا طرف ميلان پيداکيږي او تمنی يې کوي او د انسان تناسلي غړي هغه رښتيا کوي يا يې دروغ کوي .

نو پورته حديث کې که انسان فکر وکړي د ټولو هغه اسبابو بدي او قباحت رسول الله صلی الله عليه وسلم بيان کړی چې د زنا لپاره اسباب او لامل ګرځي نو ځکه الله تعالی هم په قران کريم کې د زنا حرمت پدي الفاظو سره بيان کړی چې (وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰٓ) چې زنا خو لری خبره بلکې د هغې اسبابو ته هم مه نيږدې کيږئ.

همدارنګه د بشريت مهربانه او ستر لارښود رسول الله صلی الله عليه وسلم د زنا په اړه ډيرې له حکمته ډکې لارښوونې کړې دي ، تاسې په راتلونکي حديث کې د هغه هوښيارۍ او مهربانۍ ته ځير شئ چې يو ځوان په ځومره ښکلې توګه له زنا څخه منعه کوي!

سره له دې چې هغه ځوان نور خلک رټي او غوسه ورته کوي خو دی يې له ځانه سره کښينوي، او په مستقيمه توګه نه ورته وايي چې زنا مه کوه بلکې له دې ستر جرم او لويې ګناه نه د منعه کولو له پاره هغه ته يوه مقدمه پيل کوي چې په هغه کې ده ته دا وښيي چې زنا ځومره بده لاره ده او ځومره بده ګناه ده او په اخر کې يې د يوه مهربانه پلار په څېر پر اوږه لاس ږدي او دعا ورته کوي:

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ , قَالَ : إِنَّ فَتًى شَابًّا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ , ائْذَنْ لِي بِالزِّنَا , فَأَقْبَلَ الْقَوْمُ عَلَيْهِ , فَزَجَرُوهُ

، قَالُوا : مَهْ مَهْ ، فَقَالَ : « ادْنُهْ » ، فَدَنَا مِنْهُ قَرِيبًا ، قَالَ : فَجَلَسَ ، قَالَ : « أَتُحِبُّهُ لِأُمِّكَ ؟ » ، قَالَ : لَا وَاللَّهِ ، جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاءَكَ ، قَالَ : « وَلَا النَّاسُ يُحِبُّونَهُ لِأُمَّهَاتِهِمْ » ، قَالَ : « أَفَتُحِبُّهُ لِابْنَتِكَ ؟ » ، قَالَ : لَا وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ ، جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاءَكَ ، قَالَ : « وَلَا النَّاسُ يُحِبُّونَهُ لِبَنَاتِهِمْ ، قَالَ : أَفَتُحِبُّهُ لِأُخْتِكَ ؟ » ، قَالَ : لَا وَاللَّهِ ، جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاءَكَ ، قَالَ : « وَلَا النَّاسُ يُحِبُّونَهُ لِأَخَوَاتِهِمْ ، قَال : أَفَتُحِبُّهُ لِعَمَّتِكَ ؟ » ، قَالَ : لَا وَاللَّهِ ، جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاءَكَ ، قَالَ : « وَلَا النَّاسُ يُحِبُّونَهُ لِعَمَّاتِهِمْ ، قَالَ : أَفَتُحِبُّهُ لِخَالَتِكَ ؟ » ، قَالَ : لَا وَاللَّهِ ، جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاءَكَ ، قَالَ : « وَلَا النَّاسُ يُحِبُّونَهُ لِخَالَاتِهِمْ ، قَالَ : فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَيْهِ ، وَقَالَ : « اللَّهُمَّ اغْفِرْ ذَنْبَهُ ، وَطَهِّرْ قَلْبَهُ ، وَحَصِّنْ فَرْجَهُ » ، فَلَمْ يَكُنْ بَعْدُ ذَلِكَ الْفَتَى يَلْتَفِتُ إِلَى شَيْءٍ .(مسند احمد)

ژباړه: د ابي امامه رضي الله عنه څخه روایت دی چې یو ځوان رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ورته ویې ویل : یا رسول الله ما ته د زنا اجازه راکړه ! (مخکې له دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم ځواب ورکړي) خلکو ورته (سپک یې کړ، بد رد یې ورته وویل) او ورته ویې ویل : چوپ شه داخه ؟! رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل ماته رانږدې شه ! او ورنږدې شو هغه ورته وویل کښېنه او هغه ځوان د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواته کښېناست او ورته ویې ویل : ایا ته دا خوښوې چې ځوک ستا له مور سره زنا وکړي ؟ هغه ځوان وویل : الله مې دې له تا قربان کړي په الله سوګند چې نه یې خوښوم . رسول الله ورته وویل: نور خلک هم دا نه خوښوي چې ځوک یې له میندو سره زنا وکړي . بیا یې ورته وویل: ته دا خوښوې چې ځوک دې له لور سره زنا وکړي؟ هغه ورته وویل : الله مې دې له تا قربان کړي نه والله نه یې خوښوم . هغه وویل چې هیڅوک دا نه خوښوي . بیا رسول الله ورته وویل : ایا ته دا خوښوې چې له خور سره دې ځوک زنا وکړي ؟ هغه ځوان وویل : الله مې دې له تا قربان کړي والله که یې خوښوم . هغه وویل : هیڅوک دا نه خوښوي چې له خویندو سره یې ځوک زنا وکړي . بیا رسول الله ورته وویل : ایا ته دا خوښوې چې له عمې (ترور) سره دې ځوک زنا وکړي ؟ هغه وویل: الله مې دې له تا قربان کړي والله نه یې خوښوم . رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل : هیڅوک دا نه خوښوي چې له عمه ګانو سره دې ځوک زنا وکړي . بیا یې ورته وویل : ایا ته دا خوښوې چې له خاله سره دې ځوک زنا وکړي؟ هغه ورته وویل : الله مې دې له تا قربان کړي نه والله که یې خوښوم . هغه وویل هیڅوک هم دا نه خوښوي چې له خاله ګانو سره دې ځوک زنا وکړي . بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه پر اوږه لاس کېښود او داسې دعا یې ورته وکړه : ای الله د ده ګناه معاف کړه ! او د ده زړه پاک کړه ! او دی له زنا وژغوره ! او وروسته بیا دا ځوان دومره پاک شو چې د زنا لور ته یې هم نه کتل .

د اسلامي خلافت تمکین ساحه کې د اسلامي حد تنفيذ يوه بيلګه

عزتمندو مسلمانانو! دلته له زنا نه د دې ځوان د منعه کولو له پاره رسول الله صلی الله علیه وسلم څومره ستر او له حکمته ډک اسلوب کارولی دی !!

لومړی خو دا ځوان دومره ناخبره و ، چې د عامو خلکو په منځ کې یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د زنا اجازه غوښتله! خو د خلکو د رټنې په منځ کې د ستر پیغمبر غوره او مهربانه چلند هغه دومره متاثره کړ، چې له هرې خبرې سره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وایې: (جعلني الله فداك) یعنې الله مې دې له تا نه قربان کړی!! او هغه رسول الله د زنا بدې ته په ډېره حکیمانه توګه متوجه کړ هغه داسې چې مور، لور، خور، عمه او خاله په هر انسان ګرانې وي نو یو انسان چې له کومې ښځې سره زنا کوي ، هغه به حتما د چا مور یا لور یا خور یا عمه یا خاله وي او هیڅوک د دې خپلوانو له پاره هیڅکله نه خوښوي چې ځوک دې زنا ورسره وکړي نو بیا د بل چا په حق ولې تیری کوي؟! او د نورو له خپلوانو سره ولې زنا کوي؟!.

ابن کثیر رحمه الله په خپل تفسیر کې د ابن ابي الدنیا نه یو روایت نقل کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي: له شرک نه وروسته بله دومره لویه ګناه نشته لکه په ناروا رحم کې چې انسان خپله نطفه واچوي، یعنې زنا کول له شرک نه وروسته ترټولو لویه ګناه ده، د زنا په اړه او د زنا د بدۍ او قباحت په اړه په قرانکریم کې نور ایتونه هم شته او په نبوي حدیثو کې هم خورا زیات تفصیلات پراته دي خو په همدې بسیا کوو، الله عزوجل دې مونږ او ټول مسلمانان له دې سپک عمل څخه وساتي.

د زنا لپاره حد په اسلام کې دوه قسمه ده:

اول: هغه کس چې زنا وکړي او (غیر محصن) یعنی واده یې نه وي کړی.

دوهم: هغه کس چې (محصن) واده یې کړی وي او زنا وکړي.

اول قسم: د (غیر محصن) یعنی هغه شخص چې واده یې نه وي کړی او زنا وکړي د هغه حد په شریعت مطهره کې دا دی چې کله اقرار وکړي او یا څلور ګواهان وربانديې ګواهي د زناکولو وکړي نو باید سل دورې ووهل شي او یو کال له خپلې منطقې څخه وشړل شي، چې سل دورې په قران کې او (تغریب عام) یعنی یو کال شړل په سنت سره ثابت دي.

الله تعالی فرمایې: الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ [سُورَةُ النُّور : 2]

ژباړه: زنا کاره ښځه او زنا کار سړی، له دواړو څخه هر یو سل دُرې ووهئ. او پر دوی باندې د زړه سوي احساس دې د الله د دین په باب په تاسې کې نه پارېږي ،که تاسې پر الله تعالیٰ او د اخرت په ورځ باندې ایمان لرئ. همدا راز هغو ته د سزا ورکولو په وخت کښې دې د مؤمنانو یوه ډله موجوده وي.

او حدیث کې راځي:

دعبادة بْن الصَّامت رضی الله عنه څخه روایت دی، دا فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: « خُذُوا عَنِّي خُذُوا عَنِّي ، قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلًا الْبِكْرُ بِالْبِكْرِ جَلْدُ مِائَةٍ ، وَنَفْيُ سَنَةٍ ، وَالثَّيِّبُ بِالثَّيِّبِ جَلْدُ مِائَةٍ وَالرَّجْمُ (صحیح مسلم)

ژباړه: له ما نه زده کړئ له مانه زده کړئ، یقیناً الله تبارک وتعالی هغوی (زنانه وو) ته لاره جوړه کړه، بې واده سړی که بې واده (زنانه سره زنا وکړه نو) سل کوړی به ورکولی شي او یو کال به د علاقې

ښځه شړلې شي او که واده کړې واده کړي سره زنا وکړي ،نو هغوی ته سل کوړې ورکول او رجم کول دي.
دې حدیث ښځه معلومه شوه چې (غیر محصن) چې واده یې نه وي کړی او زنا یې وکړه نو حد یې سل کوړې وهل او یو کال دعلاقې ښځه شړل دي،
فائدة: دې حدیث کې دواده کړو زانیانو دپاره د رجم سره کوړې هم ذکر دي ، دې باره کې د اهل علمو اختلاف دی خو د جمهورو علماؤ نظر دا دی چې یواځې رجم کیږي به او کوړې او رجم به سره نه جمعه کیږي، امام نووي رحمه الله په شرح د صحیح مسلم کې د دې مسئلې حاصل داسې بیان کړی.
وحجة الجمهور: أن النبي صلى الله عليه وسلم اقتصر على رجم الثيب في أحاديث كثيرة، منها قصة ماعز، وقصة المرأة الغامدية، وفي قوله صلى الله عليه وسلم: واغد يا أنيس على امرأة هذا فإن اعترفت فارجمها .
قالوا: وحديث الجمع بين الجلد والرجم منسوخ؛ فإنه كان في أول الأمر « انتهى من «شرح صحيح مسلم» (11 / 189).
ژباړه: د جمهورو علماؤ دلیل دا دی چې نبي صلى الله عليه وسلم د واده شوي زناکار یواځې په رجم بسیا کړي په ډیرو احادیثو کې، د هغې د جملې نه قصه د ماعز رضي الله عنه او د غامدیه زنانه رجم دی او دا قول د نبي صلى الله عليه وسلم چې اې انیس سبا د دې زنانه ښځه پوښتنه وکړه که اعتراف یې وکړ نو رجم یې کړه دوی وایي: حدیث د جمع په مابین د کوړې او رجم کې منسوخ دی هغه په اول د اسلام کې و.
نو پورته بحث نه معلومه شوه چې محصن زناکار به د جمهورو علماؤ په نیز یواځې رجم کیږي او کوړې به نه ورکول کیږي.
دویم قسم: د (محصن) یعنی هغه شخص چې نکاح یې کړې وي او بیا زنا وکړي د هغه حد په شریعت مطهرة کې سنګسار (رجم) دی.
دا د لمر په څېر ډاګیزه ده چې د شرایطو سره سم (په کاڼو) سنګسار د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنت او د عمل او د ټولو صحابه کرامو او تابعینو په اجماع سره ثابت دی او دا حکم ترقیامت پورې

د اسلامي خلافت تمکین ساحه کې د اسلامي حد تنفیذ یوه بیلګه

پر ځای او مشروع دی چې ډیر روایت دې باب کې نقل دي:
حدیث د بخاري کې راځي:
١ـ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لاَ يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ ، يَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ ، إِلَّا بِإِحْدَى ثَلاَثٍ : النَّفْسُ بِالنَّفْسِ ، وَالثَّيِّبُ الزَّانِي ، وَالْمَارِقُ مِنَ الدِّينِ التَّارِكُ لِلْجَمَاعَةِ » (صحيح البخاري)
ژباړه: د عبد الله رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د هیڅ مسلمان وینه تویول جایز نه دي چې کلمه وایي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په رسالت ګواهي کوي مګر په دریوو حالاتو کې: نفس به وژل کیږي په مقابل د نفس کې (یعنی چې بل څوک یې وژلی وي قصاص کیږي به) واده والا زنا کار ، وتونکی له خپل دین پریښودونکی د جماعت (یعنی مرتد شوی وي) .
٢ـ د ابو هريْرَةَ رضي الله عنه څخه روایت موجود دی، هغه فرمایي: أَتَى رَجُلٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ فَنَادَاهُ، فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ : إِنِّي زَنَيْتُ ، فَأَعْرَضَ عَنْهُ ، حَتَّى رَدَّدَ عَلَيْهِ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ ، فَلَمَّا شَهِدَ عَلَى نَفْسِهِ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ ، دَعَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ أَبِكَ جُنُونٌ ؟ قَالَ : لاَ ، قَالَ : فَهَلْ أَحْصَنْتَ ؟ قَالَ : نَعَمْ ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اذْهَبُوا بِهِ فَارْجُمُوهُ ؟ « قَالَ ابْنُ شِهَابٍ : فَأَخْبَرَنِي مَنْ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ ، قَالَ : فَكُنْتُ فِيمَنْ رَجَمَهُ ، فَرَجَمْنَاهُ بِالْمُصَلَّى ، فَلَمَّا أَذْلَقَتْهُ الْحِجَارَةُ هَرَبَ ، فَأَدْرَكْنَاهُ بِالْحَرَّةِ ، فَرَجَمْنَاهُ.(صحيح البخاري)
ژباړه: یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی په داسې حال کې چې نبي صلی الله علیه وسلم په مسجد کې ناست وو نو دې سړي هغه ته غږ وکړ چې ای دالله رسوله! ما زنا کړې ده ،نو نبي صلی الله علیه وسلم دهغه څخه مخ وګرځاوه تر دې چې هغه دغه خبره یې نبي صلی الله علیه وسلم ته ځلور ځلې وکړه نو کله چې هغه په ځان دغه ګواهي ځلور ځله وکړه نو نبي صلی الله علیه وسلم راوغوښته او ورته یې وفرمایل: آیا ته لیونی یې ؟ هغه وفرمایل: نه. بیا ورته (نبي صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: ایا تا واده کړی دی ، هغه ورته وفرمایل: هو نو نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا بوزئ او رجم یې کړئ. ابن شهاب فرمایي: ما ته خبر راکړی هغه چا چې هغه ته جابر رضی الله عنه خبر ورکړی و، جابر وفرمایل چې زه هم دهغه چا څخه وم چې دا مو رجم کړ، دا مونږ په عیدګاه کې رجم کړ، نو چې کله کاڼو وردداوه نو وتښتیده نو مونږ بیا په حره کې راحصار کړ او رجم مو کړ،
٣ـ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ عنه ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : « وَاغْدُ يَا أُنَيْسُ إِلَى امْرَأَةِ هَذَا ، فَإِنِ اعْتَرَفَتْ فَارْجُمْهَا » وفي رواية «فَغَدَا عَلَيْهَا ، فَاعْتَرَفَتْ فَرَجَمَهَا » ، (صحيح البخاري)
ژباړه: د زید بن خالد رضی الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي: چې رسول الله صلی الله وویل ای أنیسه! د دغه سړي ښځې ته ورشه او وګوره که په زنا یې اعتراف وکړ نو رجم یې کړه .
بل روایت کې راځي چې اُنیس رضي الله عنه ورغی او ښځې په زنا اعتراف وکړ او رجم شوه.

٤ـ د ابْنِ عباسٍ رضی الله عنهما څخه نقل دي هغه فرمایي چې عمر رضی الله عنه وفرمایل: لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ يَطُولَ بِالنَّاسِ زَمَانٌ حَتَّى يَقُولَ قَائِلٌ : مَا أَجِدُ الرَّجْمَ فِي كِتَابِ اللَّهِ فَيَضِلُّوا بِتَرْكِ فَرِيضَةٍ مِنْ فَرَائِضِ اللَّهِ أَلَا وَإِنَّ الرَّجْمَ حَقٌّ إِذَا أُحْصِنَ الرَّجُلُ وَقَامَتِ الْبَيِّنَةُ أَوْ كَانَ حَمْلٌ أَوِ اعْتِرَافٌ وَقَدْ قَرَأْتُهَا الشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ إِذَا زَنَيَا فَارْجُمُوهُمَا الْبَتَّةَ رَجَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَجَمْنَا بَعْدَهُ (سنن ابن ماجه)
ژباړه: زه یقیني ویرېدم له دې څخه چې خلکو باندې به ډیر وخت تیر شي تردې چې یو ویونکی به دا وایي چې زه خو رجم (د زنا کونکي) دپاره دالله په کتاب کې نه وینم (نو رجم به پریږدي) نو ګمراه به شي په سبب د پریښودلو دفریضې د فرائضو دالله څخه.
خبردار ! ګورئ رجم حق دی چې کله سړي واده کړی وي او دلیل پرې قائم شي (یانې ګواهان چې ده زنا کړې) او یا حمل شکاره شي او یا (یو کس په ځان) اقرار وکړي (نو رجم کیدلی به شي) او حال دا چې یقیني ما (دا ایت قران کې) لوستلی چې واده کړی سړي او واده کړې ښځې چې زنا وکړه نو خامخا یې رجم کړئ ، رسول الله صلی الله علیه وسلم هم دغه رجم کړی او مونږ هم له هغه وروسته دغه رجم عملي کړی دی.
پورته روایت څخه دا هم معلومه شوه چې قران کریم کې اول د رجم باره کې ایات هم نازل شوې و، بیا الفاظ یې منسوخ شول او حکم یې باقي پاتې دی)
بل روایت کې راځي:
یو ورځ عمر فاروق رضي الله عنه صحابه کرامو ته خطبه وکړه او د خپلې اوږدې وینا په ترځ کې یې وفرمایل: زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما ساه د هغه په لاس کې ده که چیرې خلکو دا خبر نه کولای چې عمر د الله په کتاب کې زیادت وکړ نو ما به دا ایات چې (الشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ إِذَا زَنَيَا فَارْجُمُوهُمَا الْبَتَّةَ) یعنې د واده والا سړی او د واده والا ښځه چې کله زنا وکړي نو خامخا دواړه رجم کړئ ورزیات کړي وو. (رواه مالك في موطأ)
نو پورته احادیث دلیل دی، په دې چې واده شوي زنانه او سړی چې کله زنا وکړي هغه به سنګسار کیږي د صحابه کرامو په ژوند کې

د اسلامي خلافت تمکین ساحه کې د اسلامي حد تنفیذ یوه بیلګه

د ماعـز بـن مالـک رضي اللـه عنـه او د غامدیـة پـه نامـه د زنانـه رجـم او سنګسار خورا مشهور دی په همدې اساس احادیث د قرآن کریم تفسیر او تشریح ده د نبي علیه السلام د دې امر منل چې محصن (واده والا) زاني رجـم کـړئ پـه مـوږ داسـې واجـب دي لکـه د اللـه عزوجـل د امـر اطاعـت چـې واجـب دی.

طرق إثبات جريمة الزنا:
هغه طریقې چې شریعت کې پرې د زنا جرم ثابتیږي.

١ـ اقرار:

کله چې یو شخص په خپل ځان ګواهي ورکړي پدې شرط چې عقل يې نه وي زائله شوی، یعني لیونی یا په نشه کې نه وي نو د دې شخص اقرار ته به اعتبار ورکول کیږي، چې ډیر احادیث پرې دلیل دي چې د هغې د جملې څخه به یو ذکر کړو:

عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ عنه ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ ، قَـالَ : « وَاغْـدُ يَـا أُنَيْـسُ إِلَى امْـرَأَةِ هَـذَا ، فَـإِنِ اعْتَرَفَـتْ فَارْجُمْهَـا » وفي رواية «فَغَـدَا عَلَيْهَـا ، فَاعْتَرَفَـتْ فَرَجَمَهَـا »، (صحيح البخـاري)

ژباړه: د زید بن خالد رضی الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي: چې رسول الله صلی الله وویل ای اُنیسه! د دغه سړي ښځې ته ورشه او وګوره که په زنا یې اعتراف وکړ نو رجم یې کړه.

بل روایت کې راځي چې اُنیس رضي الله عنه ورغی او ښځې په زنا اعتراف وکړ او رجم شوه.

٢ـ څلور نارینه ګواهان:

په یو شخص به هغه وخت د زنا جـرم ثابتیـږي چـې څلـور نارینـه ورباندې د زنا ګواهي ورکړي، دی باب کې د زنانه ګواهي هم معتبره نـده.

اللـه تعالـی فرمایي: وَاللَّتِـي يَأْتِيـنَ الْفَاحِشَـةَ مِـنْ نِسَـائِكُمْ فَاسْتَشْـهِدُوا عَلَيْهِـنَّ أَرْبَعَـةً مِنْكُـمْ [سُـورَةُ النِّسَـاءِ : 15]

ژباړه: ستاسي له ښځو څخه چې څوک بدلمنې وي، پر هغو باندې ستاسي څخه څلور شاهدان ونیسئ.

دویم دلیل: وَالَّذِيـنَ يَرْمُـونَ الْمُحْصَنَـاتِ ثُـمَّ لَـمْ يَأْتُـوا بِأَرْبَعَـةِ شُـهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُـمْ ثَمَانِيـنَ جَلْـدَةً وَلَا تَقْبَلُـوا لَهُـمْ شَـهَادَةً أَبَـدًا وَأُولَئِـكَ هُـمُ الْفَاسِـقُونَ [سُـورَةُ النُّـورِ : 4]

ژباړه: او څوک چې په پاک لمنو ښځو باندې تور ولګوي، بیا څلور شاهدان تېر نه کړي، هغوی اتیا دُرې ووهئ او د هغو شاهدي هیڅکله مه منئ، او هغوی پخپله فاسقان دي؛

دریم: حدیث د مسلم (1498) کې راځي:

عَـنْ أَبِي هُرَيْـرَةَ رضي اللـه عنـه أَنَّ سَـعْدَ بْـنَ عُبَـادَةَ رضي الله عنه قَـالَ : يَـا رَسُـولَ اللَّـهِ ، إِنْ وَجَـدْتُ مَـعَ امْـرَأَتِي رَجُـلًا أُؤْمِهْلُـهُ حَتَّـى آتِيَ بِأَرْبَعَـةِ شُـهَدَاءَ ؟ قَـالَ : (نَعَـمْ) .

ژباړه: د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې سعد بن عباده رضي الله عنه وویل: اې د الله رسوله که زه د خپلې زنانه سره یو سړی ووینم نو زه به دومره مهلت ورکوم چې څلور ګواهان راولم؟ هغه وویل: هو!

٣ـ د حمل (بچي) ښکاره کیدل د هغې زنانه چې خاوند نلري او د وینځې چې سید یې نه وي :

په هغې زنانه باندی د حد قائمولو باره کې د علماؤ نظرونه مختلف دي چې حمل یې ښکاره شي او خاوند نلري او د اختلاف وجه هم داده چې په دی باب کې روایات مختلف دي

حدیث د مسلم کې راځي:

قَـالَ عُمَـرُ بْـنُ الْخَطَّـابِ : وَهُـوَ جَالِـسٌ عَـلَى مِنْـبَرِ رَسُـولِ اللَّـهِ صَـلَّى اللَّـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ « .... ، وَإِنَّ الرَّجْـمَ فِي كِتَابِ اللَّـهِ حَـقٌّ عَـلَى مَـنْ زَنَى إِذَا أَحْصَـنَ مِـنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَـاءِ ، إِذَا قَامَـتِ الْبَيِّنَةُ أَوْ كَانَ الْحَبَـلُ أَوِ الِاعْـتِرَافُ » (صحيـح مسـلم)

ژباړه: عمر رضی الله عنه وویل په داسی حال کې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ممبر ناست و: .... رجم د الله په کتاب کې و (او) حق دی په هغه سړي او ښځه چې واده یې کړی وي او دلیل پرې قائم شي (یاني ګواهان چې ده زنا کړې) یا یې حمل ښکاره شي او یا اعتراف وکړي.

او په بل حدیث کې نقل دی چې:

أَنَّ عمـرَ أُتِيَ بامـرأةٍ ليـس لهـا زوجٌ قـد حملت فسـألها عمرُ فقالت : إني امرأةٌ ثقيلةُ الـرأسِ وقـع علـي رجـلٌ وأنـا نائمـةٌ فمـا اسـتيقظت حتـى فـرغ فـدرأ عنهـا الحـدَّ (أخرجـه ابـن أبي شـيبة 9/ 569، والبيهقـي 8/ 235)،

ژباړه: عمر رضي الله ته یوه زنانه راوستل شوه چې حامله وه او خاوند یې نه و عمر رضي الله عنه ورڅخه پوښتنه وکړه؟ هغې وویل زه یوه ښځه یم چې سر راباندی درونه دی، یو سړی راباندی پریوته او زه ویده وم زه چې ترڅو راپاڅیدم نو سړی (د زناڅخه) فارغ شوی و، نو (عمر رضي الله عنه) د هغې څخه حد دفعه کړ.

د روایاتو اختلاف کې که چیرې نظر وشي نو دا مسئله تری معلومیږي چې کومه زنانه باندې زور شوی وي ، په زنا کې یا په ویده حالت کې زنا ورسره شوی وي، نو د دې زنانه څخه به حد ساقط وي او بغیر له دې چې د زنانه خاوند نه و او حمل یې ښکاره شو حد به ورباندې قائمیږي دا خبره شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله هم غوره کړې هغه فرمایي:

مسئله: کله چې یوه زنانه حامله وه په زنا سره نو په هغې به د حمل حالت کې حد نه قائمیږي ترڅو چې ماشوم یې نه وي زیږولی

حدیث د صحیح مسلم کې نقل دي چې غامدیة زنانه ته رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي و: حَتَّـى تَضَعِـي مَـا فِي بَطْنِـكِ «. لاړه شه تر دې چې ته ماشوم وزیږوې (بیا راشه هغې همداسې وکړل).

ابن قدامة رحمه الله فرمایي : « وَلَا يُقَـامُ الْحَـدُّ عَـلَى حَامِـلٍ حَتَّـى تَضَعَ «المغنـي» (12/327)

ژباړه: په حاملې زنانه به حد نشي قائمیدلی تر څو چې بچی یې نه وي زیږولی.

درنو لوستونکو ! دا وو د زنا د حد په اره تفصیل، چې دا حد کله او څنګه او په څه ډول او څومره تطبیقیږي .

اسلامي دولت لله الحمد په حقیقي شکل د الله عزوجل له لوري ټاکلي ټول حدود څه ډول چې یې اسلامي شریعت لاروښونه کوي همغسې تطبیق کړي ، د اسلام حقیقي تصویر د اسلامي دولت مجاهدینو وړاندې کړ او نړۍ ته یې وښوده چې بې له کوم فشار

او ډار څخه د الله حکم عملي کوي او عملي کولای شي ان شاء الله .

بل لور ته تاسې بیا د اسلامي امارت (!) په نامه د سیمې د استخباراتو کرایي ملېشې هم ګورئ چې په څومره مکر او فریب د کفارو طرحې عملي کوي او په دوحه کې ډیزاین شوې پاکستاني اسلام د حقیقي اسلام په نوم نوموي او خلکو ته په سترګو کې خاورې اچوي . درنو لوستونکو ! تاسې په خپلو سترګو وکتل او دا حقیقت له هیچا پټ نه دی چې امریکا د کومو اهدافو لپاره د تیر جمهوریت له مرتدینو واک او ځواک په یوه میاشت کې واخست او د امارت مرتدینو ته یې په منډه پرته له کوم ډز ډوزه وسپاره ،او په افغانستان حاکم شوې امارت په یوه نوې بڼه هغه دیموکراسي چې د دوحې په هوټلونو کې طرحه شوې د شریعت په نوم یې لګیا دي تمثلوي او له کفارو څخه پرې د ډالرو کڅوړې او موقفونه ترلاسه کوي . واک ته د طالب ملیشو په رسیدو کې د امریکا له ګڼو اهدافو څخه یوعمده هدف د طالب ملېشو په وساطت د اسلامي خلافت د مجاهدینو مخنیوی او د حقیقي شرعي نظام ممانعت دی ، امریکا او نور کفار پوهیږي او دا ورته د خراسان ، عراق او شام او د نورو سیمو د هغه مهال په تجربو ثابته ده کله چې د اسلامي دولت مجاهدینو په ډیرې سیمو پراخه تمکین درلود او سل ، سلنه یې د الله عزوجل قانون حاکم کړې وو ، پرته له کوم تغیر او تبدیل څخه یې د الله حدود په هغه طریقه عملي کول چې الله عزوجل او د هغه رسول صل الله علیه وسلم یې لارښونه کړې وه ، د اسلامي خلافت په سیوري مسلمانانو د خلافت رعیت په ډیر سکون و امن ، ارام ، سهولت او اطمنان کې ژوند درلود ، د اسلام له عدالت او شفقت له خوږو څخه یې خوند اخست او ورځ تربلې د اسلام د حقیقي نظام سیوري ته له لرې او نیږدې سیمو څخه مهاجرین راتلل او د الله د نظام خواږه خوریدل ، او خلک اسلامي نظام ته زیات خوشاله وو ، امریکا او نورو کفارو دا درک کړه چې اسلامي نظام همداسې دوام ومومي او ددې نظام خواږه خلک ووینې نو ددوی دا کفري دیموکراتیک نظامونه به خپله سقوط شي ، نو یې نړیوال اشر وکړ تاسې په عراق او شام کې د ټولو کفارو د نړیوال ایتلاف د وحشتونو او د اسلامي دولت په خلافت د سختې جګړې شاهدان یاست چې دلته په خراسان کې ددغه کفري ایتلاف یوه برخه مرتد طالبان وو، نو امریکا دلته طالبان د همدې موخو لپاره واک ته ورسول چې یو خو به د اسلامي دولت په خلاف خپله جګړه دوامداره وساتي بل به د حقیقي شرعي نظام مخه ونیسي او په ځای به یې داسې یو نظام د اسلام په نوم حاکم کړي چې هغه به بشپړه دیموکراسي وي ، نو همداسې یې وکړل ، طالب مشران یې له خپلې استخباراتي هډې قطر څخه په طیاره کې رانتقال کړل او کشرخیل یې په ورسپارل شویو ټانکونو سپاره په کابل راداخل کړل ، بیا نو له تیر یو نیم کال راهسې چاپیره دي ، ددوی د کفارو بادارانو او ددوی شریکه هڅه داده چې له خپله ځان جوړشوي قوانین په دوحه کې ډیزاین شوي فرامین څنګه د اسلامي شریعت په نامه په خلکو ومني ، امریکا او نور کفار له دې کړنو دا هدف هم لري چې اسلامي شریعت بدنام کړي او خلکو ته وښایي چې هن دایي هغه اسلامي شریعت چې طالبانو غوښت ، چې نه په کې د چا سر خوندي دې نه مال نه یې ناموس خوندي دې نه نور حال ، طالب ملېشې خپله په غلا، زنا ، لواطت ، فساد ، او نورو داسې ګناهونو اخته دي چې هر یو یې د حد د تطبیق وړ دې خو خپله سرې سترګې اذاد ګرځي خو په نورو کمزورو بیا د شریعت او حدودو په نامه له خپل ځانه جوړې شوې سزاوې عملي کوي او خلکو ته دا ذهنیت سازي کوي چې ګوندې دوی د حدودو تطبیق کوي . تاسې په پورته بحث کې ولوستل چې شریعت په څه طریقه د زاني لپاره کوم حد ټاکلې او په کوم شرایطو باید دا حد عملي شي خو طالب ملېشې بیا رالږیږي سره له دې چې په دې اعتراف کوي چې د شاهدانو باوجود او خپله په خپلو جرمونو د اعتراف په صورت کې ګڼ واده کړي او نا واده کړي زانیان نیولي ، مخکې له واکه به یې دا زانیان په توبه بخل اوس یې نو دومره تفاوت وکړ چې د سنګسار ، رج او سل دورو وړ زانیانو سزا یې په عمومي شکل ۳۹ دورو ته راټیټه کړه، او عملا په هر ځای کې خه ښکاره دا نارې وهي چې دوی زانیانو ته حدود تطبیق کړل ، حال دا چې تاسې د قران او احادیثو په رڼا کې د زانیانو حالات او ورته ټاکلي حدود ولوستل ، نو په دې به پوهه شوي یاست چې طالب ملېشې په څومره سپین سترګې د الله حدود بدلوي او د خپل ورسپارل شوي واک د دوام لپاره د کفارو سره په کومو معاملو او د اسلامي شریعت د بدنامولو په پروژو په شریکه کار کوي . د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو ! دا وه ددې مقالې لومړې برخه ددې مقالې دویمه برخه چې په کې به د لواطت د حد ترڅنګ په نورو حدودو او د طالب ملېشو په نورو اړوندو خباثتونو بحث وشي د خراسان غږ مجلې په راتلونکې اتلسمه ګڼه کې به وړاندې شي ان شاء الله .

شرقي ترکستان د اسلامي
وجود زخمي ټوټه
کمیونست چین ته وایو چې د شرقي ترکستان په سیمه د مسلمانانو نسل وژنه ودروئ، د مسلمانو پیغلو په ناموسونو تجاوز بند کړئ، د مسلمانانو بې دینه کولو لړۍ ختمه کړئ، که نه د استشهاد او انغماس د شازلمو داسې کاري ګزارونو سره به مخ شئ چې مهار کول به یې ستاسې له توانه بهر وي. نه به مو طالب مزدوران له ککریو لمبې مړې کړي او نه به ددغه عربي بلاعمه وو کوششونه کومه فایده درکړي. باذن الله تعالی

شرقي ترکستان د اسلامي وجود زخمي ټوټه

الحمدُ للـه الملكِ الجبّار، الواحدِ القهَّار، وأشهدُ أن لا إلـه إلا الله وحدَهُ لا شَريكَ لـه، ربُّ السماوات والأرضِ وما بينهما العزيزُ الغفَّارُ، وصَلى الله على النبيِّ المُصطفى المختار، وآلـه وصحبه الأطهار. أمـا بعدُ:

کله چې د اسلام لومړيو فاتحينو د زمکې دا پراخه کره په دوه برخو وويشله، او ددې پراخه نړۍ ډيرې برخه د اسلام د غازيانو د اسونو د قدمونو لاندې راغله، د توحيد وياړلی بيرغ دشرک په ماڼيو هسک شو، د دوی غرور او دبدبه خاورې شوه، نو دغه مهال ټول اسلامي امت يو امت و، ټوله اسلامي خاوره يوه خاوره وه، د ټولو امام او خليفه يو و، د ټولو اداره او نظم له يوه مرکزه رهبري کيده، او ټولو مسلمانانو د يو جسد حيثيت درلود، که د نړۍ په لر سر کې به په يو مسلمان ظلم وشو، نو له بر سره به د حق د لښکرو د اسونو ششنار واوريدل شو او باطل به په ويره او ډار کې شو، هغه مهال کفر او کفار ذليله وو، دوی د اسلام بچو ته جزيه ورکوله، او چې چا به سرکشي وکړه بيا به سرونه د اسلام د سرښندويانو د اسونو په پښو کې رغړيدل، بچي او لونې به يې د مريانو په بازارونو کې خرڅيدل.

هو! هغه مهال د اسلام برم او عظمت و، هغه مهال اسلامي امت يو موټی او واحد ملت و.

خو کله چې دې امت خپل مسوليت ترک کړ، دوی د خپلو نيکونو جنګي اسونه وتړل او د خپلو مشرانو له هغه توروو چې د کفارو په وينو سرې وې په پوښونو کې دننه کړې او د دنيا عيش وعشرت ته يې مخه کړه، همدغه وخت د اسلام د دښمنانو د مسلسلو کوششونو او په دې وروستيو کې د اسلامي حکامو په نامه د کفارو د لاس پوڅو غدارانو د خيانتونو په پايله کې يو ستر امت ټوټې ټوټې شو، او د اسلام ستره کلا راونړيده، پراخه اسلامي خاوره يا په فزيکي لحاظ اشغال شوه او يا هم د کفارو له لورې د هيوادونو او وطنونو په نومونو وويشل شوه، د پراخه اسلامي نړۍ په سينه يې د وطنيت کرښې راښکلې، ددې کرښو په داخل کې پراته ملتونه يې په مختلفو نومونو، قومونو، ژبو او سمتونو وويشل، دوی يې د وطنيت په کفري عقيده ايمان ته اړ کړل، او ددې کرغيړنو کرښو ترشا يې نور ګڼ کفري مفاهيم خوندي او په مسلمانانو عملي کړل، اوس نو دا دی درسته اسلامي خاوره په يو نه، يو ډول اشغال ده او اسلامي امت پايمال او په بدحال دی.

څکه نو اندلس د ماضي کېسه شوه، شيشان، داغستان، قفقاز، بخارا، سمرقند او د ماوراالنهر دنګ، پيچلي مرګوني غرونه او هيبتي ناونه هغه چې يو وخت د اسلام د بچو نه ماتيدونکي مورچلونه او سنګرونه وو اوس نو د روسي تزار د خرمستيو، د سيال او عياشيو په ميله ځايونو او نايټ کلبونو بدل شول، د فلسطين له بدنه تازه وينه روانه ده خو دې پرهر د ترلو څوک نه شته، د شرقي ترکستان صحراوې او سرسبزه اورشوګانې د چينايي درنده ګانو د وحشت په هډو او د ظلم او ستم په تورو او تياره زندانونو واوښتې، اوس نو دلته د اسلامي امت يوه عظيمه برخه يرغمل ده، اوس نو دلته ميليونونو مسلمانان د خپل دين او هويت په پرېښودو او هيريدو اړ کيږي اوس نو دلته له هغه تاريخي مساجدو او مدارسو د څارويو طبيلې جوړې شوې دي.

خو افسوس دا چې اسلامي امت ټوټه، ټوټه او هره ټوټه يې په خپل غم اخته ده، څکه نو د اسلام په نامه د کفارو طرحه شوې ډلې ټپلې په داسې حال کې ځانونه د اسلامي امت استازي بولي چې د همدغه اسلامي امت او اسلامي خاورې قاتلانو، ددوی د ناموس لوټونکو کفارو سره ددوی په سر په سودا او معاملو بوخت دي، د ډالرو په کڅوړو يې نه يوازې دا چې خپل ايمانونه وپلورل، بلکې کوشش يې دا دی چې ټول اسلامي امت او اسلامي خاوره هم په کفارو وپلوري څکه نو د همدې پروژې د تطبيق لپاره خپل اخري کوشش کوي چې د اسلام د اصلي بچيانو د اشغال شوې اسلامي خاورې د ازادی او د اسلامي امت د اصلي وارثانو د اسلامي دولت د سرښندويانو مخه ډب کړي، په دې خاطر چې روس په ماوراالنهر خپلې وحشي منګولې همداسې لاپسې کلکې کړي، امريکا او اروپا د اندلس له تاريخي مساجدو پرلاپسې کليساوې جوړې کړي او په نړۍ د ديموکراسۍ د تطبيق پروژه دوامداره وساتي او وحشي چينايان په شرقي ترکستان کې د يغور د مسلمانانو وينې لا خه وزبيښي، خو هيڅکله به باذن الله د اسلامي امت دې موجوده خاينانو طالب مليشو او ددوی د بادارو کفارو ارمانونه پوره نه شي، لله الحمد اسلامي غازيان په هره برخه کې ددوی په بيخ کندې بوخت دي او زر ده چې ددوی او د بادارانو ټغر يې له خراسان او بيا ټولې نړۍ ورټول کړي، دوی که هر څومره هڅه کوي چې خپل هر کفر توجيه کړي، د اسلام د دعوې سره، سره د شرقي ترکستان کېسه د هغوی داخلي مسئله وګڼي، او د نورو ټولو کفارو سره داسې خوږې او صميمي اړيکي لا پسې قوي کړي خو داسې زلمي او سرښندونکي سري لا ژوندي دي چې د دوی هر کفر او شرک يې رابربنډ کړي او ددوی دا منحوسه او شرميدلې څيره يې نړۍ ته رابرسيره کړي، دا چې اشغال شوې اسلامي خاوره او د اسلامي امت محکوم ملتونه د تاريخ هغه تيارو ګوټونو ته سپارل شوي او د ډيرو له حافظو دا تاريخونه يا پاک شوي او يا يې د پاکيدو هڅه کيږي خو د اسلامي دولت غازيان او داعيان ځان مکلف ګڼي چې د اسلامي امت په روانو حالاتو ددوی له عظمت او برم څخه د ډک تاريخ په رواياتو او اسلام سره د خاينو او غدارو کړيو له سرټيتيو او خيانتونو خپل نسلونه خبر وساتي او کوشش يې دا دی چې په هر ډګر کې يو ځل بيا د امت بچي د يو عظيم امت د جوړيدو او د اسلامي خاورې د ازادۍ په روحيه وروزي نو په همدې موخه غواړو چې د ديني، سياسي، تاريخي او علمي ليکنو په لړ کې د اسلامي تاريخ د يوې داسې صفحې څخه ګردونه وڅنډو چې له ډيرو وياړونو، عزمونو، ارادو او حماسو څخه ډکه ده، هو د تاريخ دا هير او د وخت د لمبو په لوګو کې پټ دا باب د شرقي ترکستان باب دی راځئ د شرقي ترکستان په مختلفو اړخونو رڼا واچوو په دې هيله چې دا ليکنه تر پايه تعقيب او تر نورو يې ورسوئ.

د لمړۍ پيړۍ په آخري کلونو (95 هجري قمري) کې د شرقي ترکستان پراخه صحراو، بيابانونو، سرسبزه درو او اورشوګانو د اسلام د ستر فاتح قتيبه بن مسلم د باغي اسونو قدمونه ښکلول او شرقي ترکستان خپله خوږه غيږه د حق لښکرو ته پرانيسته، خپل سره او سپين يې د دغه بريالي لښکر ځولۍ ته راګزار کړل او اسلام د چين تر حدودو ورسيد. په څلورمه پيړۍ (332 هجري قمري) کې د ترکي اويغوري قبيلې مشر سلطان عبد الکريم ستوق بګراخان مسلمان شو، چې په دې سره زياتو ترکانو اسلام راوړ او د دغه هيواد رسمي دين اسلام وګرځيد او تر لسو پيړيو پورې دغه هيواد د اسلام له خوږو څخه برخمن و، ترکستان د صنعت او زراعت د يو مرکز ترځنګ د هر اړخيز تمدن په کندو بدل شو، ددې ځای مسلمانانو د خپلو باکماله معمارانو په مټ ډير تاريخي ستر مساجد او مدارس ورغول، چې نه يوازې د فزيکي ابادۍ په لړ کې بلکې د معنوي ابادۍ يو سمبول وګرځيدل، د ترکستان پايتخت کاشغر ښار د علم او عرفان زانګو وه تر دې چې دغه ښار د کوچنۍ بخارا په

نوم یادیده.

د چین لخوا د ختیځ ترکستان اشغال:

د چین ملحدو کفارو خپل څنګ کې د مسلمانانو داسې ورځ تر بلې په مخه تلونکی حکومت ونشو زغملای، نو ځکه یې څو ځل په شرقي ترکستان برید وکړ ،چې د الله په فضل سره هر ځل ټیټ سر ستانه او مات شول، د عثماني دولت زوال څخه وروسته په 1933 م کال کې د کفارو د فکري جګړې په نتیجه کې د شرقي ترکستان یو څو بې دینه مشرانو غوښتل چې دا هیواد د شرقي ترکستان اسلامي جمهوریت په نوم د یو سیکولر هیواد په حیث نړۍ ته معرفي کړي خو دا نظام عامو مسلمانانو ته د منلو وړ نه و، نو دغه موقعې څخه ګاونډي کافر استفاده وکړه او دا یې د اشغال مناسبه موقعه وبلله، د جمهوري نظام تشکیل لا بشپړ نه و ، چې څو میاشتې وروسته یې حکومت د منځه لاړ. روس او چین ائتلاف وکړ، ځکه چې شرقي ترکستان د روس مستعمره هیوادونو په ګاونډ کې واقع و، او هسې هم د اسلام دښمنۍ دواړه سره یوځای کړي وو.

په 1949م کال یې شرقي ترکستان د سختو ظلمونو او وحشتونو په نتیجه کې په کامله توګه اشغال کړ او د شرقي ترکستان دا پراخه هیواد یې د سینګیانګ په نوم د خپل هیواد یو ایالت وګرځاوه، چیني ژبه یې ورته رسمي ژبه وټاکله او په هر نوعه دیني احکامو باندې یې بندیز ولګاوه.

د شرقي ترکستان مساحت 1.7 میلیون کیلومتر مربع دی، او د مسلمانانو شمیره یې تقریبا 30 میلیونو ته رسیږي. شرقي ترکستان ډیر بډایه هیواد و، ځکه چې ډیری معدنیات لري، د مثال په توګه دا هیواد د چین د احتیاطي ذخیرې 25% پټرول او 28% طبیعي ګاز تولیدوي، په دې سیمه کې طلا، سنګ ذغال، قیمتي ډبرې، یورانیم او نور کانونه هم شتون لري، پدې ډول څیړونکي وایي چې شرقي ترکستان د چین ځلوېښت سلنه عواید تشکیلوي خو د دغه سیمې اتیا سلنه مسلمانان د فقر او غربت د لاسه ولږې او نهارې تیروي. د دې سربیره دا سیمه ډیرې ښایسته زړه وړونکې منظرې لري، د غرونو پراخه لمنې، شنې ورشوګانې، ښیرازه دښتې او رواني اوبه لري. د آسمان څکو غرونو په واورو پوښلي سرونه یې د سیلانیانو د پام وړ دي. پدغه ګلاب ، ګلاب وطن کې د ترکي د مسلمانانو یو قوم اوسیږي چې د یغور په نامه یادیږي، د چین له اشغاله وړاندې ددې سیمې 80 % اوسیدونکي ایغوري مسلمانان وو، خو د 1949 میلادي کال د چیني اشغال څخه وروسته نن ورځ دوی د سنکیانګ (شرقي ترکستان) یوازې 45% برخه تشکیلوي.

د چین د ظلم لنډ داستان:

د چین لخوا د شرقي ترکستان په مسلمانانو د شویو تېریو داسې بوږنونکي داستانونه شته ، چې په اوریدو یې د انسان له سترګو څخه د اوښکو او وینو رودونه بهوي ، هغه زړه چې د آسمانونو مالک څخه پکې یو څه ډار موجود وي، د محمد صلی الله علیه وسلم راوړي تعلیماتو څه پوهه ولري او بشري عاطفې ادنی حس هم ولري نو د دغه مظلومو مسلمانانو په حال یې زړه پرهر، پرهر کیږي. زمونږ قلم د هغه ټولو ظلمونو او وحشتونو بیانولو څخه عاجز دی خو په اجمالي ډول به یو څو بیلګې ستاسې مخې ته کیږدو.

چین د اشغال راهیسې تر ننه په میلونونو مسلمانان په شهادت رسولي دي، چې د ځینو سرچینو په وینا د قربانیو مجموعي شمیر یې تقریبا 40 میلونونو پورې رسیږي. دا هغه لوړ تعداد دی چې د عراق، افغانستان، چیچن، فلسطین او بوسنیا مجموعي شهیدانو شمیره پوره کوي یا داسې ویلی شو چې چین د ټول افغانستان نفوس هومره مسلمانان وژلي او ژوبل کړي دي. چین په 1952 میلادي کال کې 120 زره مسلمانان اعدام کړل، او دا اکثره نیکان خلک و، علماء، قاریان او کوادر وو، هدف یې دا و چې کله له دې ټولنې د سر سړي لري شي او د چین لخوا د عقیدې تغیرولو مشن شروع شي نو ډیر زر به د مسلمانانو له زړونو څخه خپل ایمان، اسلام او د جهاد مینه وباسي. د علماؤ شهادت څخه وروسته چینایي ملحدانو مدارسو او مساجدو ته مخه کړه، څه یې رنګ کړل، څه یې تخریب کړل، له ځینو یې پلورنځي او له ځینو یې د څارویو غوجلې جوړې کړې، بعضې یې د مونځ کونکو پرمخ وتړل، د 1949 میلادي کال څخه تر 1979 میلادي کال پورې دې اشغالګرو 29000 مساجد تخریب کړل، د 1997 میلادي کال څخه تر اوسه تقریبا 1200 مساجد یې د کمونیستانو په دفترونو بدل کړل. د اشغال له پیل څخه چین 370 زره دیني مدارس او د الله د کتاب د تعلیم تعلُم مراکز وسوځول.

همدغه راز یې د خپل دین او اسلامي هویت د پریښودو او همدې هدف ته د ګمارل شوې اردو د خدمت او دوی ته د شاقه کارونو د ترسراوي لپاره

يې 54000 مسلمانان وګمارل، د مساجدو امامان يې په زور د رقص او موسيقۍ زده کړې ته اړ کړل، ترڅو خلکو ته د قرآن او حديث پر ځای رقص او سرود وروښايي.
د ديني بنسټونو د منځه وړلو څخه وروسته يې په دين عمل کونکو لپاره سختې جزاګانې مقرر کړې، په حجاب يې مکمل بنديز ولګاوه، مونځ، روژه، ږيره، حج او داسې نور احکام جرم وشميرل شول، د خنزير غوښه خوړل، شراب څښل او رقص وغيره منکرات جبري شول، د قرآن کريم اود نورو ديني کتابونو او اوراقو ساتل په مطلق ډول بند شول، يوازې په همدې شعائرو او احکامو طويل المدت قيدونه مقرر شو، چې د لسو کالو څخه نيولې تر عمرقيد پورې نيټې ورته وټاکل شوې. د مثال په توګه طورستان په نامه 58 کلن سپين ږيري ته يې د ږيرې پريښودو له امله 17 کاله قيد ورکړ. 50 کلنې زنانه ته يې د قرآن درس ورکولو له امله 14 کاله بند ورکړ. همدا ډول د شراب نه څښلو له امله 15 کاله قيدونه ورکړل شول، د حجاب نه پريښودو له امله حتی زنانه ژوندۍ وسوځول شوې، خو دغه عفت مندو پيغلو تر اوسه هم دغه ذليله کفارو ته تسليمي نده ورکړې.

دلته به لوستونکو سره دا پوښتنه پيدا کيږي، چې د اويغوري مسلمانانو ګناه به څه وي چې دوی ځورول کيږي، نيول کيږي، تړل کيږي او په بيلا، بيلو مرګونو وژل کيږي نو د دې جواب آسان دی، هغه دا چې دغه مسلمانان خپله اسلامي خاوره د کفري اشغال څخه خلاصول غواړي، دوی د دښمن پر وړاندې د جهاد عزم کړی و، هغه جهاد چې کفري نړۍ ته هيڅکله د منلو وړ نه دی، د 2009 ميلادي کال څخه 2014 ميلادي کال پورې د اويغوري مسلمانانو لخوا جهادي څپې زور واخيست، تر دې چې دغه مسلمانانو د نړۍ د نورو مجاهدينو په څير په ځانونو پورې بمونه وتړل او ځانونو ته يې د چينايانو ترمنځ انفجارات ورکړل، موټر بمونه يې وکړل، کله چې چين دا بريدونه وليدل نو سابقه وحشت يې څو چنده زيات کړ، د مسلمانانو نسل کُشي يې شروع کړه. د دوی ايمان وژنه يې په ځان لازم وبلله او د ظلم داسې تاريخونه يې ثبت کړل چې د افغانستان، عراق، فلسطين وغيره مظالم يې له خلکو هير کړل. د اويغوري مسلمانانو ځارلو په پار يې هره کوڅه، هر کور او هره خونه کې ځارونکي کاميرې نصب کړې حتی د دوی شخصي حريم يې هم نقض کړ. د سيمې څخه يې د مسلمانانو سفر لپاره يې کلک شرايط وضع کړل.
د مسلمانانو بې دينه کولو لپاره د فکري بې لارۍ ستر روزنتونونه جوړ کړي، چې حقيقت کې دا د نړۍ تر ټولو کرغيړن او ستر زندانونه دي، چې د بي بي سي او نورو کفري سرچينو په اساس يو مليون او د اويغوري مسلمانانو د قول مطابق تر لس ميليونو پورې مسلمانان په کې د تعذيب څخه ډکې شپې او ورځې تيروي. هر نوعه فزيکي او معنوي جزاګانې ورته ورکول کيږي، د دوی ترمخه د اسلامي مقدساتو توهين کيږي، دوی څخه جامې ويستل کيږي، دوی وږي ساتل کيږي، د عفت مندو مسلمانو خويندو عزتونه د غيرتي ورونو ترمخه لوټل کيږي.
هغه مسلمانان چې د الله په توفيق سره د دغه کيمپ او زندان څخه راتښتيدلي دي هغوی دغه ټولې ناخوالې بيان کړې دي. وايي د چين ملحد پوليسان به راتلل او د اويغوري مسلمانانو ښايسته پيغلې به يې کتلې او د ټولې پنجرې په مخکې به يې ورسره بدکاري کوله، او عجيبه لا دا وه چې دغه وخت به سخت امتحان دا و چې ټول بنديان مکلف وو ترڅو د بدکارۍ دې فعل ته وګوري، که چا به د ډير شرم او حيا د لاسه سترګې ښکته کړې نو هغه مسلمان به د دوی په نزد ستر مجرم و.

هر وحشي ځناور د خپلې شپې لپاره يوه، يوه حسينه پيغله منتخب کړې وه، چې په وخت به د هغې خونې ته ورتله، او کله نا کله به چې د يوې زنانه په اړه خبر شو چې دا اوس هم دين او اسلام يادوي نو بيا به يې د ټولو په مخکې ورسره ډله ايېز زياتي کاوه، تر دې چې د ټولو مخکې به يې دغه عفت مندې مسلمانې ته د جامو ويستلو امر کاوه چې جامې به هم ته خپله وباسي!! حسبنا الله ونعم الوکيل.

ځينې داسې زنانه هم وې چې د شپې به يې بوتللې او بيا مونږ هغه کله هم ونه ليدې خو دا ټول هر څه مونږ په چوپه او پټه خوله زغمل! او د نارينه وو لپاره د بربنډولو جزا خو بيخي عادي خبره وه، د چين الحادي فکر او قوميت درسونه به ورکول کيدل، په اجتماعي ډول به پرې د چين شعارونه بدرګه کيدل. د چين د مصالحو لپاره د تجسس عهدونه به ترې اخستل کيدل او د دغه کيمپ نه خلاصون څخه وروسته د هر نارينه او زنانه افعال او اعمال څارل کيږي چې آيا کوم بدلون پکې راغلی او که نه ؟ شراب څښي او که نه ؟ حجاب کوي او که نه ؟ لباس يې کوم ډول دی ؟ د رقص او موسيقۍ مجالسو ته حاضريږي او که نه ؟
چين دا کوشش هم کوي چې د اويغوري مسلمانانو نسل د خپريدو څخه وساتي، مسلمانې پيغلې چينايانو سره ودونو ته اړ ويستل کيږي، او مسلمان ځوانان هم چينايي ښځو سره ودونو ته مجبوره کيږي، ترڅو د دوی راتلونکې نسل کاملاً چينايي مفکوره ولري، د دې سربيره د مسلمانو زنانه وو او نارينه وو د شنډوالي لپاره هم مختلف تدابير استعمالوي. همدا اويغور مسلمانان

د طب په بخش کې تجربو لپاره استعمالوي، دغه رنګ چين هر کال د 60 څخه 100 زره پورې د انساني اعضاؤ انتقال عمليات ترسره کوي چې اکثره اعضاء يې د اويغوري مسلمانانو څخه په زور ويستل کيږي، د مسلمانانو بچيانو ته هم کميونستي تعليم ورکول کيږي، دوی ته د ايمان او توحيد پر ځای د رقص او الحاد درسونه ورکول کيږي.

دا هغه حقيقتونه دي چې ټوله نړۍ پرې ګواه ده، هسې تش خيالي داستانونه نه دي، د بي بي سي او امريکا غږ په څير کفري رسنۍ هم ددغه حقائقو څخه چوپ پاتې نه شوې ، نړيوال کفار پدې جرمونو اقرار کوي خو د اقرار سره ، سره هم کوم اقدام ته تيار نه دي ، چې دې سره په ټولو مسلمانانو باندې ملنډې وهي او دغه ثبوتونو څخه د چين په خلاف يوازې سياسي استفاده کوي او بس.

شرقي ترکستان او نړيوال غبرګونونه

ټوله اسلامي او کفري نړۍ په دې اعتراف کوي چې د چين لخوا د اويغور په مظلومو مسلمانانو باندې ظلمونه ترسره کيږي، د دوی حريت، د دوی حقوق او حتی د دوی عزت هم د دغه زنادقه وو د لاسه غصب کيږي، خو د عمل لپاره هيڅوک نه راوړاندې کيږي او دا قضيه خلکو ته د اهميت وړ نه ده ځکه چې ايغوريان مسلمانان دي، شاته يې داسې قوت نشته چې پوښتنه يې وکړي.

د بشري حقوقو په نوم کفري سازمانونه وايي چې د چين حکومت د دغه هيواد په «سينګ يانګ» ايالت کې له اويغور مسلمانانو سره ناوړه چلند کوي، د بخښنې نړيوال سازمان او د بشري حقوقو د څار سازمان وايي چې د چين حکومت شاوخوا يو ميليون اويغور په اجباري کمپونو کې ساتلي، د هغوی حقونه يې تر پښو لاندې کړي، اجباري کارونه پرې کوي، اېستل کيږي چې خپل دين پرېږدي او د چين کمونست ګوند سره بيعت وکړي. خو د چين حکومت دا تورونه ردوي نو دا هغه څرګندونې دي چې د مسلمانانو په زخمونو مالګې شيندي، چې خپله اقرار هم کوي او ځان د حقوق بشر مدافع ګڼلو باوجود هم د دغه وحشتونو مخنيوي لپاره هيڅ نوعه عملي ګام نه پورته کوي. دا څرګندونې مسلمانانو ته يو نوعه پيغور دی، چې نړيوال يې مونږ تاسې ته راکوي خو کاش که مسلمان پدې پوهه شي!!

تاسې د حقوق بشر سازمان اعلاميه وګورئ: د #UNHumanRights دفتر د چين په سينکيانګ کې د بشري حقونو انديښنو په اړه خپله ارزونه خپره کړي.

دا د اويغور په وړاندې د بشري حقونو د سرغړونو تورونه تعقيبوي چې د 2017 راهيسې د ملګرو ملتونو پام ته راوړل شوي.

دوی وايي چې 2017 ميلادي کال

UN Human Rights Co... · 01 Sep 22
NEW
The @UNHumanRights Office has issued its assessment of #HumanRights concerns in #Xinjiang, #China. It follows allegations of human rights violations against #Uyghurs brought to the attention of the @UN since 2017.
MORE▶ bit.ly/3q0tMHq

څخه د حقوق بشر ورته پام دی، خو د پنځه کلونو په اوږدو کې يې هيڅ نوعه مثبت ګام نه دی اخيستی.

د امريکا سابقه خارجه وزير مايک پمپيو هم پدې جنائياتو يوازې د خولې اقرار کوي:

Secretary Pompeo
@SecPompeo
The United States condemns the use of forced population controls against Uyghur and other minority women and calls on the CCP to cease its campaign of repression. History will judge how we act today.

ژباړه: متحده ايالات د اويغور او نورو لږکيو ميرمنو پروړاندې د جبري نفوس کنټرول کارول غندي او پر CCP غږ کوي چې خپل د جبر کمپاين ودروي، تاريخ به قضاوت وکړي چې موږ نن څنګه عمل کوو.

خومره باټې يې ووهلې خو تاريخ ثابته کړه چې امريکايان دروغ وايي، د مسلمانانو په حق کې هيڅ اقدام نه کوي.

بل ځای کې وايي:

Secretary Pompeo
@SecPompeo
I have determined that the People's Republic of China is committing genocide and crimes against humanity in Xinjiang, China, targeting Uyghur Muslims and members of other ethnic and religious minority groups.
9:49 PM · 19 Jan 21
25.1K Retweets 3,806 Quote Tweets
78.8K Likes

Secretary Pompeo @... · 19 Jan 21
These acts are an affront to the Chinese people and to civilized nations

ژباړه: ما څرګنده کړه چې د چين ولسي جمهوريت د چين په شينجيانګ کې د اويغور مسلمانان او د نورو توکميزو او مذهبي لږکيو ډلو غړي په نښه کوي او د بشريت پر ضد جنايتونه کوي. دا کړنې د چينايانو او په هر ځای کې د متمدنو قومونو لپاره سپکاوی دی. د چين ولسي جمهوريت او د کمونست ګوند ترمنځ بايد حساب وشي.

ډيره عجيبه ده، وايي بايد حساب وشي ! څوک يې وکړي ؟ هو، يوازې د اسلامي دولت مجاهدين يې د حساب ورتيا لري چې هغه ستاسې او د ټولې نړۍ د کفارو سره په جګړه کې ښکيل دي او تاسې يې په وړاندې هر ډول خنډونه ايجادوئ او په همدې هدف چې په افغانستان کې څومره مسلمانانو قرباني ورکړه هغه مو د طالب سره معامله کړه ، او طالب مو د ځان په شمول د چين او نورو ټولو کفارو په ځولۍ کې وراچاوه ، خو الله الحمد د اسلام بچي لا ژوندي دي، د حساب او انتقام په لټه کې دي ، خو تاسې چې ځانونه د بشر د حقوقو مدافعين بولئ تاسې څه وکړل ؟ کومه ده ستاسې دفاع ؟

Secretary Pompeo
@SecPompeo
If we don't lead, no one else will. The plight of China's Uyghur Muslims wasn't on the international agenda until the U.S. started talking about it. #StainOfTheCentury

ژباړه: که موږ رهبري نه کړو، بل څوک به نه وي. د چين د اويغور

مسلمانانو حالت تر هغه وخته پورې په نړیواله اجنډا کې نه و چې امریکا یې په اړه خبرې پیل کړې.

تشې خبرې څه معنا لري ؟ خو په دغه اخطارونو باندې یوازې سیاسي مفاد بناء وو. هماغه امریکا ده هیڅ اقدام یې د چین پر وړاندې ونه کړو او نن بیا دواړو اړیکې ټینګې کړې دي، او د اویغور د مسلمانانو هیڅ غم ورسره نشته.

د امریکا فعلي ولسمشر جوبایډن هم چیغې وهلې چې د اویغور په هکله مې د چین خلاف تړون لا سلیک کړو:

Today, I signed the bipartisan Uyghur Forced Labor Prevention Act. The United States will continue to use every tool at our disposal to ensure supply chains are free from the use of forced labor — including from Xinjiang and other parts of China.

https://t.co/kd4fk2CvmJ

ژباړه: نن ما د اویغور د جبري کار د مخنیوي قانون لاسلیک کړ. متحده ایالات به زموږ په اختیار کې د هرې وسیلې کارولو ته دوام ورکړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې اکمالاتي ځنځیرونه د جبري کار کارولو څخه پاک دي - پشمول د سینکیانګ او د چین نورو برخو څخه.

خو لږ موده وروسته بیرته چین سره جوړ شو. د مخنیوي قانون هیڅ نوعه فایده ایغوریانو ته ورنه کړه بلکې هسې د کیمرو پرمخ د یو کاغذ لاسلیک کولو په نتیجه کې سیاسي مفادو ته رسیدل و. تاسې د امریکا ولسمشر دا ټویټ وګورئ:

ژباړه: نن مې د چین د ولسي جمهوریت له ولسمشر شي جین پینګ سره وکتل. موږ د خپل مسؤلیت په اړه بحث وکړ چې زموږ د هیوادونو تر منځ د سیالۍ مخه ونیسو او د ګډو ننګونو په اړه چې نړیواله ټولنه اغیزه کوي د ګډ کار کولو لارې چارې لټوو.

د امریکایي چارواکو دا عبارات مو ځکه ذکر کړل چې لوستونکو ته د امریکا دوه مخې پالیسي معلومه شي، د حقوق بشر او ملګرو ملتونو دوه مخیتوب واضحه شي چې دوی د خپل سیاسي مفادو پرته هیڅ کله د مسلمان په اړه غږ نه پورته کوي. نو د اویغور مسلمانانو په اړه د امریکا دریځ باید مونږ تاسې ټولو ته روښانه وي چې هغوی زمونږ د اسلامي وجود زخمي ټوټې شرقي ترکستان له غمه ندي مړه.

او هر چې روس دی نو هغه په اړه خو مخکې وویل شول چې چین د روسیه په مرسته او ملاتړ شرقي ترکستان اشغال کړ، نو هغه نه به څنګه د اویغور د مسلمانانو د حمایت تمه وشي، کافر کله د مسلمان مرسته او ملاتړ کوي ، مګر د مرتدینو کوي چې تاسې یې عملي د طالب په جامه کې ګورئ چې د ټولو کفارو له مرستو او ملاتړ څخه برخمن دي.

د امریکا په څیر د ملګرو ملتونو پنځوس غړو هیوادونو یوه مشترکه اعلامیه تصویب کړې وه ، چې د کاناډا لخوا د ملګرو ملتونو غړو هیوادونو ته د عمومي اسمبلۍ د دریمې کمیټې په غونډه کې د اکتوبر په 31 مه وړاندې شوې وه، په اعلامیه کې د چین له حکومت څخه غوښتنه شوې چې د اګست د 31 مې نېټې د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د دفتر د رپوټ سپارښتنې عملي کړي.

په هغه رپوټ کې سپارښتنه شوې چې «په سینکیانګ کې د ټولو هغو کسانو د خوشې کولو لپاره ګړندي ګامونه واخیستل شي، کوم چې د دوی له ازادۍ څخه بې برخې شوي دي، او په سمدستي توګه دې هغه ورکړو شویو کورنیو د غړو ځایونه وښودل شي او د کورنو سره دې د خوندي تماس او بیا یوځای کیدو اسانتیاوې ورکړل شي.»

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د څانګې مشرې میشل بچلېټ چې د اګست په میاشت کې د ځنډ ښکار رپورټ خور کړی وو، چې پکې د پلټنو د مخه په چین کې د لږکیو ډلو بشري حقونه پایمال کړل شوي. دغه رپورټ څرګنده کړی وه ” د ویغورو او نورو مسلمانانو ډلو د یو اړخیز او انتقامي کاروایي په



ترڅ کې نیول او بندي کولو کچه ښایي چې د دغه خلکو بنیادي انساني حقونه پایمال کیږي او دا امکان لري چې د نړیوالو جرمونو سره ، سره په خصوصي توګه د بشري حقونو خلاف یو جرم وګرځول شي“.

د بشري حقونو دنړیوالو تنظیمونو د رپورټونو تر مخه چین د 15 لکه څخه زیات مسلمانان تش د مذهب او کلتور پلوي کولو پر سر په بندي خانو کې ایسار کړي او بیا ددوی څخه جبري مشقت اخیستو تر څنګ د دوی سره جنسي تیری هم تر سره کیږي.

خو چین دغه رپورټونه ردوي او وایي دا ودانۍ چې ویغور مسلمانان پکې ساتل کیږي بندي خانې نه دي بلکې دې خلکو ته د کار هنر د طریقو زده کولو مرکزونه جوړ کړل شوي دي چې د مذهبي تندلارۍ او ترهګرۍ مخه پرې ونیسي.

عزتمندو ورونو! د شرقي ترکستان میلیونونو مظلومو مسلمانانو په اړه نړیوال سازمانونه فقط په همدې باندې خپله ذمه فارغه ګڼي چې یوازې یوه اعلامیه نشر کړي!! نور د حقوق بشر دغه کاذبو دعویدارو څخه دې مسلمانانو ته هیڅ نوعه خیر نه دی رسیدلی. د دوی دغه مغرضو څرګندونو څخه دوه اساسي اهداف کیدای شي:

اول: په چین باندې سیاسي فشار راوستل او پدې عذر د چین د بعضې اقتصادي پروژو مخنیوی کول.

